


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب :: د کندهار پاڅون او د ایران صفوي دولت ړنګېدل

لیکوال :: اکاډمیسین محمد اعظم سیستانی

ژباړن :: صالح محمد صالح

خپرندوی :: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه- جرمني

چاپکال :: ۱۳۸۴ل/ ۲۰۰۵م کال

چاپشمېر :: (۱۰۰۰) ټوکه

د خپرونو لړ) :: ۷٦(

کمپوز/ ډیزاین :: د هوسۍ مجلې اداره

چاپځی :: د دانش خپرندویې ټولنه

Tel:91-2564513 Email:-danish2k2000@yahoo.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړنۍ خبرې

اکاډمیسین کاندید ښاغلی محمد اعظم سیستانی د افغانستان له هغو لیکوالو او مورخینو څخه دی، چې د هېواد د تاریخ پر بېلابېلو څېړکو یې یو شمېر مهم او ارزښتناك آثار کښلي او خپاره کړي دي، په تېره بیا په وروستیو دوو لسزو کې د هغه تاریخي آثار، لیکنې او مقالې د پوره پاملرنې وړ دي .

په داسې حال کې، چې ښاغلی کاندید اکاډمیسین سیستانی له خپل هېواد څخه ډېر لیرې په سویډن کې د پردېسۍ شپې ورځې تېروي او ښايي ډېرو هغو ماخذونو او منابعو ته یې لاس ونه رسېږي، چې د وطن د تاریخ د تورتمو اړخونو د روښانولو لپاره ورته اړتیا لري، خو بیا یې هم په همدغو حالاتو او امکاناتو کې یو لړ مهم تاریخي آثار لیکلي او خپاره کړي دي، چې بې له شکه زموږ د هېواد د تاريخي څېړنو په بهیر کې خپل ځانګړی ارزښت لري .

�رستاخیز قندهار� او پښتو ژباړه یې �د کندهار پاڅون� د ښاغلي استاد سیستاني هغه اثر دی، چې د افغان- هوتکي پاڅون پر پيلامې، د لومړني افغاني خپلواك دولت پر بنسټ، د میرویس نیکه په مشرتوب او واکمنۍ او بیا د افغانانو له لوري د اصفهان د نیونې او د ایران د صفوي دولت په نسکورېدنې او په پای کې ددغه حرکت پر ماتې یې په تفصیل سره خبرې کړې دي .

د هوتکي دورې په اړه د منابعو د کموالي له کبله پر دغه دوره ډېر لږ دقيق آثار کښل شوي دي. د استاد سیستاني �د کندهار پاڅون� د دغې لړۍ داسې یو تاریخي اثر دی، چې د دې پاڅون پر بېلابېلو اړخونو یې ډېر مهم اسناد راټول کړي او د یوه مستند اثر په توګه به د دې دورې په اړه د ارزښتناکو آثارو په لړ کې خپل ځای پیدا کړي .

د خوښۍ ځای دی، چې دغه پښتو ژباړه د هوتکي- افغاني پاڅون د پیلامې د درې سومې کالیزې د جشن په ویاړ خپرېږي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه

جرمني، د کولن ښار

د ۲۰۰۵ ز کال د مارچ لسمه

د ۱۳۸۳ل کال د کب (حوت) شلمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال سریزه

د هر نسل یوه ضروري دنده دا ده چې د نویو موندنو په مرسته د خپل هېواد تاریخ بیا- بیا ولیکي. د تاریخي، لرغونپوهنې، لیکلو شواهدو او عیني شاهدانو د روایتونو له مخې دې نوي ټکي په خپل هېوادني تاریخ کې زیات- دغه راز دې اضافي ټکي ورڅخه لیرې کړي .

د هېواد یو تاریخي پړاو، چې د قومي او مذهبي تعصب دوړې پرې پرتې دي، یو هم د صفوي استبدادي واکمنۍ پرضد د کندهار د ځورېدلو او کړېدلو خلکو د پاڅون پړاو دی. د صفوي واکمنۍ پر مهال، شیعه مذهب د دولت رسمي مذهب و، چې تر ټولو توند سیاسي او مذهبي استبداد او پراخې ټولوژنې ورسره ملې وې. ناشیعه قومي او مذهبي ډلې به له سپکاوي، ګواښ، ځور آن ټولوژنې سره مخ وې، د توند چلند، شکنجې او وژونکو چلندونو له کبله به دېته اړ ایستل کېدل چې له خپل مذهب څخه واوړي او شیعه مذهب دې ومني.

د ایران نامتو پوه ډاکټر شفا کاږي: �د دولتي مذهب په توګه د اثنی عشري شیعه مذهب دودېدل او د لومړنیو درېیو استازو (خلیفه ګانو) ښکنځل دومره زیات شول چې د صفویانو پر وخت یې له ګاونډیو سني مذهبو دولتونو (عثماني ترکیې او د منځنۍ اسیا خان مېشتو سیمو او افغانستان) سره یې د ایران اړیکي ډېر ترینګلي کړل .

تر لسمې هجري پېړۍ وروسته په ایران کې د شیعه ګانو تعصب ناکې تربګنۍ په سني مذهبو هېوادونو کې د دوی پرضد د خلکو کرکه راوپاروله چې همدې بهیر له منځنۍ اسیا او نورو سني مذهبو هېوادونو سره د ایران اړیکي غوڅ کړل او د هېواد په فکري او کلتوري ژوند کې یې ناوړه غبرګون راوپاراوه.�

ډاکټر شفا زیاتوي: �د شاه اسمعیل په دربار کې یوه ملا په خپل کتاب کې ولیکل: د یوه سني وژل دومره ثواب لري لکه د پنځو پوځي کافرانو وژل، له سني سره نکاح نه ده روا. وینه یې بې ارزښته، مال یې حلال دی. دا واجب ده چې د سني امیندارو ښځو خېټې وخیرې او نارینه اولاد یې په چړو ووژنې. د سنیانو پلورنه- پېرودنه روا ده، ځکه چې له اسلامي ازادۍ څخه بهر دي. سني فقهیانو هم په اسلامي تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د شیعه ګانو، ان ساداتو غلامول او پلورل روان وبلل�. (پس از هزار و چهار صد سال، د ۲۰۰۳م کال چاپ، مخ: ۷۲٦).

د صفوي لړۍ موسس شاه اسمعیل صفوي خپله پاچایي د شل زره سنیانو په وژلو سره پیل کړه، کله چې مشهد ته روان شو، قزلباشانو یې په طبسین کې د اته زره کسانو پر ستوني چاړه راتېره کړه، چې د پاچا د وینې تویولو تنده ماته شي .

شاه عباس تر هرڅه وړاندې خپل دوه وراره ګان له خپل یوه وراره او اکا سره یوځای ړانده کړل، بیا یې خپله دوه زامن (محمد میرزا او اماقلي میرزا) ړانده او درېیم زوی (صفي میرزا) ولیعهد یې هم په ډېر بد حالت ووژاه. درېیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی چې د ړندېدو طاقت يې نه درلود، ځانوژنه وکړه. په دې توګه د شاه عباس يو زوی هم پاتې نه شو. نو د دې لړۍ تر ټولو عادل پاچا چې له خپلو نژدې کسانو سره داسې وکړي، د نورو په وړاندې يې هم دريغ څرګند دی.!

صفي ميرزا د لومړي شاه عباس ځايناستي هم په بېرحمۍ کې له خپل نيکه شاه اسعميل سره ورته والی درلود. هغه د خپلې پاچايۍ په ١٤ کلونو کې په پرله پسې ډول خلک ووژل او دا وژنې يې له خپلو خپلوانو راپيل کړې، خپله مېرمن او مور يې هم ووژلې، يوه شپه يې د نشې پر مهال خپل تې رودونکی ماشوم هم اور ته غوځار کړ. (شفا: هماغه اثر، دويم ټوک، ٧٤٢، ٧٤٣ او ٧٤٩ مخونه).

د دويم شاه عباس زوی صفي ميرزا چې کله د شاهۍ تاج پر سر کړ، ځان يې شاه سليمان ونوماوه، د ځايناستۍ له هماغه پيل څخه يې د دربار زيات خانان او مخور اشخاص تر تېغ تېر کړل، په شراب څښلو کې دومره مشهور شو، چې �شارډن� يې په باب په خپل يونليک کې وليکل :

�څوک په شراب څښلو کې د دې پاچا پر زغم باور نه شي کولای. زه باور لرم چې په ټول سويس او المان کې څوک په دې برخه کې ورسره سيالي نه شي کولای، حال دا چې د دې هېوادونو خلک ډېر شراب څښي�. (شفا: هماغه اثر، دويم ټوک، ٧٥١مخ).

د شاه سليمان زوی شاه سلطان حسين چې څو زره حديثونه يې په زړه کړي او لړوکارونو ته به يې له ښېګڼې پرته تصميم نيوه، تر شپږ کلنې واکنۍ وروسته زهد او تقوا ته شا کړه او ډېر سخت شراب څښونکی شوی. له خپل حرمسرای سره يې هم ژوره مينه پيدا کړه �خواجه سرايان به يې د جُلفا په کوڅو کې ګرځېدل. که به يې کومه ښايسته پېغله يا ښځه وليده، تښتوله به يې او پاچا ته به يې راوستله. دا پرهېزګار پاچا تر هر څه زيات د خپل حرمسرای په چارو بوخت و. د ايالتونو امران او مشران به د يو بل په سيالۍ کې، د دې لپاره چې له ښځو سره د پاچا مينه ماته کړي،د خپلې سيمې تر ټولو ښايستې نجونې په زوره د پاچا حرمسرای ته بېولې� (شفا: هماغه ټوک، ٧٥٥مخ)..

کروسينسکي ليکي: �د شاه سلطان حسين پرمهال په حرمسرای کې تر يوې مياشتې وروسته ٣٠ زانګوګانې جوړې شوې. که ځينې شهزادګان په وړکتوب کې له منځه نه وای وړل شوي، شمېر به يې تر دې بره خوت� (سقوط اصفهان بروايت کروسينسکي، ٧٦مخ).

د کروسينسکي مطلب دا دی چې هر کال به د پاچا په حرم کې ٣٦٠ شهزادګان زېږېدل او که په ماشومتوب کې نه وژل کېدای، ښايي شمېر به يې زرګونو ته رسېدای .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې پېر کې د شیعه روحانیت مذهبي تربګنۍ (تعصبونه) دومره ډېر شول، چې د ایران په زیاتو اړوندو ایالتونو کې نورو مذهبي لړکیو په پاڅون لاس پورې کړ. په ۱۱۲۳ کال د داغستان لړکیو او په ۱۱۲۷ سني کردانو په یوه ستر پاڅون لاس پورې کړ، چې څو کاله یې دوام وکړ .

په ۱۱۳۵ کال د قفقاز ارمنیانو هم بغاوت وکړ، په همدې کال د ختیز ګرجستان خلکو هم په پاڅون لاس پورې کړ، په ۱۱۳۳ لُرانو او په ۱۱۳٤ کال د مسقط بلوڅانو او عربانو هم پاڅون وکړ. (شفا: هماغه ټوک، ۷۵۸مخ).

په همدې کال (۱۱۳٤) په شېروان کې د سني ډلې پلویان راوپارېدل، دې خلکو د حاجي داود مدرس په مشرۍ پر شماخي او کرسي شېروان برید وکړ، چې په دې پېښه کې یې ٤- ٥ زره شیعه ګان تر تېغ تېر کړل، چې د عثماني ترکیې په پلوي یې شعارونه ورکول. (لکهارت: انقراض سلسله صفویه، د عماد ژباړه، ۱٤٦مخ).

ملک محمود سیستاني په ۱۱۳۵ د صفوي دولت پلوي پرېښوده، په خراسان کې یې مشهد او نیشاپور ونیول او خپله خپلواکي یې اعلان کړه. په مشهد کې یې د کیانانو له دود سره سم تاج پر سر کړ او ځان یې د خراسان پاچا ونوماوه. په کرمان کې د میرزا داود لمسي سید احمد خان سر رااوچت کړ، په بلوڅستان او بندرونو کې بیا سلطان محمد (مشهور په خرسوار) ته ډګر تش و. (جي. پي. تیت، سیستان: لومړی ټوک، ۱۵۲مخ).

د افغانستان په ځینو نیول شویو سیمو کې د ۱٦مې پېړۍ تر لومړنیو کلونو وروسته هرات، کندهار او سیستان ته صفوي ډاډمن والیان او مشران د اصفهان له دربار څخه وټاکل شول. هر والي له ځان سره له لسو تر شل زره کسیز لښکر درلود، چې له پردیو ټاټوبو راغلي وو. یوازې یې د خپلو جیبونو ډکولو غم درلود، چې له کروندګرو او مالدارو څخه به یې مالونه اخیستل. ځمکوال او شتمن خلک اړ وو، چې هر ځل والي، پوځي مشرانو، مستوفي او قاضي ته د ډالۍ او سوغات په نوم رشوتونه ورکړي، کنه ورباندې په غوسه کېدل، ځمکې او مالونه به یې ترې اخیستل کېدل، د سلطان ځمکه (خالصه به شمېرل کېده) دوی به هم اړ وو چې یا په زندان کې وخت تېر کړي، یا هم مرګ ته غاړه کښېږدي .

د اداري چارو بېنظمي او پاشلتیا، د یو بل په وړاندې د درباریانو توطیې او اختلافونه، د صفوي مشرانو رشوت اخیستل او ستم، دغه راز په هېواد کې د شته قانون نه رعایتول، د هغو ډلو مذهبي او سیمه ییز تعصبونه چې شیعه ګان به نه وو، د خلکو شکایتونو ته د چا غوږ نه نیول، د درنو مالیاتو اخیستل، ځورونې، د سلطان حسین صفوي پر مهال د نویو نیمګړتیاوو ترمنځ د ټولنې مخور کسان دېته وهڅول چې حل لار ولټوي. د ځان پر ملي او سیمه ییزې خپلواکۍ سوچ وکړي، دغه راز په وړ وخت کې له وړ شرایطو وړ ګټه واخلي .

له همدغسې شرایطو څخه په ګټه اخیستو په کندهار کې پښتنو غلجیو (غرزیو) د میرویس خان تر مشرۍ لاندې یو خپلواک دولت جوړ کړ. وروسته د هرات ابدالیانو له صفوي مشرانو څخه هرات او فراه ونیول، چې په ۱۱۲٦-۱۷۱٦م کال کې یې خپله خپلواکي اعلان کړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو ولایتونو د پیاوړتیا لپاره د دولت هڅو صفوي دولت ماتې ته برابر کړ. د کندهار خلکو چې له وړاندې یې د خپلواکۍ خوند څکلی و، د میرویس زوی، شاه محمود تر جلوس وروسته پر ایران باندې له ناسمو واکمنو شرایطو په استفادې سره د خپلې واکمنۍ په سوچ کې شو. دا مهال صفوي دولت ډېر بې کفایته و. شاه محمود د ایران تر زړه (اصفهان) پورې وړاندې لاړ او پخوانی دولت یې ړنګ کړ، چې شرحه یې د لیکلو اسنادو او سرچینو په رڼا کې دلته لولو .

لیکوال هیله لري چې د دې اثر په لیکلو سره، د میرویس نیکه په مشرۍ د کندهار د خلاصون لپاره د ملي او ژغورونکو پاڅونونو په ۳۰۰مه کالیزه کې یې ونډه اخیستې وي، په دې توګه یې خپله ملي دنده ترسره کړې وي.

کاندید اکاډمیسین سیستانی

ګوتنبورک، د جون ١٤مه، ۲۰۰۵م کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## په اتلسمه پېړۍ کې د ایران صفوي دولت پرضد د کندهاریانو پاڅونونه

پر افغانستان د ګاونډیو واکمني :

د شپاړسمې میلادي پېړۍ له پیله، چې تر افغانستان دننه او بهر څه پېښې وشوې، ټولې زموږ د هېواد په زیان او د ګاونډیانو د نویو راټوکېدلو ځواکونو په ګټه وې. په بله وینا، د سلطان حسین بایقرا (۱۵۰٦) تر مړینې وروسته هېواد خپل مرکزیت او اداري ځواک له لاسه ورکړ، څکه د سلطان حسین ځایناستي (بدیع الزمان او مظفر حسین میرزا) چې له بېلابېلو میندو او په سیالۍ کې وو، ونه شول کړای چې د هرات د تېموریانو په سیمه کې خپله واکمني ټینګه وساتي. دا سیالۍ دومره ډېرې شوې، چې د دواړو وروڼو په نوم سکې وهل کېدې، مالیاتو به هم په دواړو پورې اړه لرله. خطبه د دواړو په نوم لوستل کېده، په دې توګه په یوه هېواد کې دوه واکمنان، دوه صدارت او دوه وزارته جوړ شول .

دواړه وروڼه په دې هڅه کې وو چې د ډالۍ او سوغات په مرسته پوځي مشران او سیمه ییز فیوډالان پرځان راټول او په دې توګه په خلکو کې خپل باور زیات کړي. پر دې مهال بهرني دښمن (د ازبکو شیباني دولت) د امو سیند له ها غاړې یرغل راوړ، چې بلخ او مروچاق ښارونه یې ونیول .

په ۱۵۰۰کال په ماورالنهر کې شیباني دولت او په ۱۵۰۲ کال په ایران کې صفوي دولت راوټوکېد، چې په ۱۵۲۵ کې بیا په هندوستان کې بابري (ګورګاني) دولت تاسیس شو. دغو نویو دولتونو د افغانستان له شمال، لوېدیځ او ختیځ څخه په یرغل لاس پورې کړ، چې اخر یې هېواد په درېیو برخو (شمالي، لوېدیز او ختیز) ووېشه. یانې په ۱۵۱۰ کلونو کې د ایران صفوي دولت پر هرات او سیستان، په ۱۵۲۰، ۱۵٤٤، ۱٦۲۱ او ۱٦٤۲ او په غوڅ ډول په ۱٦٤۸ کلونو کې پر کندهار منګولې ښخې کړې. د هند بابري دولت په ۱۵۰۳ پر کابل او په ۱۵۰۵ پر غزني او په ۱۵۲۱ یې د هرات د والي سام میرزا صفوي له کلابندۍ څخه وژغوره او په خپله ولکه کې یې راوست .

بابر په ۱۵۰۸ کال ننګرهار، وروسته بدخشان له زبیر راعي څخه ونیول. وروسته تر دې چې په ۱۵۰۰م کال د ازبک شیباني دولت په سرقند کې د تېمور او اوسني پاتې شوني پوځونه راوپرځول او د ماورالنهر د کورګاني دولت پرځای یې خپل نوی دولت رامنځته کړ، په ۱۵۰٦م کال له امو څخه واوښت او بلخ یې ونیو. هرات یې وګواښه، یو کال وروسته (۱۵۰۷) محمد خان شیباني (شیبک خان) له یوه سمبال پوځ سره یوځای تر امو سیند واوښت، په مرغاب کې یې د تېموري شهزادګانو مقاومت پر شا وتمباوه او هرات یې ونیو(۱)

په دې توګه د پردیو واکني له ۱۵۰٦م کال وروسته تر ۱۷۰۹-۱۷۱٦ پورې په لوېدیزو او جنوب لوېدیزو، دغه راز تر ۱۷٤۷ په ختیزو او شمالي ولایتونو کې څه له پاسه دوه نیمې پېړۍ روانه وه. په دې دوره کې (د هند له ځینو برابري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهانو پرته) د هېواد بيارغونې لپاره نه کوم ښار، نه کلی او نه هم کارېز او بند جوړ شو. هغه ځه چې له پخوا پاتې وو، د وخت په تېرېدو سره له منځه لاړل، ځکه مشرانو او د پرديو گوډاگيانو تر افغانستان دباندې مشهور ودان مرکزونه لکه: ډيلی، اصفهان او بخارا په واک کې لرل. د افغانستان اقتصادي او کلتوري وده يې دومره ارزښتمنه نه گڼله، دنده يې دا وه چې پر خلکو واکمني وکړي، ملاماتوونکي ماليات واخلي او هر ډول خپلواکۍ پلوی پاځون وځپي.

په دې پېر کې درېگونو مشرانو او سرتېرو په کلاگانو کې ژوند کاوه. پوځونه به يې په ښارونو کې اوسېدل. سمسور ځړځايونه يې د ځارويو رمو او اسونو، دغه راز يې شنه باغونه د ساعتېرۍ ځايونه وو. دغو سرتېرو او مشرانو په افغانستان کې دننه خلاص لاس درلود، هر ډول يې چې غوښتل مشري يې کولای شوای، خلک او کروندگر اړ وو چې واکمنان او د دوی پوځيان ماړه کړي او لگښتونه يې ورکړي. هېڅا هم نه شوای کولای چې د بېلابېلو مالياتو، ستونزو، کړاوونو او وزگاريو په وړاندې خپل ږغ اوچت کړي، ځکه قانون او مرافعه مقام نه و، چې څوک شکايت ورته وکړي .

په افغانستان کې له درېگونو يرغلگرو ځواکونو څخه ازبکي دولت څه ناڅه ساده او کم لگښته و. عمومي واکمن او سپاهي په بلخ کې اوسېدل، نورو مشرانو به يې په شمالي برخو کې له خلکو ماليات اخيستل، د ماورالنهر دولت ته به يې باج ورکاوه، چې يوازې يې په نوم بسنه کوله. د دوی نظامي او قضايي تشکيلات دغه راز مالي چارې ساده، دفتري چارې به يې هم لږې او لومړنۍ وې. په احکامو او حقوقي چارو پورې نور اړوند اجراآت يې شفاهي او يوازې يې د پاچا او عمومي واکمن په دوو شونډو پورې اړه لرله. حکومتي مامورانو کوم معاش نه درلود، ماليات به هم د واکمنانو په خوښه له خلکو اخيستل کېدل .

خو په افغانستان کې د هند بابري دولت اداره د ايران او ماورالنهر دولتونو په پرتله يو څه پراختيا درلوده. په افغانستان کې يې تر واک لاندې سيمې بدخشان، کندهار، کابل او بلخ وې. دا تلپاتې تشکيل نه و، ځکه بلخ ډېر ژر د ازبکي حکومت لاسته ورغی او وروسته بيا بدخشان خپله سيمه ييزه خپلواکي تامين کړه، چې کندهار هم د هرات صفوي دولت له خوا ونيول شو، يوازې کابل د اتلمسې پېړۍ تر نيمايي پورې د هند د بابري دولت په واک کې و.(۲)

ارواښاد علامه حبيبي د عبدالحميد لاهوري له خولې ليکي چې د شاه جهان په پېر (عصر) کې (د اوولسمې پېړۍ نيمايي) د بابر له تر واک لاندې ۲۲ ولايتونو څخه څلور يې: کابل، کندهار، بلخ او بدخشان په افغانستان کې وو، چې له کابل څخه ۱٦کروړ دام، کندهار څخه ٦ کروړ دام، بلخ ۸ کروړ دام او بدخشان څخه ٤ کروړ دامه (هر پنځه دامه له دوو انو سره مساوي وه) عايد لاسته راته.(۳)

په افغانستان کې د ازبک او هند- ايران دولتونو د واکمنيو ترمنځ ستر توپير دا و، چې ازبکانو په افغانستان پورې زړه وتاړه. ورو- ورو د واکمنۍ له حالت څخه راووتل او د کډوالۍ يا تلپاتې مېشتېدنې په څېر يې په افغانستان کې ژوند غوره کړ. له سيمه ييزو خلکو سره يې بلدتيا ومونده، اخر له ماورالنهر څخه منفک او د افغان ملت يوه برخه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګرځېده. حال دا چې د ایران او هند دولتونو به د افغانستان هغه برخې چې په واک کې یې وې، له لیرې ځایه په خپل پوځي ځواك سره اداره کولې، خو ایراني دولت چې تر دوو غوړونو پورې په اداري بیروکراسۍ او مذهبي تعصب کې ډوب و، په افغانستان کې د خپلو تر واك لاندې ولایتونو د تامین لپاره پر خپلو قزلباش پوځونو ډېره تکیه کوله. دې دولت اټکل ۲۰ زره پوځونه په هرات او ۲۰ زره پوځونه په کندهار کې مېشت کړل. د ټولو لګښت د صفوي دولت تر واک لاندې خلکو پر غاړه و. د صفوي دولت سرتېرو او واکمنانو په خپل توند چلند، مذهبي تعصب او استبداد افغانان ځپل، چې د ماوراالنهر د دولت په پرتله دلته د خلکو له ډېرې کرکې سره مخ شول.(٤)

## په صفوي پېر کې د مذهبي فاشیزم سیاست:

د صفوي واکمنۍ په پېر کې (شیعه) مذهب د دولت د رسمي مذهب په توګه له توند سیاسي او مذهبي استبداد، دغه راز پراخو ټولوژنو سره مل و. ناشیعه قومي او مذهبي ډلې به سپکېدې، ځورول کېدې، ان چې په ډلییزه توګه وژل کېدې. په جبر او زور دېته اړ ایستل کېدې چې له خپل مذهب څخه واوړي او شیعه مذهب ومني .

د صفوي شاهانو رسمي او مذهبي سیاست، په ټوله مانا یو مذهبي فاشیستي سیاست و، چې د رسمي مذهب تر څنګ یې د نورو مذهبي ډلو زغم نه درلود .

په هر ډول، د تعصب پاروونکي چلند د مخنیوي لپاره مو د ځینو ایراني پوهانو او نظر خاوندانو ځینې رایې هم رااخیستي دي. که څه هم دوی په شیعه مذهب پورې اړه لري، خو د ناپېیلو پوهانو او روڼاندو په توګه یې یوازې رښتیا لیکلي چې خلک او ایراني نسلونه د خپل هېواد د تاریخ له حقیقت څخه په ښه توګه خبر کړي .

ځینو ایراني پوهانو د صفوي رژیم د مذهبي استبداد یا فاشیزم په باب هېښوونکي مطالب لیکلي، چې ډېر وېروونکي هم دي، چې کولای شو په دې برخه کې د ډاکټر شجاع الدین شفا، ډاکټر علي شریعتي، ډاکټر علي میر فطروس، سعیدي سیرجاني، عیسی صدیق او میرزا اقاخان کرماني یا ځینو نورو نومونه یاد کړو. د ټولو مخکښ ډاکټر شفا دی، چې په دې وروستیو کې یې د توحیدي دینونو او د شیعه مذهب پر مسایلو ډېر ارزښتمن کتابونه لیکلي دي. په دې منځ کې یې یو کتاب (توضیح المسایل)، (د زرکلنو پوښتنو ځوابونه) دی، بل یې (تولدی دیگر) دی او بل یې (پس از هزار و چهارصد سال) دی، چې د معتبرو اسلامي متونو د مطالعې او شننې پایله ده، ډېر مستند او ګټور اثار دي، نوموړی د خپل لومړني کتاب په سریزه کې لیکي :

�صفوي دوران، د ایران په تاریخ کې د بنسټیز بدلون دوران و، هغه دوران و، چې ایران په کې تر شاهنشاي سقوط زر کاله وروسته یو ځل بیا ملي یووالی او جغرافیایي یووالی وموند او یوځل بیا له سیاسي او ټولنیزې بشپړتیا څخه برخمن شو. په دې پېر کې د یوه داسې ایران بنسټ کېښېښودل شو، چې لا یې ملي واکمني او جغرافیایي پولې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېژندل شوي، چې د هغه دوران قدرداني کوي. خو دا د کار يو اړخ و، په اصطلاح د سکې يو مخ و، د سکې بل مخ دا چې په همدې وخت کې د دين د دکاندارانو څوسوه کلنه سودا له لومړني دکان څخه وايستل شوه او د يوه نوي (سوپر مارکېټ) بڼه يې غوره کړه، چې دا ځل په خپله حکومت هم په کې پانګونه کړې وه�.(٥)

د کتاب په بله برخه کې وايي :

�د شيعه سرليک په ځانګړې توګه د بهرنيانو تر پاڅون وروسته هغو کسانوته کارېده چې علي او د هغه پلويانو ته وفادار پاتې شوي، يا يې د علي په کورنۍ کې د امامت دوام ته عقيده لرله. تر هغه مهال وروسته ايران د شيعه مذهب په مورچل بدل شو او شيعه توب د انقلابي، مباز او راپارېدونکي غورځنګ په څېر راڅوندی شو. د شيعه غورځنګونو شنونکي يادونه کوي، چې تشيع په خپلو لومړنيو پېړيو کې، د پلويانو له خوا د ظلم او فساد پرضد د هڅو ښکارندوی و او د هغو کسانو غوښتنې، دردونه او سرکښۍ ګڼل کېدې چې د حق او عدالت هيله يې لرله. داسې يو مورچل و، چې د بهرني يرغل، کورني اشرافيت، عمومي واکمنۍ او ايراني کارکوونکو د فشار او فساد پرضد، پر کليوالو باندې د ظلم، فکري اختناق، توکميز تعصب او د هغې واکمنې روحاني طبقې پرضد مبارزه وکړي، چې د واکمنانو په واک کې وې�.(٦)

�د دولتي مذهب په توګه د اثنی عشری شيعه مذهب دودول په ځانګړې توګه د لومړنيو درېيو خليفه ګانو ښکنځلو په صفوي پېر کې د ايران اړيکي له ګاونډيو سني مذهبه هېوادونو يانې: عثماني ترکيې، مرکزي اسيا (او افغانستان) سره ډېر خراب کړل. سني فقهيان د اسلام په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د غلامانو په توګه وکارول شول، ان په بازارونو کې يې د ساداتو پلورل هم روا ګڼل .

تر لسمې پېړۍ وروسته په ايران کې د شيعه ګانو له تعصبه ډک کارونه د دې لامل شول چې په نړۍ کې د سنيانو کرکه راوپارېږي، همدې کار د منځنۍ اسيا له هېوادونو او نورو سني مېشتو سيمو سره د ايران کلتوري اړيکي غوڅ کړل، چې د هېواد په کلتوري او فکري ژوند کې يې ناوړه انعکاس وکړ .�

ډاکټر شفا زياتوي: د شاه اسمعيل د دربار يوه ملا په خپل کتاب کې وليکل: �د يوه سني وژنه دومره ثواب لري لکه پنځه کافران چې ووژنې. له سني سره نکاح ناروا ده، ځکه شاهد يې ناسم او مال يې حلال دی. واجب ده چې د اميندوارې مېرمنې خېټه يې وڅيرې او نارينه اولاد يې په نيزه ووهې. د سنيانو پلورل او پېرودل روا دي، ځکه له اسلامي حريت څخه بهر دي�. (٧)

د همدې فتوا له مخې د شاه اسمعيل صفوي له لوري په تبرېز کې ډېرې وېروونکې عاموژنې وشوې .

د ډاکټر شفا په وينا: �لومړي شاه اسمعيل، خپله پاچايي د تبرېز د شلوزرو خلکو په وژنې سره پيل کړه، ځکه دا خلک حاضر نه شول چې په يوه ورځ پر خپلو مذهبي معتقداتو پښه کښېږدي او د اسلام لومړنيو درېيو استازو ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکنځل وکړي. په پایله کې شاه اسمعیل قزلباش دا ټول خلک یا په تبر نیمایي غوڅ کړل، یا یې نسونه وروڅیرل، په همدې تبرېز کې له قبرونو څخه د مړو هډوکي وایستل شول او د غلو او نورو بدلمنو د غوڅو کړل شویو سرونو تر څنګ یې وسوځل�. (۸)

په دې توګه (په عثماني ترکیه کې) سني ملایانو هم په ګډه فتوا ورکړه چې د شیعه طریقې ټول پلویان په ځانګړې توګه اثنی عشري له اووه څخه تر اویاکلنو پورې مهدورالدم او واجب القتل دي... سني پوهانو یو ګام نور هم وړاندې واخیست او فتوا یې ورکړه چې د هر شیعه وژل دومره ثواب لري، لکه اووه پوځي کافران چې ووژنې. د شیعه ګانو ښځې، پېغلې نجونې او واړه کوچنیان هم د سني فقهیانو په لارښوونه پر عثماني لښکروالو ووېشل شول. پر شیعه ګانو تور وتړل شو، چې د شپې شمې وژني چې د یو بل له ښځو سره زنا وکړي .

د دې وحشیانه مذهبي دښمنۍ یوه پایله دا شوه، وروسته تر هغه چې په تبرېز کې شل زره سنیان د شاه اسمعیل په فرمان ووژل شول، په عثماني ترکیه کې هم له اناتولي مېشتو څلوېښت زرو شیعه ګانو څخه د سلطان سلیم په امر د تاریخ په یوه وحشتناکه ټولوژنه کې سرونه غوڅ کړای شول، پر ځینو کسانو چې د شیعه توب شک کېده پر تندي یې په سرو او سپینو داغ ولګول شو.

په قسطنطنیه کې د اتریش د سفیر یوزف هامر په وینا: �دا د مذهبونو په تاریخ کې تر ټولو دردوونکې پېښه وه، چې د شپاړسمې پېړۍ له ټولوژنې پرته ورته بل ساری نه شو موندای�. (۹) شک لرم

دا د بشریت د تاریخ تر ټولو خونړۍ قصابیانې وې، چې د اسلام په پېروانو کې یې له مذهبي تعصب څخه سرچینه اخیسته.

ډاکټر شفا په (تولدی دیګر) نومي کتاب کې لیکي: �ټول صفوي پېر له پیله تر پایه پورې په وینه تویونه، بېرحمۍ، وروروژنه، فساد او ریاکارۍ تېر شو، چې ټول انساني او اخلاقي معیارونه یې تر پښو لاندې کړل... د شاه اسمعیل صفوي یوه انسان خوړونکي (قورچي) د یوه ازبک خان بدن چې سني و، په غاښونو وداړه او ویې خوړ. نورو کسانو د دې خان کوپړۍ راواخیسته چې شاه اسمعیل یې د شراب څښلو د پیالې په توګه وکاروي. د دې پاچا لمسي دویم شاه اسمعیل خپل شپږ واړه وروڼه (له ټولو کشر ورور- پرته چې شیدې رودونکی و) ووژل، په یوه ورځ یې له ۵۰۰ تنو صفویانو څخه سرونه غوڅ کړل. لومړي شاه عباس یې پلار تر مرګه پورې په بند کې وساته او له خپل مشر زوی څخه یې سر جلا کړ. دغه راز یې دوه نور زامن ړانده کړل، د ده ځایناستي شاه صفي د صفوي کورنۍ تر ټولو وینو څښونکی شاه و، چې خپله مور، ښځه ان شیدې رودونکي ماشومان او ړوند اکا ووژل، چې د کورنۍ په لسګونو نور خپلوان یې ورړانده کړل. ټولو صفوي شاهانو (له وروستي پرته) په شراب څښلو کې دومره زیاتی وکړ، چې څلورو تنو یې د زیات شراب څښلو له کبله خپل ژوند له لاسه ورکړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې به شاه عباس د (کلب علي) په توګه د تبرک لپاره له اصفهان څخه مشهد ته پلی مزل کاوه او هلته د امام رضا زيارت او درناوي ته ته، په هر منزل کې به ورته د نڅا، سندرو او شرابو امکانات برابرېدل، لکه څنګه چې شارډن په خپل يونليك کې ليکي، په سلګونو بدلمنې به يې د پوځ ملګرې وې. د يوه بل ګرځندوی توماس هربرټ په وينا، د شاه حضور ته تر ټولو ستره او ښه ډالۍ غوره شراب او يا ښکلې پېغلې وې .

همدې لوی مرشد د فارس واکمن ته په خپل لاس د قرآن شريف پر پوښ يو ليك وليکه چې د شيخ بهايي په لاس يې ورولېږه، خو دوې ورځې وروسته يې د دې واکمن د وژلو حکم ورکړ).۱۰(

افغان پوه عبدالباري جهاني د صفوي شاهانو د اخلاقي کمزوريو په باب د يوه اروپايي ليکوال او ګرځندوی (دن کارسيا) د سترګو ليدلی حال ليکي :

�کله چې به شاه عباس سفر کاوه نو د پايکوبۍ، نڅا او شراب څښلو محفلونه به يې جوړول. کله به يې فرمان ورکاوه چې جارچيان دې په ښار کې وګرځي او خلك دې خبر کړي چې مسلمانان، مسيحيان او نور دې خپلې ښځې او پېغلې لوڼې پلاني بازار ته راولي، د هرې دروازې مخې ته به څو تنه ګمارل شوي کسان ولاړ وو چې ښايسته ښځې او پېغلې وټاکي او تر بازار پورې يې بدرګه کړي. د کاندارانو او سوداګرو به په خپلو دکانونو کې رنګارنګ شيان سره اوډل، بيا به يې خپلې پېغلې لوڼې او خويندې د دکاندارۍ لپاره کښېنولې او دوی به بهر وتل. هېڅ نارينه اجازه نه درلوده چې دغو بازارونو ته ورنژدې شي، په دې وخت کې به شاه له خپلو سرای ساتونکو سره بازار ته دننه کېده، د ښار دروازې به تړل کېدې، شاه به له خواجه سرايانو سره د هغو نجونو او ښځو پر شا و خوا راڅرخېده، سبا ته به يې څو ښايسته نجونې له ځان سره شاهي حرمسرای ته بېولې. د ښار دروازې به خلاصې شوې او خلکو به خپلې پاتې لوڼې او مېرمنې کورونو ته بېولې).�۱۱(

د صفوي شاهانو د مذهبي جنايتونو په لړ کې د ايران يو بل روښاندي سعيدي سيرجاني په خپل (ای کوته آستينان) نومي کتاب کې کاږي: �لومړي شاه اسمعيل به په جګړو او عاموژنو کې چې د شيعه مذهب د خپراوي لپاره وې، نژدې دوه سوه پنځوس زره کسان ووژل).�۱۲(

سيرجاني زياتوي: �شاه اسمعيل هغه څوك و، چې د لاس په يوه حرکت سره به يې د خزان وهلو پاڼو په څېر د زرګونو بېګناه انسانانو سرونه غوڅول، يو بېرحمه واکمن و، چې ظالم قزلباشان يې د اسلام د غازيانو په توګه يادېدل. �په طبس نومي ښار کې يې دومره عاموژنه وکړه، چې شمېره يې اوو- اتو زرو کسانو ته ورسېده، د دې ښار اوسېدونکي سنيان وو، چې ووژل شول. په دې توګه د هغه شاه د قهر اور سوړ شو او پر خراسان يې يرغل ونه کړ.�

پر دې سربېره �ژوندي کبابول، د دښمن د بدن غوښه خوړل، پوستول، په دېګ کې ايشول، تورن کس له لوړ ځای څخه لاندې غورځول او په غاړې پورې يې د لوېې ډبرې تړل، دا هرڅه د لومړي شاه اسمعيل له کارونو څخه دي).�۱۳(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدي �کامل مرشد� په دوران کې د (ال علي دښمنانو) ته نور مجازات هم په پام کې ونيول شول، چې ټولو ځايناستو يې ادامه پسې ورکړه. لکه: ګچ نيول، د بدن د غړو ټوټه- ټوټه کول، ژوندي پوستول، په سترګه کې سيخ منډل، غوږونه او پزه پرې کول، په ستوني کې سره شوي سرپ اچول، کبابول، په سرو کړو غوږيو کې اچول، د ګولۍ پر ځای د توپ په خولې پورې تړل).�۱۴(

په (احسن التواريخ) کې لولو: �په ۹۱٦ق_ ۱۵۱۰م کال لومړي شاه اسمعيل د �مرو� په سيمه کې د شيبك خان ازبك (محمد خان شيباني) په وړاندې وجنګېد، چې شيبك خان ناځاپه ووژل شو، کله چې د شاه اسمعيل ورپام شو، ورغی او پر مړه جسد يې د توري څو ګوزارونه وکړل، بيا يې پر خپلو پلويانو ورږغ کړل: که چېرې زه درباندې ګران يم، زما د دښمن (شيبك) غوښه وخورئ .

خواجه محمود ساغرچي، چې په هغه مجلس کې حاضر و، وايي چې د مړو د خوړلو لپاره د صوفيانو شمېر دومره ډېر شو، چې ځينو ان د يو بل په وړاندې تېغونه وکښل. د وحشي مرغانو په څېر يې د مړي غوښې له يو بل څخه پټولې او خوړلې. شاه امر وکړ چې په کوپړۍ کې دې ورته شراب راوړي. سم له لاسه دا امر ومنل شو او د شيبك خان د سر له کوپړۍ څخه د جام په توګه کار واخيستل شو).�۱۵(

د ملك الشعرا بهار خراساني په وينا: �په تبرېز کې قزلباش تبرېزيانو په داسې حال کې چې تبر يې په لاس او يوه لويه کڅوړه پر اوږو اچولې وه، په کوڅو او بازارونو کې ګرځېدل، لومړيو دربيو استازو (خليفه وو) ته يې ښکنځل کول، خلك اړ وو چې د هغوی د ږغ په اورېدو سره ناري ووهي. که چا به له دې کاره اوږه تشوله، له محاکمې او پوښتنې پرته به يې سر له تن څخه غوځېده).�۱٦(

�شاه اسمعيل په دوو شپو- ورځو کې د تبرېزيانو د شلو زرو کسانو ځېتې په دې تور وځيرلې، چې سنيان وو. دغه راز يې د مړو هډوکي له قبرونو څخه وايستل او د غلو او بدلمنو ښځو د پرې شويو سرونو تر څنګ يې په عام محضر کې وسوځل).�۱۷(

دغه راز يې اميندوارې مېرمنې هم ووژلې، درې سوه بدلمنې ښځې يې کتار ودرولې، هره يوه به يې په منځ کې دوه نيم کړه، ان چې د تبرېزيانو سپي يې هم ووژل .

د احمد کسروي په وينا: �په صفوي تاريخونو کې تل د شاه اسمعيل پر بدو کارونو او خونړيو چارو پرده غوړول شوې، د صفويه پېر فقهانو هم پر دغو ستمونو سترګې پټې کړې دي).�۱۸(

د صفوي سلطنت بنسټ له هماغه پيله په خشونتونو او وينې تويونې سره کښېښوول شو، چې کله به آن د وحشت تر پولو ورسېده. دې خونړې خوی لکه د دين په پوښښ کې ځان راڅرګند کړ، کله د سياست په جامه کې او زيات وخت به يې د کينې او قهر د ختمېدو پر وخت ځان راڅرګنداوه. لاس غوڅول، پښه غوڅول، پوستول، کله هم د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان په پوست کې نور شیان اچول، سترګې رایستل، اعدامول او داسې نور وحشیانه کارونه په اسانۍ سره ترسره کېدل. که �کاملو مرشدانو� به د غوسې د اور سړولو لپاره په خپلو لیریو خپلوانو کې څوك نه شو پیدا کولای، خپلو نژدې خپلوانو لکه مېرمنو، ورونو، اکاګانو او د اکا زامنو یا هم خپلو زامنو ته به یې مخ اړاوه او هغوی ته به یې په لاس ورکول).�۱۹(

�شاه اسمعیل د سلطان حسین بایقرا (د تېمور له لمسیانو) یو لیك او ځینې ډالۍ ترلاسه کړل، چې د خپل مقام او حیثیت وړ یې ونه ګڼل، پرته له دې چې د هغه او تېموري پاچا ترمنځ کومه ستونزه وي، د یزد له سارا څخه یې پر طبس برید وکړ او هلته یې که هر قزلباش پیدا کاوه، له تېغ څخه به یې تېراوه، په دې پېښه کې د طبس اووه زره اوسېدونکي (چې سنیان وو) ووژل شول).�۲۰(

په ۱۵۱۰م کال کې وروسته تر دې چې د شاه اسمعیل صفوي له خوا هرات ونیول شو، د شافعي فرقې لوی پوه فریدالدین تفتازاني چې په هرات کې یې له دېرشو کلونو راهیسې د شیخ الاسلام په توګه شهرت درلود، د شاه اسمعیل له خوا په عام محضر کې ووژل شو، بیا یې مړی په دار وځړول شو او بیا اور- ورته شو .

په همدې وخت کې یې د هرات یو بل مشهور خطیب حافظ زین الدین په دې تور چې په موعظه او نصیحت کې یې لومړي درې خلیفه ګان نه وو شکنځلي، صفوي قزلباش دی له منبر څخه راکښته او د مسجد په انګړ کې یې سر له تن څخه بېل کړ).�۲۱(

�د شاه طهماسب په امر لومړی په ۹۳۴هـ کال کې یو ستر سني مشر خواجه کلان غوریاني چې د متعصبو صفوي سرتېرو له امر څخه یې سرغړونه کړې وه، د هرات چهارسوق ته بوتلل شو، لومړی یې د بدن پوست څنې جلا کړ، بیا یې بوس وراچول او په دار یې ځوړند کړ. په بل کال یې د غوریانو یو بل مشر خواجه هم تبریز ته بوت، د شاه په امر یې له نصریه منار څخه له خوټو راځوړند کړ، چې په ډېرو کړاوونو سره یې ساه ورکړه. په همدې کال مظفر سلطان د دیباج امیر د همایون په فرمان په اوسپنیز قفس کې واچاوه او د تبریز له دواړو جوماتونو یې راوځړاوه، بیا یې مړ کړ).�۲۲(

د شاه اسمعیل صفوي مشرانو د خپلو نیکونو خوی درلود. لکه څنګه چې شاه عباس صفوي جلادان ګمارلي وو چې چیکین یانې سړي خواره یې ورته ویل، که کوم مجرم به یې په جزا محکوماوه، دوی ته یې سپاره، چې د بدن غوښې یې په غاښونو وشکوي او وخوري).۲۳(

پولېنډي کشیش کروسینسکي د خپلو خاطرو په کتاب کې کاږي:

�د سلطان حسین صفوي پلار شاه سلیمان هم دومره قاتل او خونخوار شاه و، چې په لږ جرم یې خپل زوی وواژه. مېرمن یې چې دا حالت ولید د شاهي ماڼۍ بام ته وختله او ځان یې لاندې راګوزار کړ. بل کوچنی زوی یې په دې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تور وواژه چې د شاهي بڼ د يوې ونې څانگه يې غوڅه کړې وه، خو قورچي باشي وويل: قربان د دې خادم توره د دښمنانو د وژنې ته اوچتېږي، نه د دوستانو وژنې ته. شاه د دې خبرو په اورېدو د زوی له وژنې ډډه وکړه، کله چې د شهزاده مور او په خپله دی د شاه له دې هوډ څخه خبر شول، شهزاده له ماڼۍ څخه وتښتېد، نور نو نه شاه- نه يې هم زوی وليدل).�۲۴(

يوه پېړۍ وړاندې د ايران يوه روڼاندي، ميرزا اقاخان کرماني په دې باب وليکل: �د ډېرو ايرانيانو په اند صفوي پاچايان عام پالونکي او عادل وو، خو زما په اند هغه ظلم او جبر چې د دوی له کبله ايرانيانو ته رسېدلي، تر عربو وروسته ساري نه لري، ان وينې تويوونکي چنگيز هم دومره ظلم ونه کړ. دومره ورانۍ چې د دې خرافات پالونکو له خوا د ايران ملت ته پاتې دي، تر اسلام وروسته له هېڅ يوې ډلې څخه نه دي رسېدلي، ځکه چې دې طبقې وغوښتل د دينپالنې له لارې د عامو خلکو په زړونو کې ريښې وځغلوي او د خپل سلطنت بنسټ په قوم او مذهب ټينگ کړي. ځانونه يې د امام اولاده او د پيغمبر ذريعه او د کشف و کراماتو څښتنان معرفي کړل، څرنگه چې په ايران کې د دې ټغر غوړولو، د حماقت د تخم کرلو ته اړتيا لرله، له دې کبله يې د ملا محمد باقر مجلسي په لاسنيوي يې د ايراني وگړو عقلونه او مدرکونه له منځه يوووړل، چې په ايران کې د صفوي پاچايانو سلطنت ټينگ پاته شي).�۲٥(

ډاکټر شفا د ايراني څېړونکي عيسی صديق له قوله ليکي: �په صفوي پېر کې د سني او شيعه ترمنځ د راپارېدلې دښمنۍ له کبله ايران له لوېديز سره خپل نبغ اړيکي له لاسه ورکړل، ځکه د ايران او اروپا ترمنځ پراخ عثماني دولت ولاړ و. دا دوره د رنسانس د پاڅون، د غرب پوهنيز صنعتي او اقتصادي ستر پاڅون او د نوي عصر حيرانوونکی عصر و. ايرانيان يې له نويو پوهنو او د اروپايانو له صنعت څخه بې برخې کړل. دوی د نوي تمدن له کاروانه هم وروسته پاته شول. له بله پلوه د مذهبي پوهانو او مخکښو د قدرت جاذبه د دې لامل شوه چې هر کس د خپل استعداد په کچه ديني زده کړې پيل کړي، چې يوه ورځ د جهاد درجې ته ورسېږي. د عزت او قدر خاوند شي. په دې توگه د فقهې، اصولو، حديثونو او د قرآن د تفسير مينه وال زده کوونکي ډېر شول. په بدل کې يې د طبيعي پوهنو، رياضي، حکمت او ادب محصلين ډېر کم شول. وېروونکې وروسته والي دا ځل ايرانۍ ټولنه د علمونو او د نوې نړۍ د هغو په برخه کې ډېره وروسته پاتې کړه).�۲٦(

په اوسمهالي پېر کې تر ټولو په زړه پورې او له کره کتنې ډك نظر د علي شريعتي دی، چې په خپله د تشيع له پلويانو او د (محمدي ناب اسلام) مذهبي مبارزې سرلاری و، تر اسلامي انقلاب وړاندې په ټولو مذهبي لېوالتياوو کې يې اغېزناکه ونډه لرله. دلته يې د علوي تشيع او صفوي تشيع په باب يو کتاب کښلی چې په وروستيو څلورو پېړيو کې يې د شيعه اخندانو په باب لولو:

�شيعه روحاني د خلکو له څنگه پاڅېد او د صفوي سلطان تر څنگ کښيناست، وگړنيز تشيع په دولتي تشيع بدل شو. د زاړه مذهب پر ځای يو نوی مذهب رامنځته شو، چې دا دی تر څلورو پېړيو وروسته هم پرځای پاته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اخند له ځانه د پرهېزګارۍ څادر ليرې کړ، د خپلې خوارې کوټې له يوې څنډې راپاڅېد او يو ممتاز سياسي او ټولنيز موقعيت يې ومونده، چې د علي د شيعه مذهب په ميرغضب بدل شو، صفوي پاچا ته به مخامخ کښېناستل، ځکه چې ځانونه يې د علي د در سپي ګڼل. په حکومت کې ورسره سلا کېده، ان چې دعوه يې کوله چې ګواکې د حکومت قدرت او د سطنت تاج د دوی له خوا د خلکو په استازيتوب شيعه پاچا ته ورکړل شوی دی).

اخوند د خلکو له بېخبرۍ او ناپوهۍ څخه په استفادې سره ډېر مفاهيم بدل کړل. د تفکر پرځای يې عبادت، د نېك کار پرځای يې د ټول امت شفاعت، د ديانت پر ځای يې تظاهر او نېك کار ته د رابلنې پر ځای يې شرعي خوله، د تعقل پرځای يې خرافات، د استقامت او زغم پر ځای يې تسليم او ټيټوالي، د اخلاقو پر ځای يې فحشا، د صداقت پر ځای يې درغلي، د سموالي پرځای يې فساد، د خلوص پر ځای يې تقلب، د ځانخبرۍ پر ځای يې تعصب، د زړورتيا پرځای يې ذلت او بې زړه توب، د انسان پر ځای يې د اخوندانو خېټې، شهوت او د پيسو بندګان، د نارينتوب پر ځای يې ژړا او زارۍ زياتې کړې .

د صفوي استعمار شومو درملو له وينې څخه ترياك جوړ کړل، د مېړانې له کلتور څخه يې د خوب للو- للو، د امام حسين له ښوونځي څخه يې د شاه سلطان حسين ښوونځی جوړ کړ. (په درېيو حاکمو څېرو: استبداد، ښکېلاك او ځبېښناك سره يې يا د خلکو سرونو ته د دار کړۍ واچوله، يا يې د دوی جېبونه تش کړل، درېيم کس د خدای له وينا سره سم زمزمه کړه: وروره! صبر وکړه، هر څه قيامت ته پرېږده، دوی که نن هرڅه لري، اخرت يې خراب دی .

صفوي جهاد هغه مقام دی، لکه يهودي پاترياړش، يا مسيحي اسقفا. په دې موضوع کې که څوك هرڅومره وروسته پاته او زوړ وي، هومره مجتهد دی. څومره زاړه کالي چې واغوندي او زوړ فکر ولري، دغه راز يې سليقه، لهجه، اخلاق او خبرتياوې زړې وي، تر نورو سپېڅلی او روحاني وي. په ځانګړې توګه له نوي ژوند، نويو مسايلو، نويو موندنو او خبرتياوو څخه خبر وي، ورځپاڼه ونه لولي، راډيو وانه وري، په بهرنۍ ژبه پوه نه شي، خبرونه وانه وري، د وروستيو پېړيو له موندلو خبر نه وي، په دې توګه نور علی نور وي. يوه ټوټه رڼا ده، اخروي روحاني او په بله نړۍ کې ډوب موجود دی).۲۷(

په صفوي دوره کې- په ځانګړې توګه لومړي شاه عباس تر مړينې وروسته، په ايران کې خرافات وروستي حد ته ورسېدل، سِحر، جادو، طلسم او نجومي احکامو ته د خلکو عقيده زياته شوه. د ټولو چارو اصلاح يوازې په دعا سره غوښتل کېده، چا به عمل او هڅه نه کوله. د عقل پر ځای ناپوهۍ ته درناوی، د نذر په مرسته د هيلو ترسره کېدل، ښکنځلو ته درناوی، ديندارۍ ته تظاهر، يوازې مذهبي مشرانو ته تسليمېدل، طبيعي پېښې لکه باران، تندر، زلزله، توپان، لمر نيول، سپوږمۍ نيول د خدای غضب يا رحمت ګڼل کېده. ټولو طبقو همدا ګڼل. دا ډول سوچ د سلاطينو او چارواکو له خوا هڅول کېده، چې د اخلاقي بېلارۍ، ناپوهۍ، بې حرکتۍ او ماتې لامل کېده او د صفويانو کارونو دا هرڅه ثابت کړل. ناپوهۍ ته لمن وهل، مجلسونو او هديرو ته د قرآن ځانګړی کول او پر ځای يې د دعاګانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیاضونه، بحارالانوار، توفان البکا، کشف الغمه، روضة الشهاده او زادالمعاد او... داسې نور کتابونه دود شول، چې په کشف الاسرار کې یې نوم یاد شوی دی).۲۸(

د کلتور او عقلي پوهنو په برخه کې هم صفوي دوره د پوهنې او پوهانو د رکود دوره وه. د ډاکټر شجاع الدین په وینا: �د صفوي پېر په اخندروزونکي ایران کې، مذهبي سختګیري دې حد ته ورسېده، چې زیاتو کسانو جلاوطنۍ ته مخه کړه او هند ته لاړل.�

د (تاریخ جهان ارای غفاري) نومي کتاب لیکوال چې د شاه طهماسب صفوي پر مهال ژوندی و، په دې باب لیکلي دي: �په دې پېر کې ناپوهان د هېواد پوهان ګڼل کېدل، خو رښتیني پوهان به ناپوهان. نو ځکه زیاتې سیمې له پوهانو تشې شوې، ناپوهي ډېره شوه. په ټول ایران کې یوازې یو څو پوهان پاتې وو).�۲۹(

د علي میر فطروس په وینا: پر پوهې او فلسفې بندیز، دغه راز د عذر او ژړا دودېدلو، نورو مذهبي خرافاتو ایرانۍ ټولنه یوځل بیا د فرهنګي انحطاط پر لوري بوتله، له دې کبله زیاتو ایراني شاعرانو او اندیالانو (متفکرینو) د هند لار ونیوله، چې په دې ډله کې صائب تبریزي هم راته.(۳۰) چې ویل یې: د صفوي شاهانو په وړاندې د انسان د فضیلت معیار (غټه لنګوټه او راوتلې خېټه) وه.

اخر صائب له تبریز څخه د هند بابري واکمن (کابل) ته راغی او د کابل په ستاینه کې یې یوه بوللـه (قصیده) هم ولیکله. د شاه سلطان حسین صفوي پر مهال، د شیعه روحانیت مذهبي تعصبونو دومره زور واخیست چې په شېروان کې د سنیانو مذهبي جذبې راوپارېدې او د دې سیمې خلکو د حاجي داود مدرس تر مشرۍ لاندې پاڅون وکړ. د شېروان د بېلابېلو قومونو ۱۵۰۰۰ کسان راغلل، پر شماخې، کرسۍ او شېروان یې یرغل وروړ، څرنګه چې په شماخې کې د شیعه ګانو پلویان لږ وو، له دې کبله په دې پېښه کې ۴ـ۵ زره شیعه ګان ووژل شول، چې نور پاڅونکي بیا د عثماني ترکیې په پلوي راوپارېدل).۳۱(

�دا یوازې سنیان نه وو چې د شیعه روحانیت له کبله ځورېدل، د نورو دینونو پلویان، په ځانګړې توګه زرتشتیان او یهودان هم ډېر په تنګ وو. �هغه مذهبي مبارزه چې د ملا محمد باقر مجلسي له خوا پیل شوه او د لمسي او ځایناستي له خوا یې ادامه ومونده، ورو- ورو یې د تور او افترا بڼه خپله کړه. که چا به د (مجلسیانو) د ځانګړې لارې ملاتړ نه کاوه، په بېلابېلو وسایلو سره ځورول کېدل. څرنګه چې ملا حسین تر خپل نیکه وروسته د ملا باشي لقب ترلاسه کړی و، له شاه سلطان حسین څخه یې یو فرمان واخیست چې زرتشتیان دې جبراً مسلمانان شي اورتونونه دې یې وران او پرځای دې یې جوماتونه ودان شي).�۳۲(

د دې فرمان له کبله روحانیونو په وېروونکو کارونو لاس پورې کړ. زرتشتیان به ځورول کېدل او سپکېدل. اورتونونه او نور عبادتځایونه یې ویجاړېدل، چې له خپل پخواني مذهب څخه واوړي، خو زرتشتیانو د سپېڅلي اور د ساتنې لپاره د اصفهان حسن آباد سیمه پرېښوده او کرمان ته یې مخه کړه. هلته هم ورسره داسې چلند وشو چې کله محمد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوتك په ۱۷۱۹م کال هغه سیمه ونیوله، نو دوی به دغو یرغلگرو افغانانو ته د خپلو ازادي غوښتونکو په سترگه کتل).۳۳(

غبار یادونه کوي چې شاه اسمعیل د مرو تر فتحې او د ازبك مړو له سرونو د کله منار تر جوړولو وروسته هرات ته راغی او د هرات د منشور فتح په جامع جومات کې قرائت وشو. دلته د هراتي حافظ زین الدین له خوا د شاه امر شنډ شو، ځکه حافظ د خلفاوو (لومړنیو درېیو استازو) د ښکنځلو لپاره شونډې ونه خوځولې. د شاه سرتېري چې د تعصب له کبله لړزېدل، هماغه گړی حافظ په جومات کې وواژه. هراتیان په دې چلند ډېر خوابدي او کینه یې راوپارېده، شاه وروسته میمنې او فاریاب ته لښکرې وایستلې. د بلخ، جوزجان او غرجستان په گډون یې د دې ولایتونو حکومتونه د بېرم بېگ تر واکمنۍ لاندې پرېښودل، دغه راز یې د بدخشان د واکمن سلطان اویس حکومت هم تصدیق کړ .

په ۱۵۱۲م کال تېمور سلطان ازبك پر هرات او عبیدالله شېباني پر مشهد برید وکړ، خلك چې د صفوي حکومت له مذهبي استبداد څخه په تنگ شوي وو، نو ازبکي دولت ته یې لار پرانیستله او په هرات کې یې تېمورسلطان ازبك ومانه، د حافظ زین الدین د خون په تور یې دوه صفوي واعظان او موذنین ووژل .

په بلخ کې هم خلکو ازبك واکمن ته هرکلی ووایه او صفوي واکمن (کمال الدین محمود) یې تېښتې ته اړ ایست، چې اخر یې ونیو او وواژه. کله چې صفوي پوځ یوځل بیا پر هرات یرغل وروړ، تېمور سلطان او عبیدالله له هرات او مشهد څخه ماورالنهر ته شاتگ وکړ، خو خلك غلي پاتې نه شول، بلکې د صفوي یرغل په وړاندې یې په پاڅون لاس پورې کړ. لکه څنگه چې ابوالقاسم بخشي، خواجه شهاب الدین غوري، قاسم کروخي، امیر نظام الدین، عبدالقادر او نورو د صفویانو پرضد په پاڅون لاس پورې کړ او د هرات د نیولو لپاره راوپاڅېدل، خو صفوي پوځ دومره ډېر و، چې هرات یې ونیو او پاڅون یې د شهاب الدین، قاسم کروخي او ۳۰۰ نورو په وژلو سره پر شا وتبماوه).۳۴(

دا ځل شاه اسمعیل په مشهد کې تم شو، دېو سلطان او امیر سلطان د یوه پوځ په ملگرتیا د افغانستان شمالي ولایتونو د ځپلو لپاره له ازبك حکومت څخه ملاتړ کړی و او ویې گماره.

د اندخوی خلك د قرابقال په مشرۍ د صفوي یرغل مخه ډب کړه او یوه اوونۍ په ډېره زړورتیا سره وجنگېدل، خو اخر صفوي پوځ پر سیمه ییزو ځواکونو بری وموند، چې د اندخوی خلك یې د ښځو او ماشومانو په گډون ووژل. شبرغان او بلخ یې هم ونیو، بیا یې ولوټل. په همدې وخت کې د کندهار پخوانی والي شجاع بېگ ذوالنون د هرات د ارگ له زندان څخه وتښتېدل، چې یې شاه اسمعیل له تېښتې خبر شو، نو امر یې وکړ که د هرات او کندهار هر اوسېدونکی دې ومومي، نو تر تېغ دې تېر کړي. په هرات کې صفوي سرتېرو په دې کار لاس پورې کړ، ډېر نارینه، ښځې او ماشومان یې ووژل، ځایونه یې ولوټل، دغه راز شاهرخ افشار د یوه لښکر په ملتیا کندهار ته روان شو، چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویې نیسي او شجاع بېګ ذوالنون ورك كړي. دې لښكر ډېرې جګړې وكړې، خو كندهار يې ونه شو نيولای، په بدل كې د بلوڅستان مستونګ ته لاړ او د مستونګ بېګناه خلك یې ووژل او ولوټل، وروسته بېرته ايران ته ستون شو .

د افغانستان د شمال او شمال لوېديځ د نيولو لپاره د صفويانو او شېبانيانو لښكركښۍ، د ځايي اوسېدونكو پر كرنې او نورو كارونو ناوړه اغېز وكړ، څرنګه چې په ۱۵۱۲م كال په هرات كې يوه ډېره پراخه قحطي راغله، ورپسې په ۱۵۱۴م كال د غرجستان او چغچران خلكو د محمد زمانخان ميرزا او امير اردوشاه تر مشرۍ لاندې د صفوي دولت پرضد پاڅون وكړ، خو دا پاڅون هم په وينو رنګ شو .

په داسې حال كې چې شاه اسمعيل صفوي يو كال وړاندې د اذربايجان په جګړه كې د سلطان سليم عثماني له خوا ماته خوړلې وه، د خپل هېواد پلازمېنه (تبرېز) يې هم له لاسه وركړې و. شاه صفوي په ۱۵۱۵م كال هرات خپل زوی (طهماسب ميرزا) ته وسپاره او دا ميرزا د شيخ مجدالدين كرماني په ملګرتيا هرات ته راغی او استوګنه يې په كې غوره كړه .

د طهماسب ميرزا پلوي اميرخان په هرات كې راپاڅېد او د شتو او پيسو د ترلاسه كولو لپاره يې سرشمېرنه وكړه، چې پر هغوی يې ډېرې پيسې كښېښودې، هراتيان چې د صفوي واكمنانو د ظلم او مذهبي تبعيض له كبله په تنګ شوي وو، په پټه يې د ماورالنهر له حكومت څخه مرسته وغوښته. د محمد خان شېباني (شېبك خان ازبك) زوی عبيدالله خان يوځل بيا په ۱۵۲۰م كال پر هرات بريد وكړ، خو د صفوي پوځيانو په وړاندې يې څه ونه شول كړای، ناكام ستانه شول. تر دې پېښې وروسته شاه اسمعيل صفوي خپل زوی (سام ميرزا) د طهماسب پرځای هرات ته ولېږه).۳۵(

د صفويانو په پېر كې به د سلطنتي كورنۍ غړو او ساتندويانو ته سركاري ځمكه وركول كېده، چې له عوايدو او محصول څخه يې ګټه واخلي، د لومړي صفوي شاه طهماسب په دوره كې، زياتې سيمې په غيرمستقيمه توګه اداره كېدې، چې له مشرانو يې ډالۍ او نور خراج يا عوارض اخيستل كېدل. مشرانو به په خپلو سيمو كې له هغو خلكو بېلابېلا ماليات اخيستل چې دوی پرې واكمن وو. د ځمكو د مالياتو بيه د ستمكارو مامورانو له كبله كله- كله تر اصلي بيې پنځه برابره زياته شوه، اشر د اجباري كار په توګه دود شو، كه چا به د اجباري كار په بدل كې مامورانو ته رشوت وركاوه، له اشر څخه به معافېدل .

د صفوي شاهانو دربار ته ډالۍ وړل هم يو دود ګرځېدلی و، چې په نوروز او د پيغمبرانو د ميلاد په ورځو كې به يې پاچا ته وړلې. هغه مهال د مالوچو (پنبې) نيمايي او د ورېښمو په پيسو كې يوه برخه محصول په شاه پورې اړه لرله).۳٦(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لومړي طهماسب په پېر کې د مالیاتو د کچې ډېرېدو د ایران پر اقتصاد ناوړه اغېز وکړ. دې پاچا د خپلې پاچايۍ په وروستیو ۱۴ کلونو کې ونه شول کړای چې د پوځ معاش ورکړي. د دینارو بیه دومره ټیټه شوه، چې د شپاړسمې پېړۍ په پای کې ۲۰۰ دینار د یوه مثقال سپینو زرو سره برابر وو .

په ۱۵۵۸م کال د دولت لاسته راوړنه ۵ملیونه د سرو دینار وه. په ۱۵۷۱م کال کې ۳ ملیونه دینارو ته راټیټ شو .

د لومړي شاه طهماسب د دولت په وروستیو کلونو کې د ایران کورنۍ وضعه ډېره کړکېچنه شوه. کروندګر د مالیاتو د زیاتوالي، د محصولاتو د ارزانۍ او نباتي افتونو له کبله ډېر نېستمن شول. د غلو د بریدونو او د فیوډالانو کورني ظلم له کبله د کاروانونو لارې ناامنه شوې، چې پر زیاتو لارو چا تګ راتګ نه کاوه).۳۷(

هغه لګښتونه چې د صفوي دربار له خوا د بهرنیو مېلمنو د هرکلي او پالنې په نوم د خلکو له جېبونو اخیستل کېدل، ډېر زیات وو .

غبار د یوه لیکوال (حدیقه الاقالیم) له قوله کاږي چې ګواکې د لومړي طهماسب په امر په هرات کې د بابر زوی همایونشاه [د شېرشاه سوري له خوا په ۱۵۴۰م کال په هند کې تر ماتې وروسته] له خلکو زیات مصارف راټول کړای شول: �چې له هرات څخه د اشرف ۵۰۰ سپاره پوځیان د همایون هر کلی وکړي، په دې ترڅ کې دې د شاه طهماسب له خوا سل اسونه په طلايي زینونو سره د هرات د واکمن امیر خان له خوا ۳۰ اسونه په طلايي قیضو او لاجوردي نقش شویو زینونو سره ورډالۍ شي.

دغه راز دې د اسونو ځل سور او ژېړ بخمل وي او د اسمعیل صفوي ملابند او توره ځلور سوه توپونه، پنځوس جامې له طلا څخه اوبدل شوې دوه کسیزه غالۍ، اتلس بالښتان، درې لویې غالۍ، دوولس سرې او سپینې خیمې د طمهاسب په نوم، پنځوس خیمې له لویو غالیو سره، سل اوښان، پنځوس چینې لوی- لوی لوښي (طبق) د هرات د واکمن له خوا ورډالۍ شول .

د همایون شاه د مجلس خوراکي توکي هم ډېر وو، د ورځې پنځوس سوه غوري په مېلمستیاوو کې، ۱۵۰۰ غوري بېلابېل خواړه په سپینو زرو او طلايي لنګرونو کې په طلايي او سپینو زرو سرپوښ سره، په ګلابونو او عنبر سره عطرین، د ګلاب لرونکي لېمو شربت، د مېو مربا، هندوانې او انګور، نور خواړه لکه حلوا او فالوده.

د همایونشاه د پلویانو ورځنۍ جېب خرڅ پر یوه کس دوه تومانه له هغه او په خپله د شاه دوه زره تومانه (یو تومان مساوي و د سپینو زرو له لسو مسکوك سره چې هغه وخت دود وه) د ښکار په ورځو کې به بازان خوشې کېدل، دغه راز به د همایونشاه په مجلس کې هراتي سندرغاړي او نور هنرمندان لکه حافظ صابر، حافظ دوست، قاسم قانوني، استاد شاه محمد نايي او استاد یوسف کمانچه حاضر وو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرات ته به د همايونشاه د ننوتو پر وخت ۳۰ زره سپاره او پلي د هغه هركلي ته راوتل. بازارونه به ورته ښايسته كېدل، حامونه به ورته سپين او معطرېدل. كرانتر حسين هراتي به د دې بهير ټول رپوټ به ليكه او اصفهان ته به يې لېږه).�۳۸(

د شاه صفوي دغه دستور ته په پام سره د هراتيانو د درد او ستونزو كچه ځان ته اټكلولای شو چې د دې عياشيو او مزو- چړچو د لګښت لپاره به يې څومره ستونزې ګاللې، ځكه دا ټول لګښت بايد په هرات كې د هراتيانو له خوا وركول كېدای، نه د شاه طهماسب صفوي له خزانې. له شك پرته چې د شاه صفوي او همايونشاه لسګونه زره پوځيان به ټول په هرات كې سمبالېدل، دا په داسې حال كې چې په ۱۵۰۷م كال شېبك خان ازبك او وروسته په (۹۱۶ق_ ۱۵۱۰م) كې شاه اسمعيل صفوي د هراتيانو ټول شته د شكنجو او اعدام په زور ولوټل.

په دې توګه كله چې د هېواد د تاريخ پاڼې سره اړوو، وينو چې د شپاړسمې پېړۍ له پيل راهيسې د صفويانو واليان او نور واكمنان د اصفهان له درباره هرات، كندهار او سيستان ولايتونو ته ټاكل شوي دي. هر والي به له ۲۰_۳۰ زره لښكرې لرلې، چې له پرديو سيمو څخه به راغلي وو او يوازې يې د خپلو جېبونو د ډكولو سوچ كاوه، چې دا هرڅه به يې له كروندګرو او يا هم سيمه ييزو خانانو څخه اخيستل. ځمكوال او خانان اړ وو چې په اوونۍ كې يو ځل والي، مستوفي، قاضي او نورو ته د سوغات او ډالۍ په نامه لوی رشوتونه وركړي، كنه واكمنان به ورباندې په غوسه كېدل. ځمكې او جايدادونه به يې ترې اخيستل كېدل، يا به هم په سلطاني (خالص) جايداد كې شمېرل كېدل، له همدې كبله د كندهار ورپسې هرات او سيستان ولايتونو خلكو چې د تاريخ او جغرافيې له مخې سره كلتوري او اقتصادي اړيكي لري، د ځوانمردۍ، لوړ همت، رښتينولۍ، يووالي او قربانۍ كچه او د خپلواكۍ غوښتنې مينه يې په سيمه كې ډېره مشهوره وه، يو په بل پسې د اتلسمې پېړۍ له پيله د خپلې ژغورنې په سوچ كې شول، چې د صفويانو له ستمكار او بې كفايته دولت څخه وژغورل شي. دوی پاڅون وكړ چې خپله خپلواكي يې په جګړو او قربانۍ سره ترلاسه كړه .

د دې درېيو سيمو د خلكو پاڅون نه يوازې نورو ته يوه بېلګه شوه، بلكې د ايران او افغانستان تر نورو پاڅونونو يې ډېر توپير درلود، په دې چې په دې پاڅون كې هدف نغښتی و. د دوی موخه د پرديو له واكمنۍ څخه د خلكو ژغورنه وه. اخر دوی برياليي هم شول .

څرنګه چې زيات هدف لرونكي پاڅونونه د مالياتو د كموالي يا هم د واليانو او نورو واكمنانو د بدلولو لپاره وي، چې اكثره يې د واكمنې ډلې له خوا ځپل شوي دي، لكه د اتلسمې پېړۍ په پنځمه لسيزه كې د نادر افشار د دولت پرضد د بلخ، اندخوی، بادغيس، غور، بدخشان او سيستان، يا هم د كابل رود په سرچينو كې د پښتنو پاڅونونه، چې ټول د نادر افشار د ظالمو ځواكونو له خوا په وينو رنګ شول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرچینې:

.1حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان، ۱۹۵_۱۹۹مخونه/ غبار: افغانستان در مسير تاريخ، تر ۲۸۲مخ وروسته.

.2غبار: افغانستان در مسير تاريخ، ۱۳۴٦چاپ، کابل، ۲۰۴_ ۳۰٦ مخونه.

.3حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان، پېښور چاپ، ۲۰۸مخ.

.4حبيبي: // // ۲۰۹مخ.

.5شفا: توضيح المسايل، پنځم چاپ، ۳۴مخ، ډاکټر شفا زياتوي:�په دې پانګونې سره (پلورنځي) خپل کار پراخ کړ، چې د ايران په هر ښار، هره سيمه او هر کلي کې جوړ شو. د مرکزي پلورنځي اداره په لويو فقهيانو، مجتهدينو، بېلابېلو مشرانو، شيخ الاسلامو، حديث پوهانو او نورو جوړه وه.

په دې ځانګه کې بېلابېلې درجې رامنځته شوې، لکه: مدرسان، متوليان، ملايان، پېشنمازان، روضه لوستونکي، زيارتنامه لوستونکي، قاريان، واعظين، د حرم خدام، دعا ليکونکي، رمالان اونور... د کار پراختيا د کار ډول بدل نه کړ، يوازې بازار لږ څه رنګ پيدا کړ. زړې ريا دوام وموند، درواغ هم پرځای پاته شول. د ښکلو او بدرنګو جامو په ډلبندۍ کې بدلون رانغی، دا ځل د کار سمبالوونکو د دکانداری له حد څخه پښه واړوله او د واکمنې دستګاه يوه برخه شوه .

ذاکر سيدالشهدا د (بيضه دارالسلام) مقام ته ورسېد، روضه لوستونکي او دعالوستونکي په ماذالانامي او حجة الاسلامي او (د علي شيعه جنډه رپوونکي) مقام ته لوړتيا ومونده .

څرنګه چې صفوي پاچا (د علي د در سپی) و. د علي پر حق نايب هم د سپي مقام ته ورسېد او اعلان يې وکړ، چې يوازې يې د اسلام د پرمختګ لپاره په لنډ وخت کې حکومت شيعه پاچا ته ورسپارلی دی. اوس نو په ټول ايران کې يوه سودا پراخه شوه، د دين دکانداران له صفوي شاهانو سره کښېناستل او د شرعي چارو په باب يې خبرې پيل کړې، په زرګونو مهدورالدم، مرتد، زنديق، محارب، ملحد، منافق، مفسد فی الارض، ياغي او طاغي يې شاهي ميرغضبانو ته په لاس ورکړل. په لسګونو زره زناکاران، غله، رباب ږغوونکي او نور بدکاره يې چې د اسلام د حج له احکامو يې سرغړونه کوله، د رجم، حد او تعزير ټېکه دارانو ته وسپارل�.(۳۴_۳۵مخونه)

.6ډاکټر شجاع الدين شفا: توضيح المسايل، پنځم چاپ، ٦۰_ ٦۱ مخونه.

.7ډاکټر شفا: پس از هزار و چهارصد سال، د ۲۰۰۳م کال چاپ، ۷۲٦مخ.

.8ډاکټر شفا: تولدي ديگر، پنځم چاپ، ۴۳۲مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



// .9پس از هزار و چهارصد سال، ۲۰۰۳م کال، ۷۲۷مخ.

// .10تولدي ديگر، ۱۹۹۹م کال چاپ، ۴۳۲مخ.

.11عبدالباري جهاني: هرات، پښتانه او ستره لوبه، ۱۱۵مخ، ۱۹۹۹م کال- پېښور چاپ .

.12سعيدي سيرجاني: ای کوته نشينان، د سوئد چاپ، ۱۹۹۲م کال، ۱۸۷مخ، د تاريخ انقلاب اسلام په حواله، د تهران ملي کتابتون خطي نسخه، ۵۹۹ او ۱۸۵مخونه.

.13ای کوته نشينان: ۱۸۷_ ۱۸۸ مخونه، ډاکټر شفا: پس از هزار و چهارصد سال، دويم ټوك، ۷۲۴مخ.

.14ډاکټر شفا: تولدي ديگر، ۳۸۲مخ.

.15احسن التواريخ: ۸۵_۱۲۲مخونه، پس از هزار و چهارصد سال: ۷۲۴مخ.

.16ملك الشعرابهار: سبك پېژندنه، درېيم ټوك، ۲۵۵مخ، شفا:۷۲۲مخ.

.17ډاکټر شفا: تولدي ديگر، ۴۸۲مخ .

// .18پس از هزار و چهار صد سال، دويم ټوك، ۷۲۲مخ.

// // .19۷۱٦مخ .

.20حبيب السير: څلورم ټوك، ۴۷۸مخ، احسن التواريخ: ۷۷مخ، شفا: دويم ټوك، ۷۲۳مخ.

.21داکټر شفا: هماغه اثر، ۷۲٦مخ .

.22ډاکټر شفا: دويم ټوك، ۷۳۵مخ.

.23سعيدي سيرجاني: ای کوته نشينان، ۱۸۵مخ .

.24تاريخ سياح مسيحي: کروسينسکي، د فقير محمد خيرخواه په سمون او لمنليك، ۱۳٦۳کال چاپ، کابل، پنځم مخ .

.25ډاکټر شفا: پس از هزار و چهارصد سال، ۷۰۹مخ .

.26توضېح المسايل: پنځم چاپ، ۳٦_۳۷مخونه .

.27ډاکټر شفا: هماغه اثر، ۷۷۳_۷۷۴مخونه.

// .28هماغه اثر، ۷۷۲مخ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



// .29تولدي ديگر، ۴۲۰ مخ، پس از هزار و چهارصد سال: ۷۷۰مخ .

.30علي ميرفطروس: نظرونه او خبرې- اترې، ۱۹۹۳م کا لچاپ، ۴۸مخ.

.31لکهارت: انقراض سلسله صفويه، د عماد ژباړه، ۱۴٦مخ .

.32ډاکټر شفا: هماغه اثر، ۷٦۸مخ.

// .33هماغه اثر، ۷۳۲مخ .

.34غبار: افغانستان در مسير تاريخ، ۲۷۳_۲۸۲مخونه .

// .35هماغه اثر، ۲۸۹مخ.

.36عنايت الله شاپوريان: ۲۵ سده ماليات، ۱۰۰_۱۰۲مخونه .

.37لکهارت: انقراض سلسله صفويه، د مصطفى قلي عماد ژباړه، ۱۳٦۴ل کال چاپ، ۸۴_ ۱۴٦مخونه.

.38غبار: ۲۸۹_۲۹۰مخونه (د حديقة الاقاليم مرتضى حسن بلگرامي په حواله، د هند د نولکشور چاپ، ۳۴٦مخ، دا مطلب په تفصيل سره په گنج دانش �د ايراني ښارونو تاريخي جغرافيه� کې د محمد تقي حکيم په قلم، ۱۳٦٦ل کال، ۴٦۷_۴۷۵مخونو کې لوستلای شئ).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم څپرکی

## د میرویس نیکه په مشرۍ د کندهار پاڅون (۱۱۲۱هـ ق_ ۱۷۰۹م)

د کندهار پر نیولو لانجه:

کندهار د افغانستان په جنوب لوېدیځ کې له هغو شنو سیمو څخه ده، چې انګرېز ختیځپوه لسترنج یې په باب لیکي: �په منځنیو پېړیو کې یې مرکز (پنجوایي) وه، چې د ارغنداب او ترنك رودونو ترمنځ پرته ده. د منځنیو پېړیو په اسلامي سرچینو کې کندهار الرخج (معرب: یوناني اراکوزیا، پهلوي: الرخوت او پارسي: الرخذ) نومول شوی، چې وروسته په کندهار نومول شوی دی).۱(

بابر په ۱۵۲۰م کال پر هند تر لښکرکښۍ وړاندې کندهار د ارغوني د ورونو له منګولو وژغوره. ۲

او خپل زوی کامران میرزا یې د حکومت د مشر په توګه وټاکه، خو ډېر وخت لا تېر نه و، چې په ۱۵۲۰م کال سام میرزا صفوي د کندهار د نیولو لپاره لښکر تیار کړ او دا ښار یې کلابند کړ.

خو کامران میرزا د سام میرزا په وړاندې مقاومت وکړ، چې د سام میرزا کلابندي یې ماته کړه او سام میرزا شاتګ ته اړ شو، چې سیستان ته لاړ او له هغه ځایه هرات ته واوښت).۳(

همایون د هغه زوی یې او د بابر ځایناستي په ۱۵۴۴م کال د صفوي دولت د مرستې په بدل کې ایران دولت ته پرېښود، چې له افغان سوریانو څخه د ډیلي سلطنت ازاد کړي، ځکه همایون په ۱۵۴۰م کال د شېرشاه سوري له خوا په هند کې ماتې وخوړله او د ډیلي سلطنت افغان سوریانو ته پاتې شو .

همایون د صفوي دولت د مرستې راجلبولو لپاره ایران ته مخه کړه اود هغه مرسته یې ترلاسه کړه، کندهار یې بیا ایراني دولت ته په واك کې ورکړ).۴(

صفوي پوځ د شهزاده مراد په مشرۍ کندهار ونیو، خو شهزاده تر یوه کال وروسته په کندهار کې ومړ او کندهار بیرم خان ته وسپارل شو، چې ایراني پوځ ته رخصت ورکړل شو (۱۵۴۵) خو د نیولو او تصرف هیله هېڅکله هم د صفوي دولت له زړه څخه ونه وتله، له دې کبله یې یو ځل د هغه د نیولو لپاره لښکر تیار کړ .

لومړي شاه طهماسب په ۱۵۵٦م_ ۹۴٦ق کندهار د هند له بابریانو څخه ونیو، خو د هند اکبر پاچا هغه بېرته له ایران څخه ونیو. لومړي شاه عباس په ۱٦۲۲م_ ۱۰۳۲ق دغه ولایت د هند له امپراتور جهانګیر څخه ونیو، خو جهانګیر ۱٦ کاله وروسته (۱٦۳۸م کال) بیا دا ځای ونیو، په ۱٦۴۸م_ ۱۰۵۸ق کال کې دویم شاه عباس له پنځوسو زرو سرتېرو سره یوځای دا ولایت ونیو، چې بست او زمینداور هم په کې راته .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه صفوي لس زره کسیز پوځ د مهراب خان تر مشرۍ لاندې کندهار ته پرېښود، په خپله د فراه له لارې هرات بیا مشهد او بیا اصفهان ته ستون شو، تر ٦٠ کلونو پورې (۱۷۰۹م_ ۱۱۲۱ق) د ایراني صفویانو په لاس کې پاتې شو، چې د هند نورو شاهانو لاسرسي نه ورباندې لرله).٥(

د دې پېښو په بهیر کې اورنګزېب چې د افغانستان د دفاع مسوول او په ملتان کې مېشت و، پر وخت ونه شو کړای د کندهار دفاع وکړي، یو کال وروسته له اویا زره کسیز پوځ سره یوځای د کابل_ غزني له لارې کندهار ته ورسېد، چې شاه جهان هم کابل ته راغی .

دغو بهرنیو اله ګولو د خلکو کرنې ته دومره زیان واړاوه، چې نه یې شول کولای ان د پوځ لپاره هم خواړه برابر کړي. نو پر هندي پوځ ډېره قحطي راغله، له کابله تر کندهاره یو من غله او بوس په دوو روپیو هم نه پیدا کېده، هغه وخت دوې روپۍ ډېرې وې .

مهراب خان په ټینګه د ښار دفاع کوله، نو ځکه د ښار محاصره څلور میاشتې وغزېده، ژمی رانژدې کېده، چې په دښتو کې به واښه نه پیدا کېدل، شاه جهان چې دې حالت ته وکتل، له کابله هند ته لاړ او پر اورنګزېب یې هم امر وکړ چې ملتان ته لاړ شي .

په ۱٦٥۰م کال یو ځل بیا د هند امپراتور شاه جهان یو شپېته زره کسیز پوځ له ۴۰ توپونو او ۱۰ جنګي فیلانو سره د خپل زوی اورنګزېب تر مشرۍ لاندې له ملتان او سند څخه کندهار ته ولېږه، چې په خپله کابل ته راغی. دوې میاشتې او اته ورځې دا جګړه روانه وه. خو کندهار یې ونه شو نیولای، ژمی و چې شاه جهان له کابل او اورنګزېب له کندهاره هند ته ستانه شول. په ۱٦٥۱م کال د اورنګزېب پر ځای د هغه سیال شهزاده داراشکوه د کندهار په نیولو وګمارل شو. هغه د ۷۰ سرتېرو، ۷۰ زره سپاره او پلیو کسانو، ۱۰ زره ټوپکوالو، ٦زره بېل لرونکو، ۵۰۰ سقاو، ۳ زره اوښانو، ٦۰۰ فیلانو، ۴ زره بانونو (هوایي اورنیو غشیو) ۵۰۰۰منه باروتو، ۵۰۰ منه سرپو، ۵۴ کوچنیو توپونو او ۳۰ زره توپونو سره کندهار کلابند کړ .

کندهاریانو نوماند صفوي افسر مهراب په زړورتیا سره دفاع کوله، دې حملې او دفاع پنځه میاشتې وخت ونیو، خو بری د شاه جهان په برخه نه شو، ځکه هغه له وړاندې د کندهار د کلابندۍ لپاره اته سوه زره روپۍ لګولې وې، چې اخر د هند دولت د کندهار له نیولو نهیلی شو. د داراشکوه پوځ هند ته ستون شو، تر هغه وروسته له کوم ترون پرته د ایران په صفوي دولت کې ورګډ شو، په دې توګه د هېواد ویش نور هم شونی شو).٦(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګاونډيانو تفرقه اچوونکی سياست:

کله چې د ايران او هند دولتونه په سياسي پروګرام کې د کندهار د نيولو پلان هم ځای شو، ايراني صفويان او مغولي امپراتور د کندهار د نيولو لپاره په خپلو کې سره کښېوتل، شاه جهان او عالمګير څو ځله پر کندهار لښکرې ورخوشې کړې، هر يوه هڅه کوله چې د کندهار ځايي مشران د خپل دولت ملاتړي کړي .

پوهاند حبيبي ليکي چې له ډيلي دربار څخه د خضرخان ابدالي زوی شېرخان سدوزي ته د شهزاده لقب ورکړل شوی و. حال دا چې صفوي دربار هم دی په (ميرزا- شهزاده) سره پېژاند .

شېرخان په ۱۱۰۵هـ ــ ۱٦۹۳م کال د کندهار له صفوي واکمن (محمد زمان خان) سره ونښت، چې صفوي پوځ ته يې په کوږک دره کې ماتې ورکړه. دغه راز يې خپل کورنی سيال د مغدود (مودود) زوی حسين خان هم مغلوب او ملتان ته په کډوالۍ اړ ايست. په ملتان کې د هند د مغول امپراتور عالمګير له خوا ورته بل ځايناستی ورغی. حسين خان په ۱۰٦۹هـ ــ ۱٦٥۹م کال د هند په رنګپور کې له نړۍ سترګې پټې کړې، چې اولاده يې شجاع خان د احمدشاه بابا او شريف خان د تېمورشاه په پېر کې دغه راز مظفرخان رکن الدوله د ډېر وخت لپاره د ملتان د ناظمانو په توګه وټاکل شول. تر شېرخان وروسته د هغه زوی سرمست خان وروسته بيا د هغه زوی دولت خان (د احمدشاه بابا نيکه) د کندهار د پولو د ساتونکو په توګه پېژندل کېدل .

دولت خان ابدالي چې دا مهال لږ څه ځواکمن شوی و، د هر دولت د پام وړ وګرځېد، دواړ دولتونو د کندهار ساتنې لپاره د دولت خان مرستې ته اړتيا لرله .

دويم صفوي شاه عباس په خپل يوه ليك کې (د ۱۰٥۹ق ــ ۱٦۴۹م په پيل کې) دولت خان ته ليکلي وو، هغه يې د کندهار د کلا کوټوال او ايالت پناه نومولی و. ژمنه يې ورسره کړې وه چې د ايران او هند تر ټولو ستر ولايتونه به ورسپاري).۷(

په دې توګه به يې افغان قومي مشران په ډاليو او سوغاتونو راخپلول، يا به يې د مقام او واك له مخې ورکولې. لکه څنګه چې سلطان محمد خالص (د تاريخ سلطاني خاوند) د هند د امپراتور اورنګزېب منشور د سلطان ملخي توخي په کورنۍ کې مطالعه کړې او دا هغه کورنۍ وه چې له کلات څخه تر غزني پورې د سيمې خانان او د ارغسان ابدالي خانان هم د ايران دولت له خوا ونازول شول، د تاريخ سلطاني د څرګندونو له مخې، حسين خان ابدالي د (ده شيخ- ارغسان) په مورچه کې ځينې ابداليان د ايران صفوي دولت پلويان وو، له همدې کبله صفوي دولت ورته يو اس له ټولو سامانونو سره ډالۍ کړ او (شهزاده) يې ونوماوه).۸(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې د هغه او د ایران دولتونو د کندهار د نیولو لپاره د افغاني قبایلو مرستې ته اړتیا لرله، له شك پرته چې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره یې د افغاني قبایلو مشرانو ته رشوت، ډالۍ او سوغاتونه ورکول. ځانونو ته یې رانژدې کول، بیا به یې لښکرې ایستلې .

کله چې به یو هېواد بریالی کېده، نو دغه قبایلي مشران به یې ډېر نازول، افغان ولس به یې په همدې افغاني قبایلي مشرانو ټکول، ان چې له خپلې خاورې به یې شړل. دې کار د افغان قومونو ترمنځ قومي دښمني راپیدا کړه .

له بده مرغه د افغاني قبایلو مشرانو چې ایران هر وخت نازولي، هر وخت یې تېښه پر خپله ریښه وهلې او خپل کلی-چم یې سوځلی دی .

کله چې دولت خان سدوزي وکړای شول تر غزني او سلیمان غرونو پورې خپله واکمني پراخه کړي، یو پلو د کندهار له صفوي واکمن سره په مخالفت بوخت شو او د خپلواکۍ اعلان یې وکړ، بل پلو حیات سلطان د خپل تره زوی دومره تر فشار لاندې ونیو، چې اړ یې کړ له ټولو میراثي او پاتې شوي جایداد څخه سترګې پټې کړي او له خپل ورور لښکرخان (شېږ زره ابدالي کورنۍ سره یوځای) ملتان ته ستون شو).۹(

له شك پرته که د حیات سلطان، د هغه د پلویانو او دولت خان سدوزي ترمنځ یې د ګډ ژوند فضا لږه څړه پړه نه وای، نو حیات سلطان او د تره زوی ته به یې ډېر امتیاز په پام کې نیول کېده، چې کورنی یووالی به یې هم ساتل کېده. رښتیا هم چې د دولت خان سدوزي قدرت زیات و. غدار ګرګین نه شوای کولای چې هغه ژر له منځه یوسي، چې تر هغه وروسته ټول قومونه د هغه له پلرني ټاټوبي څخه وشړي .

دولت خان سدوزي به ښایي د خپلو کورنیو سیالانو اجباري شړل ځان ته یو بری ګاڼه، پر خپل واك او بري خوښ و، چې د صفوي بېګلربېګي یې یوازې د کندهار په کلا پورې رااېساره کړې وه. کله چې صفوي دربار د دولت خان په وړاندې د دوی د واکمن محمد زمانخان د واك له کمزورۍ کېدو خبر شول، نو زمان خان یې له کندهاره لیرې او پرځای یې یو بل سختګیر او ظالم واکمن عبدالله خان کرجي د کندهار د والي په توګه وټاکه. هغه مهال چې عبدالله خان کندهار ته ننوت (۱٦۹۸م_ ۱۱۱۰ق) نو د یرغل لاسونه یې وغزول، چې خلك ډېر په تنګ شول. خلکو ترې صفوي دربار ته شکایت وکړ، په دربار کې د عبدالله خان پلویانو شکایت کوونکي شکمن کسان وګڼل او د علاج لار یې بنده کړه. دا ګیله من خلك د اورنګزېب دویم زوی شاه عالم ته ورغلل، نوموړی هغه مهال د کابل واکمن و. خو د اورنګزېب زوی هم د خلکو غوښتنه ونه منله، اخر په ۱۷۰۳م کال پر کندهار د بلوڅانو یرغل ته زمینه برابره شوه. خو تر دې یرغل وړاندې د خان ابدالي دولت چې ښار صفا یې مرکز و، د صفوي واکمنۍ په وړاندې پاڅون کړی و، چې والي یې په وېره کې اچولی و.

ځرنګه چې موضوع شاه سلطان حسین ته ورسېده، نو ده ته هم یو خونړی او ظالم قوماندان ګرګین ورپه یاد شو، چې په ۱٦۹۹م کال یې د بلوڅانو پاڅون او پر کرمان یرغل شنډ کړی و. پر دې بنسټ ګرګین ته امر شوی و، چې له وړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواك سره يوځای د كندهار پر لوري حركت وكړي. د ۱۷۰۴م_۱۱۱٦ق كال په مې مياشت كې گرگين له خپلو پوځيانو سره له كرمانه د كندهار پر لوري حركت وكړ، چې تر اوو اوونيو وروسته كندهار ته راغی(۱۷۰۴ جون).

گرگين- پاځون شاته وتمباوه او په كندهار كې يې امن واكن كړ. اوس نو گرگين په كندهار كې د خپل پاینښت لپاره دوه عمده كارونه په مخكې لرل، يو د ابدالي قبيلې رئيس دولت خان سدوزي كمزوری كول، ځكه چې د بېگلربېگي په توگه يې قناعت نه كاوه او دويم كار د ميرويس خان برمته كول او له منځه وړل و، چې تر ټولو نفوذ لرونكی قومي شخصيت و. د لكهارت په وينا پنځوس زره غلجي كورنۍ پسې ولاړې وې .

گرگين د خپلې لومړۍ موخې د عملي كولو لپاره، ميرويس خان ته د دوستۍ لاس وغزاوه او د كندهار كلانتري يې وروسپارله. ميرويس خان چې يو دراك او د غور خاوند شخصيت و، دا يې غوره وگڼله چې گرگين ته نژدې وي�د گرگين په وړاندې به يې اطاعت او همكاري ښووله. گرگين به هم دی د هغه د شور لرونكي فطرت او ډېر نفوذ له كبله يو خطرناك كس گاڼه).�۱۰(

په هر حال، گرگين چې يو دوكه مار او دوه مخی سړی و، د دولت خان سدوزي تر له منځه وړلو وړاندې يې د ميرويس خان په وړاندې خپل هر ډول پټ نيت پټ كړ، هڅه يې دا وه چې د دولت خان دولت او قبيله ړنگه كړي. په دې برخه كې يې ېېلابېلې لارې وكارولې. هغو كسانو يې مرسته وكړه چې په ابدالي قبيله كې ځينو كسانو ورسره مرسته كړې وه چې دولت خان ونيسي. له بده مرغه چې دا ناپوه سيالان (عزت خان او اتل خان سدوزي) نه پوهېدل چې د دولت خان تر له منځه تلو وروسته د گرگين په لاس د دوی د له منځه تلو وار هم رارسېږي، دوی د يوې توري شپې په نيمايي كې گرگين د هغه له خونړي پوځ سره يوځای په ښارصفا كې د دولت خان كلا ته (د كندهار په ۳۰ ميلۍ كې) راوست .

د گرگين پوځيانو كلا محاصره كړه، دروازه يې ورماته او دننه شول. دولت خان چې يو زړور انسان و، د تېښتې پر ځای د گرگين مخې ته ورغی. گرگين هغه له ځنډ پرته وواژه. بيا يې د هغه زوی نظر محمد خان هم له منځه يووړ. كله چې كلا لوټل كېده دوو نورو زامنو يې رستم خان او محمد زمان له تيارې څخه په استفادې سره وتښتېدل او په ارغسان كې يې خپلو قوميانو ته ځانونه ورسول.

د ارغسان ابداليان چې له دې پېښې خبر شول، وسلوال شول او له گرگين څخه د غچ اخيستلو په نيت راووتل. گرگين ووېرېد او روغه يې وكړه، د دولت خان يو زوی رستم يې د قبيلې د رئيس په توگه په رسميت وپېژاند او د دې لپاره چې له ابدالي قبيلې كوم خطر ورته متوجه نه وي، د رستم خان ورور محمد زمان يې د يرغمل په توگه له ځان سره دربار ته يووړ او كرمان ته يې ولېږه، چې د يرغمل په توگه تر څارنې لاندې وي .

څلور كاله وروسته گرگين په يوه چل رستم خان ځان ته وغوښت،لومړی يې زندان ته وسپاره، بيا يې وواژه. په عين حال كې د ابداليانو پاتې خلك يې تر فشار لاندې ونيول، ويې لوټل او خپل پوځ ته يې وسپارل. بيا يې د كندهار په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنوب کې د شورابك يا بکوا وچو او بې اوبو دښتو او ځينې يې هرات او ځينې يې کرمان ته تبعيد کړل (۱۱۱۹ق ـ ۱۷۰۷م)).۱۱(

ګرګين د ابداليانو حاصل ورکوونکې ځمکې د غلجيانو پر مشرانو وويشلې او په دې توګه يې د افغاني قبايلو ترمنځ د نفاق او دښمنۍ اور بل کړ .

د لکهارت په وينا، ابداليان چې د اتلسمې پېړۍ په پيل کې (د صفوي دولت پرضد د ابداليانو د پاڅون پر مهال، په هرات او فراه کې اوسېدل، شمېر يې تر ٦٠ زرو کورنيو رسېده).

لکهارت يادونه کوي: �غلجيانو د لومړي ځل لپاره د لومړي شاه عباس د پاچايۍ پر مهال (د اوولسمې پېړۍ په نيمايي کې) اهميت پيدا کړ. وروسته تر دې چې ابداليان د غلجيانو د فشار له کبله (او د صفوي دولت د تفرقه اچونې له کبله) له کندهاره هرات ته شاته شول. دويمې قبيلې (غلجيانو) په کندهار او زمينداور کې ډېر زور پيدا کړ، ځکه چې غلجيانو پر سني مذهب ايمان درلود، نو پر کندهار يې د ايرانيانو واکمنۍ ته په پردۍ سترګه کتل، چې وجه يې د لومړي شاه عباس چلند و).۱۲(

د (تفرقه واچوه او خلکو ته تمه ورکړه) سياست يوځل بيا په کندهار کې راژوندی شو، چې نادر افشار کندهار تر يوولس مياشتنۍ محاصرې وروسته په ۱۷۳۸م کال ونيو. څرنګه چې د هرات او فراه ابداليانو په ايران او شا و خوا سيمو کې د نادر افشار په ګټه توري وهلې وې، نادر افشار هم د ابداليانو او نورو افغاني مشرانو د خپلولو په موخه چې د کندهار په نيولو کې يې مرسته کړې وه، مازندران، خراسان، بخارا، بلخ او نورو سيمو ته د هوتکي سلطنتي کورنۍ او نوموتو اشخاصو تر شړلو وروسته يې امر وکړ چې د نيشاپور، ايران او هرات ټول ابداليان دې کندهار ته ستانه شي او د غلجيو خانانو ځمکې دې راخپلې کړې (دا ځمکې وړاندې د صفوي دولت له خوا د دې قبيلې خانانو ته ورکړل شوې وې)).۱۳(

طبعاً د نادر افشار دا اقدام ابدالي قبيلې ته يوه پېرزوينه او له دې څخه ملاتړ و، چې د کندهار نيول يې اسان کړل، کنه نادر د يوې افغاني قبيلې پروا هم نه درلوده. يوازېنی شی چې ورته ارزښتمن و، هغه پر سيمو د ده واکمنې او پر هندوستان د لښکرکښۍ لپاره د ځواکونو برابرول وو .

## د پاڅون لپاره زمينه :

د صفوي دولت له خوا د کندهار تر دايمي تصرف وروسته، د اوقافو، مدد معاش او نورو سيمو له خلکو څخه د صفوي مشرانو له لوري له خلکو اضافي ماليات اخيستل کېدل، يا به هم له ځينو کسانو ځمکې اخيستل کېدې او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو کسانو ته ورکول کېدي، دغه راز په صفوي دربار کې د شیعه روحانیت پراخېدونکی نفوذ زیاتېده، چې سني مسلمانان یې ځورول. د همدې ستونزو له کبله د صفوي دولت اداري او مالي دستگاه کمزورې او ړنگه شوه .

د شاه سلیمان صفوي د واکنۍ په پای کې انفلاسیون دومره غالب شو چې د سکې ارزښت زیاتېدو لپاره له خلکو د سرکال مالیات هم په زوره اخیستل کېدل، خو په بل کال کې به یې دا مالیات نه مجرا کول. دې سیاسي او اقتصادي پاشلتیا د ایراني کروندگرو د هېوادپالنې حس کمزوری کاوه. د ایران په نسبت به یې د قسطنطنیې مېړانه زیاتوله، دغه راز یې د ډېلي زړورتیا او د بابر احساسات پارول، چې د شېباني ازبکانو بریدونه یې هم زیاتول، د صفوي دولت په وړاندې چې د هېوادپالنې او خپلواکۍ حس راوپاراوه... د شاه صفي (١٦٣٩_١٦٤٢) په لنډه واکمنۍ کې نه یوازې کندهار د ازبکانو په لاس له صفوي دولت څخه وایستل شو، بلکې همدان او بغداد هم د عثماني ترکانو له خوا د صفویانو له لاسه ووتل. د شاه سلطان حسین صفوي په راتگ سره د صفوي دولت سیستم سره گډوډ شو، چې د بیارغونې هیله یې نه کېده).۱۴(

د پولېنډي کشیش کروسینسکي په وینا: �شاه سلطان حسین به خپل ډېر وخت په شاهي حرمسرای کې تېراوه، کله چې به رابهر شو، یوازې به یې خلك ځورول).� ۱۵(

د غبار په وینا: �د شاه سلطان حسین په واکمنۍ کې د دولت مرکزیت کمزوری شو، د دربار وزیران، سرتېري، روحانیون، خواجه سرایان او فال کتونکي په خپلو کې په شخړو بوخت وو. په اړوندو ولایتونو کې واکمنو فیوډالانو د خپلواکو او نیمه خپلواکو واکمنانو بڼه غوره کړه، چې مرکزي دولت ته به یې مالیات نه ورکول.

څرنگه چې به دولتي خزانې کسر درلود، له دې کبله به یې مامورینو ته د معاش پر ځای ځمکې ورکولې .

دا ځمکې میراثي نه، بلکې لنډمهاله وې، نو د ځمکې خاوند به یې اړ ایسته چې لاسته راتلونکې گټې ته په پام سره مالیات ورکړي. له مالیاتو معاف شوې لویې ځمکې بیا د روحانیونو او مذهبي هدیرو په واك کې وې، خلك د معاشونو د نشتوالي، د واکمنو او فیوډالانو د ستم له کبله ډېر ځورېدل .

همدې کار د مرکزي دولت سقوط ته لار اواره کړه. د ایران ملت دې فاسدې اداري له کبله ډېر گیله من و، چې تر مرکز ډېرو لیریو ځایونو کې یې د دولت پرضد پاڅون کولای شوای).١٦(

د شاه سلطان حسین د واکمنۍ په پنځلسمو کلونو کې، د صفوي کمزوري دولت په وړاندې لړ تر لړه لس پاڅونونه وشول، چې مسوولیت یې تر هر چا وړاندې د شیعه روحانیونو پر غاړه و، چې د دود له مخې یې یوازې د حل پر لنډمهالو لارو غور کاوه. د شاه سلطان حسین د مرکزي دولت په وړاندې د کندهار د افغانانو پاڅونونه یوازې د دې دورې پاڅونونه نه وو، بلکې د هېواد په گوټ- گوټ کې د گڼو پاڅونونو د لړۍ یوه کړۍ وه، چې زیاتې اقتصادي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنيزې او سياسي انګېزې يې درلودې. په دې پېر کې د شيعه روحانيت سختګيرۍ زياتې وې، پر نورو مذهبي لږکيو فشار و، چې همدې کار په لومړۍ درجه ټولو پاڅونونو ته مذهبي رنګ ورکاوه).۱۷(

په ۱٦۹۹م کال د کرمان بلوڅ قبايل تر يرغل لاندې ونيول شول، دوه کاله وروسته يانې په ۱۷۰۱م کال په کندهار کې هم پاڅون وشو .

ارواښاد فرهنګ د دې پاڅون يو لوی لامل د کندهار د يوه فيوډال دولت خان سدوزي بغاوت ګڼي او زياتوي: �د صفوي لړۍ وروستی پاچا شاه حسين چې په ۱٦۹۴م کال د اصفهان پر تخت جلوس وکړ، د کمزوري نفس خاوند، خرافاتي او بې ارادې انسان و. د دربار خلکو يې له يو بل سره سيالۍ کولې، د دوی د دسيسو له کبله په مرکز او ولايتونو کې د دولت اداره کمزورې شوه. د ابدالي قبيلې مشر دولت خان سدوزي د سدوخان د کينې له کبله (دی د دې قبيلې يو مشر و) د خپل نفوذ په مرسته په کندهار کې د صفوي والي له اطاعت څخه سرغړاوی وکړ، چې په سيمه کې يې اوضاع خړه پړه کړه. د اصفهان دربار تصميم ونيو، چې د دولت خان د ځپلو لپاره په کندهار کې يو سختګيره او انضباط لرونکی واکمن وټاکي. يو نوی مسلمان شوی ګرجي (کئورګي) او (ختنك) چې په تاوتريخوالي، اخلاقي نيمګړتيا او ظلم مشهور و وټاکه .

کئورګي چې په افغانانو کې يې د ګورګين په نوم شهرت وموند، په ۱۷۰۴م کال د شاهنواز خان په لقب او بېګلربېګي (اعلی حاکم) په توګه له يوه پوځ سره چې په کې ګرجيان او قزلباشان وو، کندهار ته راغی او هڅه يې وکړه چې په سيمه کې د خانانو او اميرانو نفوذ ختم او په کندهار کې مستقيمه اداره ټينګه کړي. څرنګه چې يو دسيسه ګر انسان و، نو لومړی يې له ابدالي مشرانو (د دولت له سيالانو سره) دوستي ټينګه کړه، دغه راز يې د غلجيو يو مشر اميرخان هوتك (ميرويس خان) ډېر ونازاوه).۱۸(

لکه څنګه چې اشاره وشوه. د ګرګين سرتېري په ټوليز ډول له ګرجيانو جوړ و، چې د فاتح پوځ په توګه يې پر کندهاريانو هر ډول ظلم او تېری کاوه. د (پښتنو تاريخ) کتاب په حواله، له لاسه يې نه سپين ږيرو، نه هم ځوانانو، نه نارينه وو او نه ښځو ښه ورځ لرله).۱۹(

له دې کبله د هرې ورځې په تېرېدو سره به د صفوي واکمنۍ په وړاندې د ناراضو خلکو شمېر زياتېده، په دوی کې يو ډېر هوښيار او دراك انسان ميرويس خان هم و، چې د خپل ځانګړي ځراکت او هوښيارۍ له مخې يې د يوه ټوليز پاڅون لپاره زمينه برابروله.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د کندهار د پاڅون لپاره د میرویس خان هوښیاري:

میرویس خان د ښالمخان زوی (د هوتکي- غلجیو یو خان) له نژدې څخه پر خپلو هېوادوالو د بهرنیو حکومتونو د ظلم او تبعیض شاهد و. هم یې په تجارتي برخه کې لیدل چې د کندهار ډېر عایدات او نور مالونه څنګه د پردیو جېبونو ته لوېږي، دغه راز یې لیدل چې باید عام خلك ۳۰ زره بهرني سرتېري په خپل مزد او لاس ګټلې متاع سره تغذیه کړي. دغه راز د ایران واکمنو د تکبر او تبعیض دروند بار به پر خپلو اوږو ولېږدوي، نو هڅه یې وکړه چې د قوم پاشلي ځواکونه سره یو او بهرنۍ واکمني ختمه کړي. نو د دې ډول هڅې لپاره عمومي شهرت، باور او نفوذ په کار و. د قبایلو خانانو دی له وړاندې پېژانده او خپل ملګری یې ګاڼه .

د ښار خلکو هم د هغه شریفانه او خیرغوښتونکې هڅې د سر په سترګو لیدلې وې او ورباندې باوري وو. هغه څه چې پاته وو د عمل ازادي وه او دا د یوه نظامي حکومت د څارنې په وړاندې شوني نه وو. نو میرویس له دښمن سره د دوستۍ لار غوره کړه، په خبرو، مشورې او خدمت سره یې له ګورګین سره مرسته وکړه چې له سرکښو قبایلو مالیات راټول او اداري او نظامي چارې دې پر ځان متکي کړي، تر دې چې ګورګین دی د کندهار د کلانتر په توګه وټاکه، ځکه چې پر لیاقت او کفایت یې باوري و او هغه مهال دې رتبې د بلدیې (ښاروالۍ) ریاست او ښاري انتظام چارې په خپله لمن کې رانغاړلې .

میرویس خان په کندهار کې د خلکو باور راخپل کړ، د خلکو او حکومت ترمنځ یو ډول پول شو، په همدې وخت کې یې له قبایلي خانانو سره صمیمي اړیکي او غمشریکي ساتله، بله دا چې دی د ابدالیانو زوم و، له دې کبله هغوی ورڅخه کرکه نه درلوده .

خلك د حکومت د ظلم او تېري له کبله پوزې ته رسېدلي وو، چې د چارې لټه یې کوله او میروس ته راغلل. میرویس خان شاه حسین صفوي ته یو لیك ولیکه، چې په هغه کې یې د ګورګین ظلمونه یاد کړي وو، پر لیك میرویس خان او د ښار نورو مخورو کسانو لاسلیکونه وکړل، چې وروسته د قوم د امانتکاره کسانو له خوا د اصفهان دربار ته ولېږل شو .

تمه کېده چې د خلکو له ګرېوانه به د ګورګین او پوځیانو لاسونه لنډ شي، خو د صفویانو فاسدې اداري دغو شکایتونو ته د غوږ نیولو وخت نه درلود، ګورګین د خپل ورور له اقدام څخه چې په صفوي دربار کې یې د دېوان بېګي دنده لرله، خبر شو، میرویس خان یې له کلانترۍ څخه لیرې کړ، د څو شکایت لرونکو لاسلیکونه یې واخیستل او د ایران دربار ته یې یو پټ لیك ولېږه او دی یې د ایران دولت دښمن معرفي کړ (۱۷۰۷م کال) د یوه روایت له مخې صفوي دولت هم میرویس خان او د هغه ملګري دربار ته نژدې په بند کې واچول).۲۰(

میرویس خان په هماغه کال (۱۷۰۷) د هند شهزاده د اورنګزېب زوی ته، چې د کابل واکمن و(۲۱) یو بل لیك ولېږه او په کې لیکلي یې وو چې تصمیم لري د پاس د شاه پرضد پاڅون وکړي. له شهزاده څخه هیله کوم چې د هند

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



معظم او درانه پاچا ته زما د حال حقیقت څرګند کړي.(۲۲) میرویس خان په اصفهان کې د خپل بند پر مهال د شاه پر کمزوري نفس او کم عقلۍ وپوهېد، چې د خواجه سرایانو او ملایانو د لاس اله وه، ځینې تدبیرونه یې وکارول چې د ګورګین تور له ځانه لیرې کړي.

په دې وخت کې یې د دولتي اداري ټول ماهیت او ظرفیت په سم ډول مطالعه کړل چې څومره په فساد کې راښکېله وه. پاچا یو بې کفایت او مامورین نالایق خلك وو. کارکوونکي او سرتېري رشوت خوړونکي او لټان اموخته شوي وو. اداري چارې پاشلې او شاه هم په فال کتلو، دعا لوستلو او له خواجه سرایانو سره پر مجلس بوخت و. د ایران خلك د ملاماتوونکو مالیاتو او د دولت له کبله ډېر په تنګ شوي وو .

میرویس خان باوري شو چې له داسې یوې مفسدې اداري څخه خپلواکي اخیستل اسان کار دی، خو د افغانانو د نظر یووالی لومړنی شرط و، هغه مهال د خلکو واك، د سیمه ییزو خانانو او ملایانو په لاس کې و، دا خانان له یوې خوا له صفوي واکمنانو سره او بل پلو له سیالانو سره پر شخړه بوخت وو. ملایانو هم خلك دېته هڅول چې پر خپل بل مسلمان ورور باندې توره له تېکي راوباسي).۲۳(

پولېنډي کشیش کروسینسکي چې اصفهان ته د میرویس خان او د افغانانو له لورې د اصفهان د کلابندۍ پر وخت (۱۷۲۲م) په هغه ښار کې حاضر و او خپلې لیدنې یې په یوه رساله کې لیکلې دي، د میرویس د ملي وجاهت په باب یې کښلي دي: �په افغان قبایلو کې میرویس خان د باور او درنښت وړ کس و، چې افغانانو ورته درناوی درلود. ډېر غرور یې درلود، مدبر او د تجربې خاوند کارپوه او ماهر انسان و، څرنګه چې افغانانو یې اطاعت کاوه، له دې کبله یې د هند له اوسېدونکو سره ځانګړې مینه وه، ډېره شتمني یې درلوده، هرځای یې سفرونه کول له دې کبله یې ډېره شتمني لرله. ګورګین چې د ده دا درناوی او پلویان ولیدل، ځان ته یې وغوښت، ویې نازاوه او د ځان له لوري یې ډاډمن کړ، په دې پلمه چې ګواکې یو مدبر او عاقل انسان دی، نو ځکه غواړي دی د ځینو درنو کارونو لپاره اصفهان ته ولېږي. ژمنې یې ورسره وکړې او د هیلو دروازې یې ورته پرانیستلې).۲۴(

په (سقوط اصفهان بروایت کروسینسکي) نوي کتاب کې د میرویس خان په باب لولو: �میرویس خان چې د کندهار کلانتر و، په کندهاریانو کې د خپلو ښو اخلاقو له مخې په یوه تجربه لرونکي کس بدل شوی و. د ګورګین تر پام یو خطرناك سړی ښکاره شو، د ولایت واکمن پرېکړه وکړه چې له کندهار څخه یې لیرې کړي. ګورګین خان چې کله شاه ته راپور ورکاوه، نو پر میرویس خان یې د خپل شك په باب هم ولیکل او وړاندیز یې وکړ چې اصفهان ته دې وشړل شي... تر شك لاندې میرویس خان د دې پرځای چې په اصفهان کې تر څارنې لاندې وي، د خپل تدبیر له کبله یې وکړای شول نه یوازې دربار ته لار پرانیزي، بلکې د کروسینسکي په وینا د وزیرانو او مشرانو لپاره د رازونو محرم شو او هر وخت به یې په غونډو کې حاضر و. اصفهان ته د میرویس خان لیرې کول او په دربار کې یې استوګنه د هغه لپاره ځکه ګټوره تمامه شوه چې په ذهن کې به یې ډېره غټه سودا پخوله. دا یو ښه چانس و چې له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت څخه په استفادې سره د دربار حالت او وضعه ځان ته معلومه کړي، پر همدې مهال يې د دوو ډلو (درباريانو او اميرانو) ترمنځ مخالفتونه او کينې له نژدې وليدې.�

د فرانسوي کشيش (دوسرسو) په وينا: �د درباريانو ترمنځ د ډلبنديو له خبرېدو يې تصميم ونيو چې په هغو کې د نفوذ په مرسته له دواړو ډلو څخه استفاده وکړي، خپله لار يې په داسې مهارت سره اواره کړه، چې يوه ډله هم ورباندې شکمنه نه شوه).�٢٥(

نو ميرويس خان په خپل ځراکت او درايت سره وکړای شول د اعتمادالدوله (لومړي وزير- صدراعظم) او دېوان بېگي (د گورگين د ورور) پام ځان ته راواړوي او شاه حسين پر گورگين شکن کړي. د کروسينسکي په وينا څرنگه چې دروند سړی و، خپله لوړه- ژوره يې په غور، سوچ او تفکر سره وڅېړله، له همدې کبله صفوي شاه دوی له بند څخه ازاد کړ او اجازه يې ورکړه، چې بېرته کندهار ته ستون شي .

خو ميرويس خان کندهار ته تر راتگ وړاندې د حج لپاره مکې ته لاړ، مکې ته د ميرويس خان سفر د کندهار پاڅون ته د عطف ټکی هم گڼل کېږي، شايي ميرويس خان به دا سوچ کړی وي، چې د کندهاريانو پاڅون ملي صبغه پيدا کړي، ځکه ديني انگېزې کولای شول چې په ټولو افغان قومونو کې يووالی رامنځته کړي او د ده غوندې يوه مشر اطاعت ته يې راوبولي. ميرويس خان په سفر کې په ديني مسايلو پوه کسانو سره خبرې وکړې. د کروسينسکي په اند، هغوی ته يې وويل: �ډېره موده کېږي، چې عجم پاچايان راباندې واکمن دي او موږ يې رعيت يو، پر موږ ډېر زياتی کوي، واکمن و جاهل، ناپوه او بې ايمان دی. لښکر يې هم ظالم دی، چې پر موږ هر ډول ظلم او تېری کوي. دوی يې ساتندويان نوموي، چې هر وخت نارواوې کوي. جور او جفا کوي، زموږ پت او ناموس ته لاس راغزوي، هېڅ ډول زړه سوی نه راباندې کوي. زموږ اولادونه راڅخه غلا کوي او گرجستان ته يې وړي. هلته يې پلوري، مېرمنې مو هم په زوره راڅخه ودوي، که موږ ديني غيرت ولرو، ايا شرعاً روا نه ده چې پر وړاندې يې توره راوباسو او که هرځای يې وينو ويې وژنو؟ که جگړه وکړو، جهاد به وي، ايا زموږ له خوا وژل شوي کسان د خدای په لا رکې شهيدان شوي؟ نو که چېرې برى زموږ وي، که يې ناموسونه وپلورو، پر موږ حلال دي؟ دا فتوا وليکئ چې پر خپله ستونزه وپوهېږو).�٢٦(

ميرويس خان په دې دليلونو سره د مکې له مذهبي پوهانو څخه د افغانانو لپاره په ليکلي ډول فتوا واخيسته، د شاه عباس په پېر کې هم د مکې پوهانو، د رافضيان پر وړاندې د سيف پر پاڅون فتوا صادره کړې وه، چې په کې راغلي وو: �که کوم مسلمان يو پوځي مسيحي وواژه، يو ثواب يې کړی، خو که څوك يو ايرانی (شيعه) ووژني، داسې ثواب يې کړی، چې اجر يې اويا برابره زيات دی).�٢٧(

غبار دعوه کوي چې ميرويس خان په دې استفتا کې چې له مذهبي پلوه يې موخه د خلکو راپارول و، دا دوې نورې مادې هم ورزياتې کړې: �د يوه مسلمان ملت مذهبي فرايضو په ادا کولو کې د کوم حکومت له خوا خنډ رامنځته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، ايا دا ملت شرعاً دا حق لري چې د توري په زور ځان د دې ډول حکومت له شر څخه خلاص کړي؟ دويم: که قومي خانانو يوه ظالم پاچا ته له خلکو بيعت اخيستی وي، ايا خلك دا حق نه لري چې شرعاً دا ډول بيعت فسخ کړي؟.�

د مکې او مدينې ديني پوهانو دا دواړې پوښتنې او فتواوې مثبت ځواب کړې او په غوڅ ډول يې وليکلې.(۲۸) دا فتوا هغه مهال واخيستل شوه، چې په شماخي ولايتونو کې سنيانو د شيعه ګانو پرضد په پاڅون لاس پورې کړی و. شيعه ګان يې وژل او د عثماني دولت په پلوي يې شعارونه ورکول. ترکيې هم د دې ولايت نيولو ته تمه لرله او خلك يې د صفوي دولت پرضد هڅول. په هر حال، د مکې د ديني پوهانو فتوا ورکړل شوه، چې د فرانسوي راهب (دوسرسو) په وينا �په يوازې سر د ايراني دربار تر ټولو وزيرانو هوښيار و).�۲۹(

ميرويس خان د دې قوي مذهبي سند په مرسته اصفهان ته ستون شو، له شاه سلطان حسين او نورو وزيرانو سره يې وکتل، په دربار کې د ګورګين مخالفينو هم هغه په غوږ وواهه، چې ګواکې ميرويس يې د مقابلې ځواك لري. نو شاه د ميرويس خان د ځواکمنېدو لپاره په ظاهره له خپل استازي سره د کندهار د کلانترۍ فرمان د ګورګين په خوښه صادر کړ، ميرويس خان به د لارې په اوږدو کې هر ځای چې کوم قومي مشر او ملا ليده، راکښته کېده، خبرې به يې ورسره کولې او د ايراني دربار د فساد او د خپلواکۍ غوښتنې په باب به يې ورسره خبرې کولې، بيا به يې د مکې د پوهانو فتوا ورته د يوه معتبر سند په توګه وړياده کړه، ميرويس خان به د قبايلو، ملايانو او روحانيونو پر يووالي ټينګار کاوه او ټول يې د کندهار عمومي پاڅون ته په تمه کول. د سيستان، فراه، هلمند او کندهار خلك د ده پر لار پراته وو، د هر قوم خلکو د ده نيت تاييداوه).۳۰(

ميرويس خان په ۱۷۰۹م کال په ډېر درنښت سره کندهار ته دننه شو او په ډېر ځراکت يې له ګورګين سره اړيکې ټينګ کړل. ليکونه او پيغامونه به يې ورلېږل، دغه راز يې د هغه له ورور سره (چې په دربار کې يې د ديوان بېګې دنده لرله) ښه اړيکې وغزول.

## د کندهار ملي جرګه او د پاڅون پيل:

کله چې ميرويس خان کندهار ته ورسېد، په ظاهره يې له ګورګين سره پالل، خو په باطن کې د ابداليانو او غلجيانو له قبايلي مشرانو سره په کندهار کې دننه او بهر په مشوره او د پاڅون په طرحه بوخت و. د ميرويس خان لومړۍ جرګه په کوکران (د کندهار د لوېديځ په شپږميلۍ کې) ترسره شوه، چې د صفوي دربار د وضعې په باب يې خبرې وکړې او د حج د سفر له پوهانو سره د ليدنې او صفوي د مذهبي استبداد او ظلمونو په باب يې هم څرګندونې وکړې، د خلکو د يووالي غوښتنه يې وکړه او له هغوی څخه يې لوز واخيست).۳۱(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دي جرگې وروسته ګورګین میرویس خان ته پیغام ولېږه او د میرویس لور یې ځان ته وغوښته، میرویس چې د ګورګین د وژلو طرحه ورسره وه، د هغه دا شرمناکه غوښتنه یې ومنله او د خپلې لور پرځای یې خپله یوه مینزه د ګورګین حرم ته ولېږله).۳۲(

میرویس خان تر دې وروسته خپل فعالیتونه زیات کړل، چې د (مانجي= د کندهار د شمالي لوېدیځ په ۲۰ میلۍ کې) په ملي جرګه کې یې د مکې د عالمانو فتوا د جرګې ګډونوالو ملي مشرانوته څرګنده کړه او ویې ویل چې د ګورګین او پلویانو پرضد یې پاځون شرعي توجېه لري. په دې جرګه کې دغو مشرانو ګډون کړی و: سیدالخان ناصر، بابوجان بابی، بهادرخان، پیر محمد میاجي هوتك، یوسفخان هوتك، عزیز خان نورزي، ګلخان بابړ، نورخان برېڅ، نصروخان الکوزي، د میرویس ورور یحیی خان، وراره یې محمد خان، یونس خان کاکړ او نورو)..۳۳(

د جرګې له برخوالو سره تر اوږدو خبرو وروسته یې پر قرآن کریم لوړه وکړه چې ګورګین او د هغه پوځیان یوځای له منځه یوسي او یو خپلواك ملي حکومت دې جوړ کړي. په دې جرګه کې د قبایلي مشرانو لپاره دندې بېلې شوې، چې د خپلواکۍ ساتنې او مقابلې لپاره د صفوي دولت هر ډول اقدام ته تیاری ولري. د میرویس خان پرله پسې هڅې او وړتیا د دې لامل شوه، چې دا جرګه په خوښۍ سره پای ومومي او میرویس په خپله مشرۍ ومني .

د غبار په وینا: د دې تاریخي جرګې یوه څرګنده ځانګړنه دا وه چې د دود خلاف د ابدالیانو، غلجیانو، تاجکانو، هزاره وو، بلوڅانو او نورو قومونو متنفذ ملایانو یوه واحده ملي قوه جوړه کړه .

د جرګې له مقرراتو یوه دا وه چې څرنګه صفوي پوځ په کندهار کې ډېر دی، باید داسې لارې چارې وسنجول شي، چې ځواك یې راکم شي. نو د دې لپاره یې د تیرین اباد سیمې د بلوڅ قوم د یوه تن له خوا ګورګین ته د مالیاتو له ورکړې انکار وشو. له بلې خوا میرویس خان دېته وهڅاوه چې د بلوڅانو د ځپلو لپاره نظامي پوځیان واخلي او له تیرین اباد څخه دې په زوره مالیات واخلي. دغه راز کاکړانو ورپسې په ارغسان کې د مالیاتو له ورکړې انکار وکړ، چې ګورګین د درې زره سرتېرو په مرسته د یاغي خلکو په همکارۍ د مالیاتو اخیستلو لپاره له ښاره ووت. میرویس خان ته یې ویل چې له ښا څخه د قومي ځواکونو په مرسته ورسره مل شي. میرویس خان له ملي ځواکونو سره یوځای ځان ارغسان ته ورساوه او ګورګین یې د شپې د مېلمستیا لپاره د (ده شیخ- ارغسان) په یوه باغ کې راوباله. نیمه شپه وه چې میرویس خان او پلویانو یې توره له تیکي راویسته او داسې جګړه یې وکړه چې د دښمن یو تن هم ژوندی پاتې نه شو .

میرویس خان ناڅاپه د دښمن درې زره اسونه او وسلې واخیستې او د ښار لوري ته یې مخه کړه. د ښار ساتونکو په دې سوچ چې ګورګین راځي، دروازې خلاصې کړې، څکه میرویس خان د ګورګین جامې په تن کړې وې، نورو سرتېرو یې هم د ګورګین د سرتېرو جامې اغوستې وې .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس خان لومړی ګرجي ساتندویان ووژل، د هغوی پرځای یې خپل ساتندویان وټاکل، چې د ګورګین د پلویانو مخه ونیسي. تر سبا پورې له ټول صفوي پوځ څخه یو تن هم ژوندی پاتې نه شو، د ورځې په رڼا کې د لومړي ځل لپاره خلکو ته د دښمن بشپړه ماته او د میرویس خان برى اعلان شو).۳۴(

## میرویس خان د خپلواکۍ مدافع:

میرویس خان چې د دوو لویو امپراتوریو ترمنځ خپل خطرناك موقعیت درك کړ، د کندهار مشران او مخور یې مشورې او جرګې ته راوبلل، وروسته تر دې چې یې د افغان ولس سیاسي موقف د دوو شرقي او غربي دولتونو ترمنځ څرګند کړ، نو ویې ویل که راسره همږغي یاست او همکاري مې کوئ، تل به د خپلواکۍ بیرغ اوچت ساتو، چې د پردیو د غلامۍ کړۍ مو په غاړه نه شي. هغه څوك چې له خپلواکۍ سره مینه نه مني او د پردیو غلامي مني، زموږ ملګري نه دي. کولای شي داسې ځای ته لاړ شي چې هېڅ ظالم پرې واکمني ونه لري).۳۵(

د میرویس خان دې خبرو د کندهار پر خپلواکۍ پلویو خلکو د زړه له کومې اغېز وکړ او ټولو دی د قوم په مشرۍ ومانه. میرویس خان تر دې وروسته د ایران شاه ته، د صفوي دولت د تېرایستلو لپاره یو لیك ولېږه او د ملاتړ ترلاسه کولو لپاره یې د هند امپراتور ته هم لیك ولېږه. په هغه لیك کې چې د ایران شاه ته یې لیکلی و، د کروسینسکي په قول، په کې راغلي وو:

�افغانان د ګورګین له بد چلند څه په تنګ شوي، هغه یې له ګرجیانو سره یوځای وواژه. زه یې په کښلو، کښلو یووړم او کندهار ته یې ورسولم، بغاوت او سرکښي یې وکړه. که اوس پاچا غواړي غچ واخلي او دلته لښکرې راولېږي، افغان لښکر چمتو ولاړ دی. په مقابله او مقاتله به لاس پورې کړي، خدای مه کړه بری به ومومي او کندهار به د هندوستان پاچا ته ورکړي. هغه وخت به د دې کار چاره ډېره سخته وي. زه دا وړاندیز کوم چې یو څه وخت دې د لښکرو رالېږل بند شي، څرنګه چې زه په افغانانو کې نفوذ لرم، زه به یې د فتنې اور ووژنم).�۳٦(

## د هندوستان پاچا په لیکل شوي لیك کې راغلي وو :

�د کندهار خلك د صفوي واکمنۍ پرضد پاڅون کړی او خپله خپلواکي یې ترلاسه کړې ده، که کوم وخت د ایران پاچا د کندهاریانو پرضد لښکرې راولېږلې موږ به اړ یو ستاسو مرسته وغواړو، ایا د هند پاچا مرسته به مو مرسته وکړي، که یه؟.�

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هند پاچا د میرویس خان له خوا لېږل شوی کس له مثبت ځواب سره راولېږه.(۳۷) د هند مغولي دولت په ظاهره د کندهار خپلواکي په رسمیت وپېژنده، خو په پټه یې صفوي دربار ته پیغام ولېږه، چې د دې پېښې مخه ونیسي. هسې نه چې د پښتنو پاڅون د هند تر لمنو ورسېږي او هورې د غوریانو، غلجیانو، سوریانو او لودیانو د عظمت پخوانۍ خاطرې یې په ذهن کې ژوندۍ کړي).۳۸(

میرویس خان د واك تر گوتو کولو وروسته د دې پرځای چې ځان پاچا اعلان کړي او د ځان پر وړاندې د سیالانو د حسادت حس راوپاروي، ځان یې د قوم د مشر او له نورو سیمه ییزو مشرانو سره برابر شخص معرفي کړ. په دې توگه یې ټول قومي او سیمه ییز مشران دېته وهڅول چې د بهرنیو یرغلگرو په وړاندې یوموټي او د خپلې ملي خپلواکۍ ترلاسه کولو لپاره یووالی غوره کړي .

کله چې د دې پاڅون خبر د اصفهان دربار ته ورسېد، شاه حسین صفوي خپل یو تن استازی کندهار ته ولېږه چې په نصیحت، وعظ یا هم گواښ او ننگوني سره میرویس د ملي خپلواکۍ له ادعا څخه راوگرځوي. خو میرویس خان د صفوي دربار استازی بندي کړ. سید جمال الدین افغان په (تتمة البیان فی التاریخ افغان) کې کاږي چې صفوي دربار خپل استازی محمد جامي خان کندهار ته ولېږه، چې کندهار ته ورسېد، د دې لپاره چې مخالین ووېروي د ایراني دولت د عظمت او د شاه د قدرت په باب یې خرگندونې وکړې .

میرویس خان یې په ځواب کې وویل: �ایا تاسې گومان کوئ، چې عقل او حکمت به د افغانستان د غرنیو خلکو په دماغونو کې پیدا نه شي؟ که ستاسو د شاه په قدرت کې زموږ د ځپلو زور وي، ستاسو رالېږلو ته به حاجت نه و، چې داسې بې مانا خبرې راته وکړئ�. وروسته میرویس خان خپلو ساتندویانو ته مخ واړاوه او ویې ویل: �بندي یې کړئ)�!۳۹(

صفوي شاه د خپلو بېرندوکو درباریانو په مشوره کندهار ته یو بل اېلچي ولېږه. دا دویم استازی د هرات والي محمد خان بلوڅ و، چې له میرویس خان سره د حج په سفر کې ملگری شوی و، میرویس خان دې دویم استازي ته وویل: �د خدای شکر پرځای کړه چې د خبرو چانس خو لرې. لکه د هغه بل غوندې برخلیك به درپه برخه کېده. د غرونو خپلواك خلك د بندگیو په لومو کې نه رابندېږي. زمریو زنځیرونه شلولي او تېرې توري یې په لاسونو کې دي، چې تیکي ته یې نه دننه کوي).�۴۰ (

بیا یې زیاته کړه چې که چېرې زموږ د دوستۍ حرمت نه وای، ته به مې هم بند ته لېږلې، خو تا د مېلمه غوندې پالم .

دویم مېلمه هم تر څارنې لاندې ونیول شو، هرات یا د ایران صفوي دربار ته یې د تگ مخنیوی وشو. په همدې موده کې د ایراني ځواکونو پر وړاندې د مقابلې لپاره ډېر ترتیبات ونیول شول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د دویم استازي د نیول کېدو خبر اصفهان ته ورسېد، د هغه دولت وزیرانو ته څرګنده شوه، چې میرویس خان په غوړو ژمنو او تمو سره له خپله هوډه نه اوړي. نو په دې تکل کې شول چې کندهار ته ځواکونه ولېږي.

خو د دې پرځای چې له مرکزه کندهار ته ځواکونه ولېږي، په هرات کې د ایران مېشتو ځواکونو ته امر وشو، چې د میرویس خان د ځپلو لپاره کندهار ته حرکت وکړي. میرویس خان له پنځه زره ملي پوځ سره د صفوي ځواکونو مقابلې ته تیارى درلود. په هغه جګړه کې چې پېښه شوه، میرویس خان پر دښمن بریالى شو. صفوي ځواکونو شاتګ وکړ او هرات ته ستانه شول).۴۱(

تر دې وروسته اتلسو میاشتو کې د اصفهان له لوري څلورځلې پر کندهار لښکرې راغلې، چې یوازې یې زیات تلفات ولیدل. صفوي دولت بل برى ترلاسه نه کړ، وروستى ځل محمد خان د تبریز واکمن و، چې د پنځه زره کسیز پوځ په ملګرتیا د کندهار له جنګیالیو سره په جګړه بوخت شو، میرویس خان یوازې پنځه سوه افغان سپاره د مقابلې لپاره لېږلي وو، چې په پایله کې د دښمن زر تنه پوځیان مړه یا هم ټپیان شول، پاتې نورو یې تېښته وکړه. واکمن له خپلو درېیو زامنو سره ونیول شو)۴۲(

د صفوي دولت د کندهار د نیولو لپاره د ګورګین وراره خسروخان له ۲۵۰۰۰ پوځیانو سره ولېږه (۱۷۱۰). لکهارت لیکي چې دا پوځونه د ۱۷۱۰م کال په نومبر کې فراه ته ورسېدل او د ۱۷۱۱ تر دوبي پورې هلته تم شول. پر دې مهال یوه ډله ابدالي ځواکونه هم له هرات څخه راغلل او دواړو د کندهار پر لوري حرکت وکړ).۴۳(

د میرویس خان ځواکونه چې غلجیو او بلوڅانو په کې ونډه لرله، د (پېتې خزانې) لیکوال د پلار داودخان تر مشرۍ لاندې د فراه پر لوري د خسروخان مخې ته ووتل. څرنګه چې د خسروخان ځواکونه ډېر وو، د میرویس خان ځواکونه تر شاه شول او په ګرشك کې د هلمند رود پر غاړه د دښمن راتلو ته په مورچو کې پټ شول. د میرویس خان ځواکونو دلته څو ځلې له ځانه ورتیا وښوده، چې د خسروخان ځواکونه یې مات کړل. خو خسروخان خپل ځواکونه له سره سمبال کړل، چې دا ځل غلجیانو ماتې وخوړه او کندهار د صفویانو له خوا کلابند شو (۱۱۲۳ق= ۱۷۱۲م) خو دا برى تلپاتى نه و، ځکه د ښار خلکو په ټینګه دفاع کوله او تر ښار دباندې میرویس خان ترینان او بلوڅان او د پښین خلك د دښمن پرضد وهڅول چې یو شپاړس زره کسیز پوځ تیار کړي او پر دښمن برید وکړي. په دې توګه کندهار ډېر ژر د پردیو ځواکونو له یرغل څخه وژغورل شو. خو خسروخان له ۲۵زره کسیز پوځ سره د کندهاري پاڅونکو له تېغ څخه تېر شول او د جان ملکم په وینا د صفوي له ۲۵زره کسیز یرغلګر پوځ څخه یوازې ۵۰۰_۷۰۰کسان ژوندي پاتې شول، یانې نور ووژل شول).۴۴(

غبار د ابدالي او ایراني پوځونو د یوځایوالي په باب په دې باور دى چې د ایران سپهسالار خسرو چې د کندهار نیولو ته ګمارل شوى و، له کرمان څخه د تېرېدو پر مهال د دولت خان ابدالي زوى زمانخان چې له ایرانیانو سره یرغمل نیول شوى و، خوشې کړى شو، چې د کندهار د ابدالیانو د رئیس په توګه وټاکل شو او ده هم ورسره ومنله. زمانخان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې له ځان سره راوست او ړ يې کړ چې په دې جګړه او کلابندۍ کې په ځان پورې ځينې اړوند ابداليان د کندهار د ځينو غلجيانو پرضد په جګړه کې ګډون وکړي، خو د کندهار ابداليانو د ميرويس خان له خوا د خپلواکۍ تر اعلانېدو وروسته د حيات سلطان ابدالي د زوی عبدالله خان چې د زمانخان د پلار له خوا ملتان ته په هجرت اړ ايستل شوی و، کندهار ته راوغوښتل شو او دی يې د ابدالي قبايلو په رياست ټاکلی و. په دې شېبه کې عبدالله خان په کندهار کې د ټولو ابداليانو د مشر په توګه وټاکل شو، چې له ميرويس خان او غلجي قبايلو سره په سوله او موافقت کې اوسېده. زمانخان اړ و چې له خپلو اتباعو سره خسروخان او ايران تورن کړي، خو زمانخان ملي روغه جوړه تر شخصي ګټو غوره وګڼله او له خپل قبيلوي سيال عبدالله خان سره پخلا شو، خسرو چې له ابداليانو څخه بېخي نهيلی شو، نو پر خپلو پوځونو يې تکيه وکړه او ښار يې کلابند کړ).۴٦(

په يوه ځای کې د غبار او فرهنګ روايت توپير سره لري: �کله چې خسرو د يوه ستر پوځ په مشرۍ د کندهار پر لوري روان و، د سدوزيو يوه مشر عبدالله خان چې پلار يې يو وخت د ابدالي قبيلې مشر او وروسته يې د ځينو ستونزو له کبله په ملتان کې استوګنه غوره کړې وه، له خپل زوی اسدالله خان سره له ملتانه د هرات پر لوري روان شو، چې د هغه ځای د ابداليانو مشري وکړي. دا دوه کسان په فراه کې له ايران پوځ سره مله شول، کله چې ايراني ځواکونه مات شول، هرات ته لاړل او هلته يې استوګنه غوره کړه).�۴۷(

په ۱۷۱۴م کال دوه نور ځواکونه، يو د رستم خان او بل د محمدزمان خان تر مشرۍ لاندې کندهار ته ولېږل شول، خو دا دواړو ګټه ونه کړه، په ځانګړې توګه کله چې له کرمان څخه يو پوځ د محمد زمان قورچي باشي تر مشرۍ لاندې ګمارل شوی و، چې کندهار ته نژدې د لارې په اوږدو کې د بلوڅانو د بريد له کبله ووژل شول .

د صفوي دربار له خوا پوځ ونه لېږل شو، ځکه چې دا مهال له فراه څخه تر کندهار، کلات او مقره پورې سيمې د يوه ملي واحد په توګه د ملي پوځونو په لاس کې وې، چې ټولو خلکو يې ميرويس خان د ملي اتل او خپل مشر په توګه پېژانده).۴۸(

ميرويس خان يو مبارز او ملي شخصيت و، چې د ګاونډيانو له سياسي اوضاع څخه هم ښه خبر و، دغه راز يې د حکومت کولو دود هم زده و. اته کاله يې په ډېره خپلواکۍ سره د خلکو مشري کوله، هر وخت به يې د خلکو له درد او ستونزو ځان خبراوه، خلکو هم ورته ډېر درناوی او ارادت درلود. هغه ته به يې (نيکه) وايه. ميرويس خان دا نوښتګر مبارز شخصيت چې د هوتکي لړۍ موسس و، د پردۍ واکمنۍ د ړنګولو او ملي خپلواکۍ د ټينګولو لپاره يې د افغانستان په يوه څنډه کې لار پرانيستله، خو ډېر لنډ عمر يې وکړ، ده لا خپله طرحه نه وه بشپړه کړې، چې په ۱۷۱۵م (د ۱۱۲۷ه، د ذيحجة ۲۸مه) يې تر اته کلنې واکمنۍ وروسته د ۴۱کلونو په عمر له دې نړۍ سترګې پټې کړې).۴۹(

چې د کندهار په لوېديځ د کوکران په سيمه کې خاورو ته وسپارل شو، پر شنخته يې دا بيت لولو:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بر سر مرقد ما چون گذري همت خوا

كه زيارتكدۀ مردان جهان خواند بود

په كندهار كې خلك تر اوسه پورې د هغه قبر ته د زيات لپاره ورځي او ځينې كسان د ځينو ناروغيو د درملنې لپاره له هغه څخه شفا غواړي، چې دا كار دغه باتور او مېړني كس ته د كندهار د خلكو اخلاص او ارادت ښيي .

افغانانو او خپلو پلويانو ته يې وروستۍ لارښوونه دا وه: �لومړی ستاسو كارونه خدای ته سپارم، دويم دا چې دښمنانو پرضد جهاد كې هڅه وكړئ، په هر حال كې خپله مېړانه وساتئ، بايد يووالی ولرئ او دښمن ته سر ټيټ نه كړئ، د ستونزو، درغليو او شومو موخو د شنډولو لپاره هڅه وكړئ، چې د عجم خلك نفاق او كركه كړي. دولتونه يې بايد ړنګ شي، د زړونو په يووالي سره حركت وكړئ، د خدای په مرسته به وربانديې بريالي شئ او اصفهان به ونيسئ).۵۰(

تر دې خبرو وروسته ميرويس خان ومړ او په كوكران كې ښخ كړای شو).۵۱(

تر دې وروسته يې ورور مير عبدالعزيز واكمن شو، مير عبدالعزيز يو نرم خويه انسان و، له صفوي دولت سره يې د سازش هوډ درلود. په دې موخه يې د ايران شاه ته يو ليك ولېږه چې خپل اطاعت يې په كې څرګند كړی و.

د ميرويس نيكه زوی محمود چې اكثره وخت به له خپل اكا سره و، سترګې يې پر ليك ولګېدې، چې د اكا له خوا يې د ايران پاچا ته ليكل شوی و، محمود ته مړينې پر وخت د خپل پلار خبرې يادې وې، د ليك په ليدو ډېر په غوسه شو، توره يې وكښله او د خپل اكا كټ ته ورغی، په يوه ګوزار يې وواژه. له كوره ووت او خلك يې له قرآني ايتونو سره سم د صفوي دولت پرضد جهاد ته راوبلل او ويې ويل: �زما اكا مير عبدالعزيز خپل قوم ته خيانت وكړ، يو څو ورځې پركراره وو، بيا يې غوښتل زموږ ګرېوان د دښمن منګولو ته وركړي).۵۲(

بيا يې د خپل اكا له خوا ايراني پاچا ته ليكل شوی ليك ولوست. افغانانو چې په جګړو كې د محمود زړورتيا ليدلې وه، مينه يې ورسره درلوده، دی يې د هغه د پلار د ځايناستي په توګه ومانه (۱۷۱٦م) هغه دا مهال ۱۸ كلن و.

سرچينې:


.21 .لسترنج: جغرافياى تاريخي سرزمينهاى خلافت شرقي، د محمود عرفان ژباړه، ۱۳۳٦، ۳۴۵مخ.

.3غبار: افغانستان در مسير تاريخ، لومړی ټوك، ۲۹۴_۲۹۵مخونه.

.4مير محمد صديق فرهنګ: افغانستان در پنج قرن اخير، لومړی ټوك، ۷۴مخ،


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.5لکهارت: انقراض سلسه صفویه، ۹۵مخ.

.6غبار: افغانستان در مسیر تاریخ، ۱۹٦۷م کال، ۳۰۰مخ، تاریخ مختصر افغانستان: ۲۰۵_۲۰٦مخونه.

.7حبیبي: هماغه اثر، ۲۳۵_۲۳٦مخونه. لکهارت: هماغه اثر، ۱۱۱مخ.

.8غبار: افغانستان در مسیر تاریخ، ۳۰۱مخ.

.9حبیبي: تاریخ مختصر افغانستان، ابدالیان، ۲۳۵مخ.

.10لکهارت: هماغه اثر، ۹۷_۹۸مخونه.

.11میرغلام محمد غبار: احمدشاه بابا، دویم چاپ، پېښور، ۱۳۷۸ل، ۱۱مخ، له تاریخ مختصر افغانستان سره دې پرتله شي، ۲۳۷مخ.

.12لکهارت: هماغه ځای، ۹۵، ۹٦ او ۱۱۱مخونه.

.13فیض محمد کاتب، نژادنامهٔ افغان، ایران چاپ، ۹۸مخ. فرهنگ: لومړی ټوك، ۱۰۷_۱۰۸مخونه.

.14پوهاند زهما: اریانا مجله، ۱۳۵۱، دریيمه ګڼه، �رستاخېز قندهار� نومې لیکنه، ۱۷_۱۸مخونه .

.15سقوط اصفهان، بروایت کروسینسکي: د سیدجواد طباطبایي بیالیکنه، ۲۲مخ.

.16غبار: هماغه اثر، ۲۹۱مخ.

.17ډاکټرشفا: پس از هزار و چهارصد سال، دویم ټوك، ۷۵٦مخ.

.18فرهنګ: افغانستان در پنج قرن اخیر، لومړی ټوك، ۷۵مخ.

.19قاضي عطا الله: د پښتنو تاریخ، لومړی ټوك، ۵٦مخ، د حربي پوهنتون چاپ، ۱۳۵٦.

.20ایران، کلده وشوش، د مېرمن ژان ډیولافوا لیکنه، وشوالیه لژیون دونور، پاریس، ۱۸۸۷م کال، د علي محمد فره وشي ژباړه، د تهران پوهنتون چاپ، ۱۳۷۱، ۲۵٦مخ.

.21هماغه اثر: ۱۱مخ، دا لیکوال بهادرشاه ته لېږل شوی چې لکهارت بیا د بهادرشاه په باب لیکي: نوموړی په ۱۷۰۷م کال د خپل پلار (اورنګزېب) پر ځای کښېناست او د بهادرشاه لقب یې غوره کړ.

.22کروسینسکي: ۱۱مخ (تعلیقات).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.23غبار: ۳۱۸مخ. د قاضي عطا الله خان تاريخ، لومړی ټوك، ٥٦_٥٧مخونه. ملسون: تاريخ افغانستان، د منشي احمدجان ژباړه، ۲۰٦_۲۰۹مخونه.

.24تاريخ سياح مسيحي، زياتونې او لمنليکونه د فقير محمد خيرخواه، ١٣٦٣، کابل، ١٨مخ.

.25سقوط اصفهان، بروايت کروسينسکي: د سيد جواد طباطبايي بياليکنه، ٣١_٣٢مخونه، د ١٣٨٢ل کال چاپ .

.26کروسينسکي: تاريخ سياح مسيحي، د فقير محمد خيرخوا په زيار، ٢١مخ .

.27سقوط اصفهان، بروايت کروسينسکي: ٣٢مخ.

.28غبار: افغانستان در مسير تاريخ، ٣١٩مخ.

.29 ۳۰. سقوط اصفهان، بروايت کروسينسکي: ۳۳مخ.

.31حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان، پېښور چاپ، ۲۴۳مخ.

.32پوهاند حبيب الله تږی: د کروسينسکي خاطرات، د ازاد افغانستان مجله، څلورمه ګڼه، ٥٦مخ.

.33حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان، ۲۴۳مخ.

.34غبار: افغانستان در مسير تاريخ، ۳۱۸_۳۱۹مخونه، د قاضي عطا الله د پښتنو تاريخ نومي اثر، لومړي ټوك ۵۵مخ سره دې پرتله شي. تاريخ افغانستان از ملسون، د منشي احمدجان پښتو ژباړه، ۲۰۲مخ .

.35حبيبي، تاريخ مختصر افغانستان، دويم ټوك، ۷۳مخ، هوتکيها: عبدالروف بېنوا، ١٣٣٥ل کال چاپ، ۴۴مخ.

.36کروسينسکي: تاريخ سياح مسيحي، ٢٦مخ.

.37هماغه ځای، ٦مخ.

.38حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان، ۲۴۴مخ.

.39سيد جمال الدين افغان: تتمة البيان فی التاريخ افغان، د محمد امين خوګياني ژباړه. ١٣١٨ کابل، ١٩_٢٠مخونه، ميرزا ملکم خان هم دا خبرې اترې په خپله کتاب (تاريخ ايران) کې راخيستې او ارواښاد علامه حبيبي بيا دا خبرې اترې په (تاريخ مختصر افغانستان)، ۲۴۵مخ کې راخيستې دي .

.40تاريخ مختصر افغانستان: ٢٤٦مخ .

.41حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان، ٢٤٦مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.42هماغه اثر: هماغه مخ .

.43لکهارت: هماغه اثر، ۱۰۴مخ .

.44حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان، ۲۴٦مخ .

.45سقوط اصفهان بروايت کروسينسکي: ۲۰ مخ.

.46غبار: افغانستان در مسير تاريخ، ۳۲۲مخ، او قاضي عطا الله، ۷۳_۷۴مخونه.

.47فرهنګ: هماغه اثر، ۸۱مخ .

.48غبار: ۳۲۰مخ، له (تاريخ افغانستان از ملسون) سره دې پرتله شي، پېښور چاپ، ۲۱۰مخ .

.49غبار: هماغه ځای، ۳۲۰مخ .

.50کروسينسکي: هماغه ځای، ۲۸مخ .

.51هوتکيها: عبدالروف بېنوا،۱۳۳۵ کال چاپ، ۷۹مخ. غبار: ۲۲۳مخ .

کروسينسکي: ۲۸_۲۹مخونه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیم څپرکی

## د شاه محمود افغان سرکښي او د ایراني صفوي دولت پاشلتیا (۱۱۳۴هـ ق= ۱۷۲۲م)

د عمده سرچینو پېژندنه:

د شاه محمود افغان او د هغه پوځیانو د اروايي او فزیکي پېژندنې لپاره، دغه راز پر اصفهان د افغانانو د یرغل په باب له تعصبه ډکو ایراني او افغاني سرچینو ته تر مراجعې وړاندې باید د اروپایانو یادښتونو او خاطرو ته پام وکړو، چې د افغانانو له خوا د اصفهان د کلابندۍ په بهیر کې هلته موجود وو، چې د اصفهانیانو، د ایراني واکمنانو د تدابیرو او له خلکو او دولتي کسانو سره د افغانانو د چلند په باب یې له کینې او تعصب پرته لیکنې کړې دي. په دې برخه کې درې نوموتي تاریخي اثار په لاس کې لرو، چې په اړونده موضوع کې مو مرسته کوي. لومړی اثر (تاریخ سیاح مسیحي) دی، چې د یوه پولېنډي کشیش کروسینسکي J. T Krusinske له خوا لیکل شوی او د (بصیرتنامې) او یا (عبرتنامې) په نومونو هم ژباړل شوی .

کروسینسکي ۲۰ کاله په ایران کې تېر کړل، داصفهان د محاصرې او فتحې په ستونزمنو ورځو کې هورې و، چې د ۱۷۲۵م کال د جون تر لومړیو، یانې په اصفهان کې د شاه اشرف افغان تر جلوس څو اونۍ وروسته هملته و، چې د خپل شهرت له کبله هم د شاه سلطان حسین په دربار کې منل کېده او هم یې له محمود افغان سره راشه درشه درلوده. له اوضاع څخه ښه خبر و، له دې کبله یې لیکنې هم له عیني واقعیتونو برداشتونه دي .

دا کتاب پر پارسۍ سربېره په ترکي، فرانسوي، انګرېزۍ او لاتینۍ ژبو هم ژباړل شوی، چې ایرانپوهان، نور څېړونکي او پوهان ګټه ځنې اخلي. د مسیحي ګرځندوی (سیاح) رساله په ۱۳۵۲ل کال په تهران کې (بررسهي های تاریخي) نومې مجله (۴_۵ ګڼو) کې چاپ شوې، چې په ۱۳۵۴ل کال بیا د ډاکټر اسمعیل رضوان له خوا په مستقل ډول په تهران کې چاپ شوې ده .

په افغانستان کې هم په ۱۳۸۲ل کال (پژوهشي نگاه معاصر در تهران) نومې موسسې د کروسینسکي رساله د سید جواد طباطبايي په زیار بیا لیکلې او چاپ کړې، چې په کې د یوه فرانسوي (دوسرسو) نظر هم راغلی دی .

دویم اثر ګراسننګ انګرېز لاس لکهارت اثر دی، چې (انقراض سلسله صفویه و ایام ایتلای افاغنه در ایران) نومېږي. له لومړي لاس ماخذونو او سرچینو څخه په ګټه اخیستلو د ګرځندویانو یادښتونه، د شرقي هند، هالېنډ، د فرانسې قنسول د استازو یادښتونه په کې راغلي، چې د اصفهان د کلابندۍ پر مهال یې په ګڼو اروپایي او ایراني سرچنو کې له علمي او تاریخي تحلیلونو سره یوځای چاپ کړي).۲(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کتاب لومړی ځل د مصطفی قلي عماد له خوا وژباړل شو، چې په ۱۳۴۳ل کال په تهران کې خپور شو، وروسته بیا د ډاکټر اسمعیل دولتشاهي له خوا هم وژباړل شو او په ۱۳۴۴ل کال په تهران کې چاپ شو. د عماد ژباړه په ۱۳٦۴ل کال بیا نوي او لیکوال (سیستاني) زیاتره له همدې کتاب څخه ګټه اخیستې ده.

درېیم مهم او ګټور اثر (اشرف بر تختګاه اصفهان) نومی اثر دی چې ډاکټر فلور په ایران کې د اصفهان د سقوط پر مهال د هالېنډ �د هند د شرقي کمپنۍ� د استازو د ورځنیو یادښتونو له مخې لیکلی، په دې اثر کې د ایران د دښمنانو لکه روسیې او عثمانیه ترکیې پر وړاندې د شاه اشرف د جګړو په باب ګټور مطالب راغلي دي. د یادونې وړ ده چې په دې درېیو اثارو کې د افغانستان د ملي غورځنګونو، په ځانګړې توګه د هوتکیانو د غورځنګ د تاریخ په باب ډېر مهم او ګټور مسایل او مطالب راغلي، چې څرګنده نه ده افغان تاریخپوهان ولې پام نه ورته کوي؟ ان د (افغانستان در پنج قرن اخیر) نومي کتاب لیکوال هم دغو اثارو ته سرسري کتنه کړې ده، حال دا چې په دوی کې د پوځیانو لړه توقع، د افغانانو جګړه ییزه روحیه، ډسپلین او عسکري نظم، خوراك، پوښاك، د افغان مېرمنو ګاڼه، صورت، خوی او اخلاق او له ایرانیانو یا ایران مشرانو سره چلند، د ټولنیزو ډلو او طبقو په باب یې لیدلوری، پر صفوي حکومتي نظام یې د بري لامل، ایرانیانو له لاسه یې د ماتې لاملونه او په سلګونو نور موضوعات په دې دوو اثارو کې راغلي دي .

## مخ پر وړاندې، پر اصفهان تر بري پورې:

شاه محمود (۱۷۱٦=۱۷۲۵م) د میرویس نیکه زوی یو ځواکمن او زړور جنګیالی و، خو د خپل پلار په کچه یې ځراکت، تجربه او تدبیر نه درلود، ځکه د جلوس پر مهال ۱۸کلن و او د خپل پلار مقام ته تر رسېدو پورې یې ډېر وخت ته اړتیا لرله. خو ډېر مسوولیت او لږې تجربې د هغه عمر لنډ کړ، ان تر درېیو کلونو هم.

د کروسینسکي د لیکنې له مخې شاه محمود افغان د ایران او په صفوي دولت کې د اختلاف او درز ونو په باب معلومات د خپل پلار له خولې، ان د مرګ پر وخت اورېدلي وو، له دې کبله یې د ایران تر زړه پورې د پرمخیون سوچ درلود).۳(

د هرات د ابدالیانو او د کندهار غلجیو له خوا د صفوي لښکرو تر پرله پسې ماتو وروسته دی په دې پوه شو چې په ایران کې اوضاع بدله ده، که هر زړور څوك وغواړي یو غوڅ او بریمن برید وکړي، بریالی کېږي. دی د ۱۷۱۹م کال په دوبي کې د یوه ۱۱۰۰۰کسیز پوځ په ملتیا (د لکهارت په حواله) له کندهاره ووت او داسې یې وښووله چې ګواکې له ابدالیانو سره د جګړې خیال لري، خو کله چې دلارام ته ورسېد، سیستان ته یې مخه کړه، د دې ولایت تر نیولو وروسته یې د کرمان لار ونیوله. د سیستان او کرمان ترمنځ په وچه او سوځنده دښته (کویر لوت) کې د محمود پوځ ډېر تلفات ورکړل. کله چې کرمان ته ننوتل، د ښار واکمن له جګړې او مقاومت پرته ښار پرېښود او اصفهان ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتښتېد. کرمان له تلفاتو پرته د شاه محمود افغان لاسته ولوېد، چې ۹میاشتې یې پرې واکمني وکړه. صفوي دولت محمد قلي بېګ قزویني له ۹۰۰۰سپاره پوځ سره یوځای د افغانانو مقابلې ته ولېږه، خو دا پوځ د شاه محمود افغان له خوا وځپل شو، په کندهار کې د سلطان بېجن لکزي تر مشرۍ او د ملك جعفر سیستاني (محمود سلطان بېجن یې په کندهار کې د خپل نایب په توګه ټاکلی و) په ملګرتیا د پاڅون خبر د اصفهان پر لوري د محمود افغان پرمخیون په ټپه ودراوه. ځان یې ډېر ژر کندهار ته ورساوه او په کندهار کې یې پاڅونکو مشران اعدام او امنیت یې ټینګ کړ).۴(

لکهارت په څرګنده د هغو کسانو نظر ردوي چې وایي ګواکې د قزلباشو قوماندان لطف علي خان داغستاني د محمود پر وړاندې جګړې لپاره کرمان ته لاړ او محمود ته یې ماتې ورکړه. نو ځکه د محمود لښکرو کرمان پرېښود، لکهارت دا خبره یوازې د لطف علي خان باتې ګڼي .

د مجمع التواریخ په روایت لطف علي خان (هغه څوك و، چې په بې تدبیرۍ، غرور او غوسه کې یې نوم درلود))۵(

په دې توګه لطف علي خان په غوځ ډول یو بې کفایت او بې زړه قوماندان ونومول شو، ځکه چې د محمد قلي بېګ قزویني تر مشرۍ لاندې د ۹۰۰۰کسیز پوځ له شتوالي سره سره یې د محمود پر وړاندې جګړه نه غوښته، ده هېڅ کوم نقش ونه لوباوه، دا پوځ یې په خپله رنګ شو. په هر حال، شاه محمود دوه کاله په کندهار کې تم شو، پر ایران یې د برید لپاره ځان څواکمن او په ۱۱۳۴ه (۱۷۲۱_۱۷۲۲م کال) یې له مجهز پوځ سره د اصفهان د نیولو لپاره له کندهاره ووت او د ۱۷۲۱م کال د اکتوبر پر ۲۱مه کرمان ته ننوت. کرمان له کومې ستونزې پرته د هغه لاسته ولوېد، خو ارګ د محمود پر وړاندې خپلې دروازې وتړلې او مقاومت یې پیل کړ، افغانانو د ارګ د نیولو لپاره ډېر درانه تلفات ومنل، خو بریالي نه شول. بیا یې ارګ کلابند کړ د کرمان قوماندان رستم محمد سعدلو چې ارګ یې له هره اړخه پیاوړی کړی و، په مېړانه دفاع کوله. تر دې چې ووژل شو. رستم سعدلو د ۱۷۲۲م کال په جنورۍ کې ووژل شو او ځایناستی یې چې د جګړې او مقاومت وړتیا یې نه لرله، د پیسو په اخیستلو له محمود سره روغه وکړه .

محمود هم ډېرې پیسې ومنلې او هوډ یې وکړ چې د اصفهان پر لوري به خپل پرمخیون ته دوام ورکړي).٦(

بله پېښه چې په کرمان کې یې د افغانانو پاڅون نور هم غښتلی کړ، له محمود څخه د هغه ولایت د زرتشتیانو ملاتړ و، ځکه په دې ښار او د ایران په نورو برخو کې دوی د شیعه ملایانو او دیني مشرانو له خوا سپکېدل، چې ډېر ترې په تنګ وو. دوی اړ وو د هر هغه پاڅون اوهڅې ملاتړ وکړي، چې صفوي څواك ختموي .

زرتشتیانو ګام پر ګام د محمود ملاتړ کاوه، ده هم له دې وضعې د ځان پر ګټه استفاده وکړه او د زرتشتیانو هرکلی یې وکړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې لښکرکښۍ کې د محمود د پوځ يو بريالی مشر د سيستان يو زرتشتی و، چې نصرالله (ړوند سلطان) نومېده. د نصرالله دا عادت و چې تل به يې يوه سترګه پټه نيوله، له همدې کبله يې په (ړانده سلطان) شهرت موندلی و. د افغاني پوځيانو په مشرتابه کې د زرتشتي قوماندان شتون په هغو مذهبي اختلافاتو کې له يوې خوا د محمود افغان هوښياري څرګندوله، له بله پلوه يې په نظامي چارو کې د (ړانده سلطان) د ښېساري مېړانې او وړتيا څرګندويي کوله. کېدی شي يو بل دليل يې له شاه محمود افغان سره د کرمان د زرتشتيانو همږغي او د شاه محمود افغان شتون وي. په هر حال، شاه محمود تر کرمان وروسته د يزد پر لوري مخه کړه، کله چې يزد ته ورسېد، خلکو د افغان لښکرو پر وړاندې مقاومت وکړ. محمود د يزد له کلابندۍ ډډه وکړه او د اصفهان لوري ته روان شو. د ۱۷۲۲م کال د مارچ په لومړيو کې افغان پوځيان د اصفهان په ۲۰کيلومترۍ کې ګلناباد سيمې ته ورسېدل، تر دې ځايه پورې د افغان ځواکونو د مخنيوي لپاره د ايران دولت له خوا هېڅ ډول مقابله او مقاومت ونه شو .

## د ګلناباد برخليك ټاكونكې جګړه:

د شاه محمود د پوځ په باب هم د تاريخ کښونکو روايتونه سره اختلاف لري. ځينې کسان يې شمېر ۸زره او ځينې ۲۸زره، ځينې نور بيا له ۳۰زره څخه تر ۴۰زره پورې کسان ښيي. خو د شاه محمود د پوځ هغې شمېرې ته په پام سره چې دوه کاله وړاندې يې په مرسته تر کرمان پورې مخته تللی و او لکهارت يې شمېره ۱۱۰۰۰سپاره ښيي، اټکل کولای شو چې شاه محمود په کندهار کې په خپله دوه کلنه استوګنه کې زيات کندهاريان د بلوڅانو، هزاره ګانو او نورو په ګډون د ايران پر پلازمېنه د بريد لپاره راټول کړي وو. دا اټکل چې دا ځل يې بايد د نورو مهالونو په پرتله د پوځ شمېر زيات وای، حقيقت ته نژدې دی).۷(

خو کروسينسکي وايي: افغان پوځ د اصفهان تر کلابندۍ وروسته که څه هم ډېر مړي پرېښوول، بيا يې هم شمېر ۲۰ زره ته رسېده. د عبدالله ايشيك اقاسي په وينا، شاه محمود نکل کوي، چې د اصفهان د محاصرې پر وخت د افغان پوځيانو شمېره زرو پښتنو، اته زره هزاره وو او څلور زره بلوڅو ته ورسېده).۸(

خو لکهارت بېلابېلو شمېرو ته په پام سره وايي: د شاه محمود د پوځيانو شمېر دا ځل تر ۱۸۰۰۰کسانو زيات نه و، حال دا چې صفوي دولت د اصفهان د دفاع لپاره ۵۲زره جګړه مار چمتو کړي وو .

لکهارت دا يادونه هم کوي چې ښايي د اصفهان د نيولو لپاره به دا پوځ بس نه و، خو بايد ياد وساتو چې د افغانانو مذهبي ملاتړ، زړورتيا او جګړه مارۍ دا خلا ډکوله).۹(

فرانسوي څېړونکی او لرغونپوه مادام ژان ديولافوا چې په منځينو پېړيو کې د ايراني ودانيو د معماري سبك د مطالعې لپاره په ۱۸۸۱م کال ايران له نژدې ليدلی او ودانۍ يې کتلې وې، پر هغه ښار د افغانانو د يرغل تر يادولو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د صفوي پوځيانو شمېر چې په وسلو او زغرو سمبال وو، ښه اسونه او ښه رکابونه يې لرل، ٦٠زره او د افغان جنګياليو شمېر چې د تورې له پرکا پرته يې نور څه نه لرل، ٢٠زره کسه ښيي او زياتوي چې له افغان پوځيانو سره ١٠٠ زنبورك توپونه، چې پر اوښانو لېږدول کېدل، يوځای وو).١٠(

په هر حال، د ١٧٢٢م کال د مارچ پر اتمه د افغان برخليك جوړوونکو پوځيانو جګړه د صفوي دولت پر ضد چې په قوي توپخانو سمبال وو، په ګلناباد کې پيل شوه .

شاه محمود هوتك تر جګړې وړاندې د خپل پوځ کتنه وکړه، د خپلو لنډو خو پاروونکو خبرو په ترڅ کې يې ورته وويل: �د ايران ناپايه شتمني په تاسو پورې اړه لري، پام مو وي که په جګړه کې مو ناغېړي وکړه، نو په سوځنده او وچو دښتو کې به مړه شئ، بلکه ګېدړ به مو مړي ونه وينئ�. بيا يې ګبرانو (زرتشتيانو) ته هم وويل: که ايرانيان بريالي شي، نو يو تن به هم ژوندی دريږي نه پرېږدي، تاسې ټول به تر تېغ تېر کړي).١١(

د افغان پوځ په مورچه کې امان الله خان له ځينو جنګياليو سره په ښي لاس او نصرالله زرتشتي د بلې ډلې په مشرۍ په کيڼ لاس او شاه محمود د دواړو ډلو په منځ کې ودرېد. د ايرانيانو له خوا رستم خان او د (حويزه) والي سيد عبدالله د نصرالله خان زرتشتي پر وړاندې ودرېدل .

اعتمادالدوله محمد قلي خان د شاه محمود او د لرستان والي عليمردان د امان الله خان پر وړاندې ودرېدل. جګړه د مارچ د اتمې د مازيګر تر څلورو بجو وروسته د ايرانيانو له خوا پيل شوه، چې د شپې پر ٩ بجو پايته ورسېده. د ايرانيانو کينه ګرې لښکرې له افغاني پوځيانو سره د پرتلې وړ نه وې، داسې ښکارېدل چې بری به د ايران په برخه شي، خو وروسته چې د دواړو خواوو وسلې او پوځونه په کار ولوېدل افغان جنګيانو د صفويانو پر نامنظم او ګڼو لښکرو بری وموند .

د ايران تر ټولو جنګيالی پوځ د رستم خان تر مشرۍ لاندې جنګېده، چې ډېره ښه جګړه يې کوله، خو بيا هم د افغانانو تر تېغونو تېر شول، د تېښتې پر وخت د رستم خان اس پر ځمکه ولګېد، ده غوښتل بيا پر زين کښېني چې پر سر يې يو وار وربرابر شو او د افغانانو د نيزو په ګوزارونو سوری- سوری شو .

عليمردان خان چې بختياري او د کوه ګيلويه ملېشې يې تر لاس لاندې وې، تر همدې مرګونو ګوزارونو لاندې راغی، ورور يې ووژل شو او دی هم سخت ټپي، پر ځمکه ولوېد، که پوليانو يې په وينو لړلی بدن له ځمکې نه اوچتولای، د رستم خان په برخليك به اخته کېدای .

اعتمادالدوله محمد قلي خان چې وليدل د ايراني پوځونو دوو نورو ستونونو هم ماتې وکړه، پرته له دې چې مرسته يې وکړي، پر خپلو ملګرو يې د شاتګ امر وکړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو صفوي پوځونه داسې په مخه کړي وو، چې هغوی ونه شول کړای خپلې توپخانې په کار واچوي. یوه اروپایي توپچي یوازې وکړای شول، وړاندې تر دې چې د افغانانو د اسونو تر ګامونو لاندې راشي، درېیو توپونو ته اور ورته کړي او بیا وتښتي .

قزلباشو پوځونو هم د جګړې له ډګر څخه داسې تېښته وکړه، چې کله اصفهان ته ورسېدل ان په ځان پسې یې د ښاري دروازو د تړلو وخت هم نه درلود، که افغانانو هماغه شېبه ایراني پوځیان تعقیبولای، ښایي له هر ډول مقاومت پرته یې اصفهان نیولای او د اصفهان ښاریانو به هم د کلابندۍ له کبله د لوږې ستونزه نه ګاللای. خو افغانان وړاندې رانغلل، دوی د غنیمتونو، خپلو مړو او ټپیانو په راټولولو لګیا وو، په دې جګړه کې د ایرانیانو د تلفاتو شمېره ۵ـ٦زره کسان ثبت شوي، حال دا چې د افغانانو تلفات د ایرانیانو په پرتله یو په لس زیات ښوول شوی دی).۱۲(

یو هالېنډي شرکت د ۱۷۲۲م کال د مارچ پر لسمه په خپل یوه ګزارش کې د افغان برید کوونکو په وړاندې د صفوي دولت د پوځونو کمزوري داسې رسوا کوي: �نن باوري سرچینو خبر راکړ، چې منشي الممالك انګرېزانو ته وویل: دا هغه وخت دی چې باید د ایران پاچا ته خپله دوستي اثبات او د افغانانو د ماتې لپاره چې څومره مرستې ته اړتیا لري، هغه ورکړي. انګرېز استازي په ځواب کې وویل: په دې وخت کې خپله دوستي نه شي ثابتولای، ځکه دوی د خپل استوګنځي دفاع هم نه شي کولای، نو د هغه پوځ پر وړاندې به څنګه مقاومت وکړي، چې د ایران ۴۲زره کسیز پوځ ته یې ماتې ورکړه؟ مازیګر مهال موږ ته وویل شول چې قورچي باشي او ایشیك اقاسي باشي هم ښار ته راستانه شوي، هغه ټولې اوازې درواغ وختلې چې ویل کېدل قللراقاسي تر اوسه پورې د افغانانو په وړاندې پر جګړو بوخت دی).۱۳(

## د اصفهان سقوط او د ایران د صفوي لړۍ زوال:

افغان ځواکونو د مارچ پر ١٦مه د اصفهان پر لوري خپل پرمختګ ته دوام ورکړ. ارامني مېشتې جُلفا نومې سیمه له تلفاتو پرته افغانانو ته په لاس ورغله. محمود پر ارمنیانو داسې مالیات وضعه کړل، چې دوه ځله یې باید ورکړي. ویل کېږي چې له هغوی څخه ۵۰ ارمنۍ نجونې تښتول شوې وې، کله چې شاه محمود ترې خبر شو، امر یې وکړ چې ډېر ژر دې خوشې شي، چې خپلو کورنیو ته ستنې شي).۱۴(

د مارچ پر ١٦ـ١٧نېټه د شاه سلطان حسین ښایسته مانۍ (فرح اباد) چې له اصفهان څخه دباندې ښارته نژدې جوړه شوې وه افغانانو ته په لاس ورغله، دلته افغانانو ته ۵ عیار شوي توپونه هم په لاس ورغلل .

شاه محمود فرح اباد پر اصفهان باندې د خپلو نورو بریدونو لپاره د اډې په توګه وټاکه، چې د مارچ پر ۲۰مه افغانانو پر ښار برید وکړ. د کروسینسکي په وینا �د نوروز په ورځ شاه محمود پر اصفهان برید وکړ، خو بریالی برید نه و.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوشنبه د وري (حمل) پر درېيمه د يوه ستر بريد لپاره تياری ونيول شو، خو افغان جنګيالي بيا پر شا وتمبول شول. نو اعلان يې وکړ چې خبرې اترې ته حاضر دي، له مخورو ارمنيانو يې وغوښتل چې د منځګړو په توګه له مرکزي دولت سره خبرې وکړي، خو هغوی ونه منل. اخر افغانان سره سلا شول چې اصفهان له کلابندۍ پرته بل ډول له پښو نه شي غورځولای. دا د وري له درېيمې د غويي (ثور) تر نيمايي پورې د مرکزي حکومت پوځونو او پاڅونکو د اصفهان پول په دواړو غاړو کې واړول، چې کومه جګړه ونه شوه. شاه محمود په ښار کې د خپلو مېشتو جاسوسانو په مرسته د ايراني دربار او د ايراني پوځيانو په باب معلومات ترلاسه کول، چې د جګړې لپاره به يې تياری نيوه. په دې وخت کې يې وغوښتل پلازمېنې ته لار پرانيزي، خو شاته وتمبول شو. خو بل بريد له مقاومت سره مخ نه شو، ځکه ګرجي پوځيان چې د پله ساتندويان وو، په درانه خوب ويده وو. سرتېري تر دې ساتندويانو واوښتل او افغان پوځيانو ته يې لار پرانيستله، بيا يې خپلې مورچې ټينګې کړې او له ښاره د وتلو لارې يې بندې کړې. تر دې مهاله ګومان کېده چې افغان پاڅونکي به پر اصفهان بريد نه کوي، نو ځکه ايراني پوځ دومره د مرستې غوښتنه نه وه کړې. کله چې يې پام شو دوی تر پله واوښتل او ښار يې کلابند کړ، نو له درانه خوبه پاڅېدل او هڅه يې وکړه چې ښار ته د مرستې زمينه برابره کړي).١٥(

څرنګه چې کلابندي بشپړه نه وه، خلکو دا وس درلود چې خواړه او نور توکي د ښار له لوېديځه ترلاسه کړي. دا کلابندي د اپرېل په مياشت کې بشپړه شوه، چې هېڅوك هم ښار ته نه شو دننه کېدای او يا هم بهر نه شو وتای. په اپرېل کې ان تر دې وړاندې هم افغانان د سولې او کرمان ته د مراجعې په سوچ کې شول. دوی پر همدې مهال د حويزه د خان له خوا د شاه په امر ليکل شوی ليك ترلاسه کړ، په کې ليکلي وو چې له ترلاسه کړو غنيمتونو او شتو سره دې کندهار ته لاړ شي، شاه به نور شته هم ورکړي. افغانانو چې ليك ولوست د دولت پر نورو کمزوريو هم وپوهېدل او ځواب يې وليکه چې شاه دې خپله يوه لور له ۵۰۰۰۰ تومانه جهيز سره يوځای شاه محمود ته ورکړي، دغه راز کندهار، کرمان، سيستان او خراسان دې شاه محمود ته پرېږدي، دغه د سولې لار ده کنه تر بري پورې به کلابندي ختمه نه شي. د ايران لوري ځواب ورکړ چې سني ته د شيعه لور ورکول ناشوني دي، رعيت ته د شاه د لور ورکړه خو بېخي ليرې خبره ده، ستاسو نور شرايط د منلو وړ دي).١٦(

کاشکې پاچا خپله لور چې وروسته يې محمود ته ورکړه، هماغه مهال ورکولای چې د اصفهان خلك له لوږې دومره نه ځورېدل او نه مړه کېدای. افغانانو چې د شاه دا ځواب واورېد تر غوڅ بري پورې يې د کلابندۍ تصميم ونيو .

کروسينسکي د اصفهان د کلابندۍ پر مهال د خلکو د وضعې په باب کاږي: �تر درېيو مياشتو وروسته په اصفهان کې د خرو او اوښانو غوښې خرڅېدې، خره به په پنځوسو تومانو پلورل کېدل، اخر نه پيدا کېدل. خلکو د سپيو او پيشوګانو غوښې خوړلې. چې څلور مياشتې وروسته د انسانانو خوړل پيل شول، پنځه قصابان په دې کار بوخت وو، نوي مړي به يې چې پيدا کړل، ورنونه به يې غوڅول او خوړل به يې .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اصفهان خلکو دا عادت نه درلود چې کلنۍ غله دې په کور کې وساتي، ورځنۍ اړتیاوې به یې هره ورځ بشپړولې، د ښار د کلابندۍ سوچ خو یې هېڅ وخت هم په ذهن کې نه ورگرځېده، اخر خبره دې حد ته ورسېده، چې د ونو پوستکي به یې په تاله خرڅېدل، په هاونگ کې به یې کوټل، یا به یې د زړو بوټانو تلي راټولول او اېشول به یې، اوبه به یې څښلې. خلك به په کوڅه او بازار کې چپه کېدل او مړه کېدل، پېغلو نجونو او بې کسه ښځو به چې د لمر مخ یې نه و لیدلی، خپلې لورگانې به یې پر سر اینښې وې او نارې به یې وې، مړې کېدې به، خو چا به د مړو د ښخولو پروا هم نه کوله، ټول ښار د انسانانو په مړو ډك شو)�...۱۷(

دغه راز د دوسرسو په وینا �ځینو کسانو به په پټه د مړو غوښې پرې کولې او خوړلې. کله، کله به خلکو د نویو مړو شویو ماشومانو غوښې خوړلې، ان زیات مهال به ښځو خپل بچي خوړل. په اصفهان کې وضعه دومره خرابه وه چې چا به مړي نه ښخول، بلکې په کوڅه او بازار کې به یې پرېښوول، خلك به پر مړو گرځېدل، اخر ټولو ته عادي شوه. خلکو مړي سیند ته واچول، چې د سیند اوبه یې خرابې کړې او تر یوه کاله چا ځنې استفاده نه شوای کولای).�۱۸(

د پولېنډي کشیش دا څرگندونې د صفوي دولت بې کفایتي، راتلونکي ته نه پاملرنه او د ایران د خلکو پر وړاندې د هغه حکومت بې پروایي ښیي. که وزیرانو او چارواکو پر خلکو لږ پام کولای، باید ښار ته یې تر یوه کاله خواړه برابرولای، یا یې خلك له کلابندۍ او د هغې له بدو پایلو خبرولای، چې هر چا خپل او د خپلې کورنۍ غم خوړلای او یوه چاره یې سنجولای. خو له بده مرغه چې وزیران او چارواکي یوازې د خپلو جېبونو د ډکولو او د خپلو سیالانو د وېرولو په غم کې وو .

که څه هم افغانان تر حکومتي گولیو او گواښونو لاندې وو، د اصفهان له کلابندۍ راهیسې یو کس یې هم ونه وژل شو. د ایراني سرتېرو د توپونو شمېر۴۰۰ ته رسېده، سره له د بېچې دوی ورڅخه ډېرې کړې وې او د کارول شویو گولیو شمېر یې ۱٦۰زره توپونو ته رسېده، خو سرتېرو به له دې توپونو داسې استفاده کوله، چې ان ۴۰۰افغان سرتېري یې هم ونه وژل).�۱۹(

د همدې پولېنډي کشیش په وینا یو ځل ښاریانو د پاچا ماڼۍ سنگسار کړه او له هغه څخه یې هیله وکړه چې له ماڼۍ څخه راووځي او د خلکو پر وړاندې دې حرکت وکړي، چې ځان د ایران د ژغورنې لپاره قربان کړي. خو د شاه دروازه ساتونکو د ماڼۍ د دروازو تر شا د گولیو په ډزو سره خلك سره وپاشل. پاچا خلکو ته ځان ښکاره نه کړ، خو د ۱۷۲۲م کال په مې میاشت کې دوه- درې ایراني خانانو د علیمردان خان په مشرۍ (چې مخکې په جگړو کې ټپي شوی و) له څه خوړو او ۵۰۰۰ سپاره پوځیانو سره د اصفهان مرستې ته راودانگل، کله چې شاه محمود له دې موضوع خبر شو، نصرالله زرتشتي یې له ۴۰۰ سپاره پوځیانو سره یوځای مقابلې ته ولېږه، نصرالله اصفهان ته نژدې د دې پوځ مخه ونیوله او په خپل برید سره یې د هغوی ۱۵۰۰تنه ووژل، چې پاتې نورو تېښته غوره کړه).۲۰(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپتمبر په وروستیو کې مرکز ته خبر راغی چې د تون او طبس واکمن ملك محمود سیستاني له لس زره کسیز پوځ سره د اصفهان مرستې ته راروان دی. دې خبر د اصفهان خلك خوشحال کړل، خو کله چې شاه محمود افغان دا خبر واورېد، نو ډېر ژر یې د هغه هېوادوال نصرالله زرتشتي د خبرو اترو لپاره د هغه مخې ته ولېږه، هغه په گلناباد کې له ملك محمود سره ولیدل، د هغه د گرانبیه ډالیو تر ورکړې وروسته یې ورته وویل چې اصفهان د تسلیمۍ او صفوي لړۍ د سقوط په حال کې ده، نو له شاه محمود افغان څخه دې دغه گټل کېدونکی ویاړ نه اخلي .

نصرالله ټینگار وکړ، چې د اصفهان د ژغورنې لپاره دې له هر ډول سوچ څخه لاس واخلي. له هغه څخه یې غوښتنه وکړه چې له افغانانو سره یوځای شي او د هغوی په مرسته دې په غوځ ډول پر خراسان واکمني وکړي، پرملك محمود سیستاني د نصرالله خان زرتشتي خبرو ډېر اغېز وکړ، نو ډېر ژر خراسان ته ستون شو).۲۱(

ځینو ویلي چې ځانغوښتونکو او ډارنو وزیرانو شاه سلطان حسین له ملك محمود څخه ووېراوه، چې که هغه له خپل پوځ سره اصفهان ته ننوت، ښایي د ایران د سلطنت پر تخت کښېني او صفوي لړۍ به ختمه کړي. نو پاچا ملك محمود ته پیغام ولېږه چې له راغلې لارې دې بېرته ستون شي، ځکه گواکې صفوي دولت دومره توان لري چې د اصفهان او ایراني سلطنت دفاع وکړي. ملك محمود د پاچا په دې ځواب ډېر نهیلی شو، خراسان ته ستون او د خپلې واکمنۍ پر پراختیا بوخت شو .

لنډه دا چې څومره کلابندي ځنډېده، د اصفهان دخلکو وضعه لا پسې خرابېده. د ډاکټر شفا په وینا �د کلابندۍ پر مهال شاه سلطان حسین او سلاکارانو یې هڅه وکړه چې د نذر، دعا، نیاز، چلو، غټو او وړو دعاگانو په مرسته بلاگانې او ناروغۍ دفع کړي. کله به پېریان راغوښتل کېدل کله به افغان مشرانو ته اجل لېږل کېده، چې د اصفهان له کلابندۍ لاس واخلي. خو د هالېنډ د شرقي هند شرکت د کارکوونکو په وینا په اصفهان کې د پېښو ورځپاڼې ولیکل: �له دومره تدابیرو سره- سره کار مخته نه لاړ، په ښار کې دومره قحطي زیاته شوه چې یو من غنم ۲۰زره درهمو ته ورسېدل، وروسته بیا غنم هېڅ نه پیدا کېدل، نه هم وربشې او وریجې، خبره د خره، سپي، اوښانو او موږکانو خوړلو ته وغزېده).�۲۲(

د پلازمېنې تر شپږمیاشتنۍ کلابندۍ وروسته، د قحطۍ، لوږې او مړینې له کبله سلطان حسین اړ شو له سطنتي تخت څخه راکښته او شخصاً د دښمن پوځ ته ورشي، د خپل ژوند او سلطنت برخلیك د شاه محمود پښو ته واچوي .

د هرات ښاریانو په ۱۷۳۰او د کندهار ښاریانو ۱۷۳۸م د همداسې یوې اوږدمهالې کلابندۍ تریخ خوند د نادر افشار او په ۱۸۳۷_۱۸۵۷م کال هراتیانو د محمدشاه قاجار له خوا وڅکه، خو خلکو د سپي او پیشیو غوښې ونه خوړلې، بلکې مقاومت یې وکړ. حال دا چې د دې دوو ښارونو کلابندۍ ۱۱میاشتې وخت ونیو، خو اصفهان یوازې ٦میاشتې او څو ورځې په کلابندۍ کې و .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر حال، لښکرکښيو او لوټونو هر وخت خوار او کم توانه خلك ځپلي، خو شتمنو يوازې د لوړې ستونزه گالـله، اصفهان د اکتوبر مياشتې په وروستيو کې خپلې وروستۍ ساوې کښلې. د عيني شدهدانو په وينا چې لکهارت يې دا ليدنې ثبتې کړي�هغه سرتېري چې د کلابندۍ په ورځو کې (د اکتوبر ۲۳مه) د کلاگانو د ساتنې لپاره گمارل شوي وو، د دې پرځای چې هلته استوگنه وکړي، غوره يې گڼله چې په روغتون کې واوسي).�۲۳(

د انگرېز شرقي هند شرکت د استازو په وينا �د ايران ځواکمن پاچا پر۱۲ بجو د اکتوبر پر ۲۳مه له کوم جلال او درناوي پرته له خپلې سلطنتي ماڼۍ ووت، د ويده بېوزلي کس جامې يې په تن وې، چې د نوکرانو له څېرې يې خواشيني اورېدله. داسې ښکارېدل لکه د هغه ښاغلي رسمي تشيع مراسم چې ترسره کېږي).�۲۴(

د رستم التواريخ په روايت: د کلابندۍ په همدې ورځو کې د اصفهان په دمورقاپي کې ځلوېښتو ډيرورو او يوسل او لس ۱۴_۱۵کلنو شهزادگانو ژوند کاوه چې له اړوندو مېرمنو يا مينزو سره د پاچا د يوځايتوب حاصل و).۲۵(

پاچا خواشينی او زړه ماتی په خپل کور او د ښار په واټونو کې چې له مړو ډك وو، گرځېده، غوښتل يې د خپلې خوښې ماڼۍ (فرح اباد) ته ورسېږي، دا ځای اوس د شاه محمود د واکمنۍ ځای و او خپل شاهي تاج د شاه محمود افغان پر سر کښېږدي. د فرانسوي کشيش دوسرسو په وينا: �پاچا له خپله تخته کښته کېدو ته همدومره هيله من و، چې محمود پر سلطنتي تخت جلوس ته تږی و).�۲٦(

له شاه سلطان حسين صفوي سره د شاه محمود افغان د چلند په باب لکهارت د يوه عيني شاهد (د فرانسې د قنسول د ژباړن ژوزف آپي ساليميان) له قوله، چې د صفوي شاه د تسليمۍ پر وخت يې د محمود غلجي دربار ته لار موندلې وه، کاږي :

�محمود د تالار په يوه څنډه کې ناست و، شاه د تالار په بله څنډه کې کښېنول شو. شاه سلطان حسين وويل: د خدای غوښتنه به همدا وه چې زه نوره واکمني ونه کړم. اوس د دې وخت دی چې ته د ايراني سلطنت پر تخت کښېنې. زه خپل سلطنت په ډېره مينه درسپارم او له خدايه دې برياليتوب غواړم.

تر دې خبرو وروسته يې له خپل دستار څخه د پاچايۍ تاج ليرې او هغه يې محمود ته وړاندې کړ، خو کله چې يې وليدل شاه محمود انکار کوي او خواشينی دی، نو له تسليموونکي شخص (امان الله) څخه يې واخيست او هماغسې چې ناست و، هغه يې په خپل لاس د محمود پر سر وتاړه او بيا يې ورته د بري غوښتنه وکړه. تسليم شوی پاچا بېرته خپل ځای ته راغی او ارام کښناست. وروسته چای او قهوه وڅښل شوه، دا مهال پر سلطان حسين باندې د شاه محمود زړه وسوځېده او ورته ويې ويل :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه خپه کېږه، د انسان بخت همداسې بې ثباته دی. لکه څنګه چې د خدای اراده وي، یوه ته پاچایي وربخښي او که وغواړي ترې اخلي يې، کله یې له یوه قومه اخلي بل ته يې ورکوي. خو زه ژمنه کوم چې د پلار په سترګه به درته ګورم او ستا له مشورې پرته به یو کار هم ونه کړم).�۲۷(

په دې توګه د شاه سلطان حسين او د صفوي لړۍ اوږدمهالې دوره په ډېر ټيټال سره پایته ورسېده. یو افغان قوماندان امان الله هماغه مازیګر له ۳۰۰۰افغان سپرو سرتېرو سره اصفهان ته لاړ. د ماڼۍ پر دروازه يې مهر او لاك ولګاوه او د ايراني سرتېرو پرځای يې خپل سرتېري ولګول. بله ورځ امان الله امر وکړ چې د ښار له لارو څخه دې سړي ايسته کړل شي، بیا يې یوه لار وسنجوله، چې ښار ته په ورې اندازه خواړه راشي او خلکو ته دې ورسول شي. بله ورځ امان الله د شاه محمد د راتلو لپاره ورې ترتيبات ونيول، د احتياط له مخې يې د لارې په اوږدو کې پر جګپوړو ودانيو او د جوماتونو پر منارو وسلوال سرتېري پر ساتندويې وګمارل .

د اکتوبر پر ۲٦مه شاه محمود په ډېر برم او درنښت سره د فرح اباد پر لوري حرکت وکړ او اصفهان ته دننه شو .

د عيني شاهدانو په وينا: �په دې ډله کې لس سپاره منصبداران تر شا يې د ۲۰۰۰ په شاو خوا کې سپاره چې په کې د ايراني دربار مشران هم ليدل کېدل، په حرکت کې وو. وروسته ميراخور افغان له ۱۵سپرو سره ليدل کېده، چې پر يوه ښايسته شوي او ځانګړی شاهانه اس راروان و، ورپسې ځينې وسلوال او په هغو پسې د نظام ۱۰۰۰ پلي سرتېري په حرکت کې وو .

په لنډه فاصله کې بيا د تشريفاتو د ټولو رئيس د ۳۰۰ سرو جامو لرونکو زنګيانو (تورپوستو) په منځ کې روان و. دا زنګيان د اصفهان له اسيرانو ټاکل شوي وو، چې د افغان فاتح ساتندويي وکړي. په څلوېښت ګامه فاصله کې محمود غلجي پر هغه اس سپور و، چې د عربستان والي په همغو ورځو کې ورډالۍ کړی و. سلطان حسين يې کيڼ خوا ته روان و، په دې دوو مشرانو پسې ۳۰۰سپاره غلامان په حرکت کې وو .

وروسته مفتي او امان الله، لومړی وزير (صدراعظم) محمود، ملا زعفران، نصرالله زرتشتي، ملا موسی خزانه دار، محمد اقا ناظر البيوتات محمود روان وو. تر دې وروسته د شاه ځينې اعتمادالدوله او جګپوړي صاحب منصبان له ځينو افغان صاحب منصبانو سره روان وو، چې ورپسې به سل اوښان چې يو- يو شمخال (زنبورك) توپ بارو روان و. تر ټولو وړاندې به ٦۰۰ سازېغوونکي روان وو، چې ورپسې به ٦۰۰۰ سپاره سرتېري مله وو. د شېراز له پله څخه د اوښتو پر مهال يې شاه حسين د ماڼۍ د باغ له لارې جبل ته ولېږه. داسې ښکارېدل چې شاه محمود د مات شوي شاه حضور د بري په مراسمو کې هم تشخيص کړی وي .

خپل يون ته يې ادامه ورکړه، چې لږه شېبه وروسته د ښار دروازو ته ورسېدل. که څه هم د سيمې اوسېدونکو غمونه او ستونزې لرلې، خو بيا هم خپلې هوساينې ته په سوچ کې وو، ځکه يې د نوي واکمن پر وړاندې درناوی خپل کړ. د اسونو پښو ته يې ګرانبيه توکي وغوړول او هوا يې عطرينه کړه. هغه توپونه چې پر اوښانو بار وو، کله ناکله چلول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدل او لسو افغانانو چې تر نورو وړاندې روان وو، په نوبت سره يې په لوړ ږغ پر محمد او يارانو يې صلواة او درود وايه).۲۸(

کله چې سلطنتي ماڼۍ ته د ننوتو مراسم ترسره شول، افغان سرتېرو په لوړ ږغ چيغه کړه (الله اکبر) محمود د ماڼۍ له دروازې څخه تر ننوتو وروسته د ماڼۍ تالار ته لاړ او پر تخت کښېناست. د شاه سلطان حسين بېواکه شويو چارواکو او وزيرانو شاه محمود ته د وفادارۍ او درناوي لوړه وکړه، د توپونو په هوايي ډزو سره خلك له موضوع خبر کړای شول. محمود د جلوس تر مراسمو وروسته ټولو حاضرينو ته مېلمستيا ورکړه، په دې توګه پر ايران باندې د افغانانو واکمني پيل شوه. د کروسينسکي په راپور کې راغلي دي: �يو لامل چې د افغان په بري کې يې ستره ونډه درلوده، د پوځيانو نظم و، ښايي په هېڅ ځای کې به هم سردار له داسې ځواك څخه برخمن نه و او فرمان يې نه چلېږي� (سقوط اصفهان، بروايت کروسينسکي، تهران، ۴۹مخ).

کروسينسکي د افغان جنګياليو د روحيې په باب وايي: �جګړه او وژنه د افغانانو عادت دی، څوك په جګړه کې له دښمن څخه مخ نه شي اړولای، که څوك تر شا شي، ناڅاپه يې وژني. د اصفهان د کلابندۍ پر وخت زه د عباس اباد پله ته نږدې د جګړې ننداړچي وم. يو افغان مې وليد چې ښی لاس يې غوڅ و، د کتار شاته راغی، ساتندويانو ګومان کاوه چې له جګړې څخه تښتېدلی دی، غوښتل يې مړ يې کړي، هغه خپل لاس وروښود، دوی بيا هم راضي نه شول او ويې ويل: که ښي لاس دې له کاره لوېدلی په کيڼ لاس جګړه وکړه، که دې هغه لاس هم له کاره ولوېد، په خوله جګړه وکړه او پر دښمن ناړې تو کړه، چې خدای(ج) لوی اجر درکړي�..

که له افغانانو څخه توره، ليندۍ، ټوپك او نورې وسلې ځمکې ته ولوېږي، د هغه لپاره له خپل اس څخه نه راکښته کېږي، په اس ځغلونه کې دومره چابك دي، له شاه څخه يې ځان کښته راغزوي او پر ځمکه خپل لوېدلي شيان راپورته شوي. که به يې هر ښار او هره سيمه نيوله، که په سيمه کې به يې څوك ليده چې د جواهرو يوه پلنډه پر سر لېږدوي، په لښکر کې به د دې سيمې اړوند اوسېدونکي شخص هڅه کوله چې دې کس ته څوك زيان ونه رسوي. که به يې اسيران نيول، تر لږې مودې وروسته به يې خوشې کول .

دوی په جګړه کې ډېر کسان ونيول، خو هغوی يې د خپلو اولادونو په توګه ومنل. په کارونو کې توکل لري، ځانپالونکي نه دي. غنم ډېر کاروي، خواړه ډېر نه سره کوي، د پسه کولمه له اوبو ډکوي، بيا يې پر ملا تړي او د اړتيا پر وخت يې کاروي. د خوړو پر وخت تکلف نه کوي، ډوډۍ او نور خواړه پر ځمکه ږدي بيا يې خوري. له اوبو پرته نور څه نه څښي. بېلابېل شالونه، موچنې او نور کالي لري، چې ځانونه له لمر او خپله وسله له باران څخه خوندي ساتي. پراخ او جګ کالي اغوندي، مېرمنې يې هم له ستر پرته کوڅو ته راوځي. ډېرې ښايسته دي، چې د لمر غوندې بې حجابه رابهر کېږي، په غوږونو کې يې د بلور او مدنګ غوږوالي ځړېږي).�۲۹(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې شرحې څخه ښکاري چې افغانان ساده، کم توقع، خو ډېر جنګیالي، زړور او باانضباطه خلك دي او د خپل برې لپاره تر مرګه جنګېږي.

## په ایران کې د شاه محمود پاچهي:

کروسینسکي لکه مخکې هم چې یادونه وشوه، د اصفهان د کلابندۍ پر وخت په هغه ښـار کې د خلکو د زړه بوږنوونکې وضعې شاهد و. د محمود په لاس یې تر فتحې وروسته څو ځلې له شاه محمود سره ولیدل، چې د هغه څېره او شخصیت داسې انځوروي:

�هغه منځنی قد درلود، پلنې اوږې، پراخ مخ، ټيټه پزه، تېزې سترګې، توند کاته، لنډه غاړه، سره ږیره یې وه. هر سهار به یې د خپل پوځ له زورورو سرتېرو سره غېږ نیوله، د ورځې په بهیر کې به یې هم هغه سپورټ کاوه، چې د هغه بدن ته یې قوت ورکاوه. هره ورځ به یې پنځه پسونه ورته راوړل، چې ده به په خپله توره دوه نیم کول. د لنډو نیزو په وهلو کې ډېر ماهر و، چې نښان به یې نه خطا کېده، پر اس باندې په سپرېدو کې دومره چست او چالاك و، چې له رکاب پرته به یې اس ټينګ کړ او کله چې به یې ښی لاس د اس پر شا کښېښود، نو رواناوه به یې. ډېر لږ خوب یې درلود، چې د لښکرکښیو پر مهال به یې خوب نه کاوه .

د شپې به یې شخصاً د ساتندویانو خبر اخیست او په اصفهان کې به یې خپله ګزمه کوله، په خوړو کې منځلارې و، هرڅه به چې لاسته ورتلل قناعت به یې کاوه. له خپلې مېرمن (د شاه حسین سلطان لور) پرته به یې څه نه څښل. له هغې څخه یې یو زوی درلود، چې دی هېڅ له هغې پرته له بلې هېڅ مېرمنې سره یوځای نه شو .

شاه محمود د شاه حسین خلاف چې عیاش، هوساینه خوښوونکی او مهربان و، ډېر فعال او ځواکمن ښکارېده. د قصاص او تعزیر پر وخت به یې د هېچا شفاعت نه کاوه. د چا زارۍ یې نه منلې، بلکې یوازې یې شرعي حکم ټينګاوه او د دښمن پر وړاندې ډېر توند و. په جګړو کې اکثره د خپل پوځ په وړاندې روانېده).۳۰(

په هر حال، شاه محمود درې کاله پر ایران واکمني وکړه. (۱۷۲۲_۱۷۲۵م) نوموړی په پیل کې یو خوښ او منځلارې کس و، چې پر ایران باندې یې د واکمنۍ پر وخت یوازېنی کار او انساني عمل د اصفهان قحطۍ ځپلو خلکو ته د خوړو لېږدول و. د خپلې واکمنۍ په لومړیو میاشتو کې یې په خپل منځلارتوب او معتدل چلند سره ډېر ایرانیان حیران کړي وو. دومره روغ عقل یې درلود، چې د صفوي سلطنت د پېچلو اداري چارو د نیولو لپاره یې د افغانانو بې تجربه توب تشیخص کړی و. له دې کبله یې وزیران او نور جګپوړي کارکوونکي پر خپلو دندو پرېښودل، د هر یوه تر څنګ یې یو افغان وټاکه. په دې توګه افغانانو ته د اداري فن زده کړه هم اسانه شوه. دوی ایراني کارپوهانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ځیر وو. چې د رشوت اخیستلو او فساد لامل نه شي او په پایله کې هغه مهال ایران د محمود د واکمنۍ په پیل کې له داسې حکومت څخه برخمن شو، چې په تېره نیمه پېړۍ کې یې ساری نه درلود .

شاه محمود هغه کسان چې شاه او خپل هېواد ته يې خیانت کړی و، یا یې هم د افغانانو په ګټه څارګري کړې وه یا اعدام کړل یا یې هم بندیان او په دې توګه یې خاینانو ته د عبرت درس ورکړ. هغه به په څرګنده ویل، له هغو کسانو سترګې نه شي پټولای چې شاه او خپل دولت ته یې خیانت کړی وي. په ور وخت کې به ده ته هم خیانت وکړي)۳۱.(

تر دې وروسته محمود امر وکړ په ښار کې دې اعلان وشي که ایرانیان، په ځانګړې توګه د اصفهان خلك غواړي له افغانانو سره وګوري، له ځایه دې اوچت شي او پر سینه دې لاس کښېږدي. د افغانانو درناوی دې وکړي، دا دود نن هم په افغانانو کې شته، چې د کلتور یوه برخه یې ګڼل کېږي .

پر دې سربېره محمود ټولنیزې ډلې په اوو درجو ووېشلې، چې افغانان په کې د فاتحې ډلې په توګه په لومړي مغلوب ایرانیان په اوومه درجه کې راتلل. دا چلند شل کاله وړاندې د ایرانیانو له خوا د کندهاریانو او هراتیانو پر وړاندې ترسره شوی و.

په دې وخت کې د ایران په کمین کې دوه ناست دښمنان یانې روسیې د ستر پطر تر مشرۍ او عثماني ترکیه یو، یو خطر ګڼل کېدل. په ځانګړې توګه چې پطر د دربند مشهور ښار نیولی هم و. دا مهال شهزاده طهماسب صفوي چې وړاندې له اصفهان څخه تښتېدلی و، د ۱۱۳۵هـ د محرم پر ۳۰مه_ ۱۷۲۳م کال نومبر په قزوین کې خپله پاچايي اعلان کړه. که څه هم دا کار یې افغانانو ته د جګړې بلنه وه، خو د خپلو بې کفایته وزیرانو له خوا ډېر ژر په عیش او نوش او نورو کارونو لګیا شو، چې په اصفهان کې د خپلې راګیرې کورنۍ ژغورون یې هېر کړ.

شاه محمود پر دې مهال امان الله خان، اعتمادالدوله او د خپل تره زوی اشرف له ۳۰۰۰ سپاره پوځ سره یوځای د شهزاده طهماسب پر وړاندې جګړې ته ولېږل، خو شهزاده د افغانانو له مقاومت او مقابلې پرته قزوین پرېښود او کاشان، بیا له هغه ځایه اذربایيجان ته وتښتېد .

قزوین له جګړې او مقاومت پرته د افغانانو لاسته ورغی. په پیل کې خلکو د افغانانو ښه هرکلی وکړ، خو فاتحو سپاهیانو ونه شول کړای د خلکو د مال او ناموس پر وړاندې د خپل بد چلند مخه ونیسي. له دې کبله خلك د افغانانو له دې چلند څخه په تنګ شول او پاڅون یې وکړ .

په دې پاڅون کې هر قزویني خپل افغان مېلمه وواژه او په دې توګه ځینې افغان لښکریان راښکېل، بیا وروسته ووژل شول. امان الله هم سخت ټپي شو، خو پر خپلو پاتو پوځونو یې امر وکړ چې ځانونه د ښار ارګ ته ورسوي او هلته مقاومت وکړي. افغاني ځواکونو د امان الله خان امر ومانه او ارګ ته لاړل، چې همدغه کار دوی وژغورل. څرنګه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ارګ خوراکي توکي پر خلاصېدو وو، امان الله امر وکړ چې د توريې په زور دې د پاڅونکو کتارونه ليرې او د تېښتې لار دې جوړه شي. افغانانو همداسې وکړل او د درنو تلفاتو په ورکولو سره (د ۱۲۰۰تنه مړو) سره پاتې نور له ښاره ووتل. ځينې د کاشان لورې ته لاړل، بيا يې يوه ډله د اشرف په مشرۍ کندهار ته روانه شوه، چې بله ډله بيا د امان الله خان په مشرۍ اصفهان ته ستنه شوه).۳۲(

د دې پېښې خبر پر شاه محمود ډېر فشار راوړ، ډېر ژر يې امر وکړ چې د اصفهان وزيران، مشران او جګپوړي چارواکي دې (شمېر يې ۳۰۰ تنو ته رسېده) مانۍ ته راشي، چې له تورې تېر شي. په دې منځ کې يوازې اعتمادالدوله محمد قلي خان د دوو غلجيو شفاعت ترلاسه کړ، نور نو ټول ووژل شول او مړي يې په عامه لار کې کښېښودل شول. محمود په دې کار بسنه ونه کړه، د هغوی او ځينو نورو قزلباشانو د وژلو امر يې هم وکړ. په اصفهان کې يې داسې وېره رامنځته کړه، چې خلکو ډېر مهال له کوره بهر د ګام ايښوولو زړه هم نه کاوه، خلکو حق نه درلود چې ښار ته خوراکي توکي راوارد کړي .

اصفهان يوځل بيا له لوږې او قحطۍ سره مخ شو. که نصرالله زرتشتي د اصفهان له شا و خوا سيمو خوراکي توکي نه برابرولای، له شك پرته چې ډېر خلك به له لوږې مړه کېدل. نصرالله خان زرتشتي د ۳۰۰۰ سپاره پوځ په ملګرتيا د اصفهان په شمال لوېديځ کې د خوړو په برابرولو پيل وکړ، چې دا کار يې په ښه توګه ترسره کړ او په خوړو (پنځوس زره بار اوښان) يې پلازمېنې ته ولېږل .

د همدان له شا و خوا، ختيځ او شمالي سيمو څخه يې ۴۰۰۰ سني مذهبه خانان اړ کړل چې اصفهان ته کډه شي او هورې استوګنه وکړي).۳۳(

د نصرالله زرتشتي زامن د اصفهان تر نيولو وروسته سيستان ته ستانه شول او له ۲۰۰ افغان او زرتشتي خانانو سره له سيستان څخه اصفهان ته کډه شول .

پر دې مهال افغان سرتېرو د جنګي غنايمو له کبله لږه هوسايي ترلاسه کړې وه، چې د خپل کور- کلي په سوچ کې شول، ځينې ډلې يې کندهار ته روانې شوې. شاه محمود دوی تګ خپل راتلونکي او اصفهان مېشتو افغانانو ته يو خطر ګانه، د دوی د تېښتې د مخنيوي لپاره يې پر سرتېرو امر وکړ چې خپل کورونه دې اصفهان ته راوړي. کندهار ته اته زره اوښان ولېږل شول، چې په کندهار کې له نورو اوښانو سره يوځای د افغان سرتېرو کډې اصفهان ته بار کړي .

د کروسينسکي په وينا: �لومړی کاروان چې ۳۰زره اوښان وو، تر درې مياشتني مزله وروسته اصفهان ته ورسېد. په وروسته دوو کلونو کې هم اصفهان ته مهاجرتونه وشول، خو بيا هم د اصفهان د خلکو کموالی جبران نه شو. وروستی کاروان چې د شاه محمود د ژوند په زمانه کې اصفهان ته دننه شو، درې زره اوښان وو، چې له دې کاروان سره د شاه محمود مور هم مله وه).۳۴(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېراز دويم ښار و، چې بايد نيول کېدای. د ۱۷۲۳م کال د دوبي په پای کې نصرالله کور (ړوند) د دې ښار په نيولو مامور شو، هغه شېراز ته تر نژدې ځايه پورې له هېڅ ډول مقاومت سره مخ نه شو، خو کله چې شېراز ته ورسېد، نو واکمن يې په مقاومت لاس پورې کړ. نصرالله سم له لاسه له خپل پوځ سره يوځای د هغه ښار نيولو ته يو شول. دا واکمن له لومړنيو کسانو څخه و، چې د ښار ساتونکو وويشت او مړ يې کړ. د نصرالله مړينه د لښکريانو او نورو پلويانو د خواشينۍ لامل شوه، چې محمود دا پېښه نه جبرانېدونکې ضايعه وګڼله، ځکه چې د ده د لښکر له برياليو مشرانو څخه و .

ارمنيانو او په ځانګړې توګه زرتشتيانو د نصرالله په مړينې سره خپل ستر ملاتړ له لاسه ورکړ. د هغه په مړينه ډېر خواشيني شول، ان د اصفهان خلکو هم هغه يو زغم لرونکی کس ګاڼه .

پولېنډي کشيش کروسينسکي په خپلو خاطرو کې ليکي چې نصرالله زرتشتي يو زغم لرونکی کس و. کله چې يې وليدل ځينې ګرجيان د شاه له خوا د خدمت پر وخت د اسلام منلو ته اړ ايستل کېږي، اجازه يې ورکړه چې خپل پخواني مذهب ته واوړي. ان له اصفهان څخه يې ګرجي کشيش ورولېږه. کروسينسکي زياتوي چې په هر حال �هغه عيسويت ته د مينې له کبله نه، بلکې له شيعه مذهب څخه د کرکې له کبله دا کا ر کاوه).�۳۵)

د نصرالله زرتشتي تر مړينې وروسته، د افغان ځواکونو مشري زبردستخان افغان ته پاته شوه، چې شېراز فتحه کړي. وايي: زبردستخان يو زړور او بېباک جنګيالی و� پر دې بنسټ يې هغه ښار کلابند کړ، کله چې ښار تسليم شو، نو د شېراز د خلکو پر وړاندې يې مينه وښووله. څرنګه چې سوداګرو پر خلکو خوراکي توکي بند کړي وو، زياتو اړو خلکو د لوږې له کبله خپل ژوند له لاسه ورکړ. زبردستخان امر وکړ چې ټول دکانونه او د خوړو پلورنځي دې پرانيستل شي، هېڅوك هم حق نه لري چې له ځان سره وسله ولېږدوي.

د ښار وضعه ډېر ژر عادي شوه او له هرې خوا شېراز ته خوراکي توکي راروان شول. خلکو د اوليه توکو په تيارولو لاس پورې کړ. په (تاريخ منظم ناصري) نومي کتاب کې چې د ناصر الدين شاه د استخباراتو وزير ليکلی دی، راغلي: �زبردستخان د شېراز خلکو ته وخت ورکړ، چې يوه ورځ وربانديې بريد وکړي او شېراز ونيسي. کله چې ښار ونيول شو، ويې ليدل چې څو کسان له لوږې مړه شول، يوه سوداګر په کور کې دومره غنم لرل چې د شېراز ډېرو خلکو ته يې څو مياشتې کفايت کاوه، زبردستخان له دې سوداګر څخه پوښتنې- ګروېږنې وکړې او بندي يې کړ، چې ولې يې دا غنم له خوارو خلکو راسپمولي او دومره ډېر خلك مړه شول).�۳٦)

يو ځل يوه ارمني سوداګر شاه محمود افغان ته عرض کړی و، چې د اصفهان- هندوستان پر لار يې جواهرات او دوې بستې الماس غلا شوي دي. شاه محمود خان زبردستخان ته وليکل چې د دې سوداګر مال دې پيدا او خاوند ته يې ورتسليم کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبردستخان د دې لپاره چې پر ایران باندې افغان واکمنۍ ته پای ورکړي، اغېزناکه هڅه وکړه او غلا شوي الماس یې پیدا او خاوند ته ورتسلیم کړل. دا کار دا جوتوي چې زبردستخان باډسپلین شخص او با انضباطه واکمن و. ګنې د ارمني سوداګر د الماسو او جواهراتو پیدا کول دومره اسان کار نه و.(ګوربت مجله: ځلورمه ګڼه، پنځم کال، پنځم مخ، د ښاغلي حداد لیکنه).

د شېراز فتحې شاه محمود د ایران د نورو ښارونو نیولو ته هم هیله من او خوشحال کړ. کله چې زبردستخان د نورو سیمو او بندرعباس په پرانیستنه بوخت و، شاه محمود د یوه لښکر په مرسته د اصفهان د شمال لوېدیځ په سل میلۍ کې پر ګلپایګان برید وکړ او تر لنډې جګړې وروسته یې فتحه کړ او ویې نیوه. بیا یې د زبردستخان په مرسته کاشان هم ونیوه او اصفهان ته ستون شو .

که څه هم د هغه راتلونکي ته دا فتوحات دومره ډاډمن نه وو او یوازې یې د سیمو پراختیا ته لار برابروله، یوځل بیا محمود د یوه ستر پوځ په مشرۍ غوښتل عشایرکوه او ګیلویه ونیسي. د سیمې له جغرافیایي وضعې سره دنه بلدتیا او سړې هوا له کبله د محمود پوځ ته درانه تلفات واوښتل. بری یې په برخه نه شو، محمود چې له کومې ګټې او بري پرته یې خپل زیات ځواك بېځایه لګولی و، ډېر خواشینی و. پر دې مهال امان الله خان د شاه محمود د دولت یوه مهم شخص د هغه د ظلم له کبله د غنایمو د وېش په وخت کې خوابدی شو او له خپلو ځواکونو سره ظاهراً له اصفهانه د کندهار لوري ته روان شو.

امان الله د شاه سلطان حسین له لور سره واده وکړ، چې په دې توګه د شاه محمود له نژدې دوستانو څخه ګڼل کېده. کروسینسکي د امان الله خان دا اقدام د هغه د مېړنې هڅونه ګڼي، چې هغه د شاه محمود او خپل خاوند (امان الله خان) ترمنځ له اختلاف څخه خبره وه.

نو لیکي: �امان الله د ۱۷۲۳م کال په لومړۍ لسیزه کې، که څه هم شاهي تاج یې ایسته کړی و، له خپلو سپاهیانو سره له اصفهانه ووت او کندهار ته روان شو، خو د لارې په اوږدو کې له دې پرته چې خپله موخه څرګنده کړي، خپله لار یې د طهماسب تر واکمنۍ لاندې سیمو ته بدله کړه).�۳۷(

دې خبر شاه محمود دومره په غوسه کړ، چې ناڅاپه یې په مان الله پسې ډېر اوږد مزل پیل او پیدا یې کړ. له اس څخه راکښته شو او په غېږ کې یې ونیو، د هغه ټولولې غوښتنې یې ومنلې (د واك او غنیمتونو وېش) .

د افغاني دود له مخې دواړو پر راکښلو تورو د وفادارۍ قسم وکړ، وروسته شاه محمود خپل اس امان الله ته ورکړ، چې پرې سپور شي او په ډېر جلال سره اصفهان ته لاړ شي .

کروسینسکي لیکي: �امان الله خان له کابله کندهار ته لاړ او په محمود پورې یې اړه درلوده. هوښیار او ډېر جګړه مار سړی و، اوس نو ډېر مدبر او په اصفهان کې د محمود د ځواك یو لوی لامل و).�۳۸(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه محمود، امان الله خان خپل اعتمادالدوله (لومړی وزیر) ګرځولی و .

یوځل امان الله شاه محمود ته یادونه وکړه چې شاه اشرف چې یو زړور او جنګیالی سړی و، له کندهاره راوغواړي او د هغه قدر دې پرځای کړي. شاه محمود همداسې وکړل، هغه یې له کندهاره وغوښت، ظاهراً یې ورته درناوی کاوه، خو په زړه کې یې هغه ته دا درناوی، نه خوښاوه. اوس نو محمود پر امان الله چې له کندهاره راستون شوی و، ډېر باور نه کاوه. اشرف او امان الله یې بد اېسېدل، خو دې دواړو هم ورسره کینه لرله .

همدا مهال شاه محمود ته خبر راغی چې له کندهاره د اصفهان پر لوري روان افغان کاروان د یزد د اوسېدونکو له خوا لوټل شوی او د دې کاروان ۲۰۰۰ کسان وژل شوي دي. محمود د ۱۷۲۴م کال په نومبر کې د غچ اخیستنې په نیت روان شو، خو په دې جګړه کې یې بری ونه موند. برعکس د هغه پوځ ډېر تلفات ولیدل. د پوځ مشرانو د دې ماتې لامل په محمود پورې وتاړه، اخر یې ځینې سرتېري او کسان کندهار ته روان شول .

دغو پېښو د محمود پر ذهن دومره زور راوړ چې په وېرې او د اعصابو پر کمزورۍ اخته شو. له خوراك او خوب څخه ولوېد، چې لېونتوب او وسوسه یې ملګرې شوه. شا و خوا کسانو یې د خدای د قهر نښه ګڼله او د دې غوسې د ختمولو لپاره ورته لاربښوونه وشوه، چې په اعتکاف او عبادت لاس پورې کړي او چله دې ونیسي. دې اعتکاف باید ۴۰ ورځې ادامه لرلای. محمود همداسې وکړل، هغه په چله کښېناست او د اسم اعظم په لوستلو یې پیل وکړ. ۴۰ ورځې یې له چا سره خبرې نه کولې، خوراك او څښاك یې نه کاوه. دې اعتکاف د هغه پر روحیې ناوړه اغېزې وکړې، هغه یې د لېونتوب تر بریده ورساوه، کله چې له چله ځای څخه ووت، رنګ یې الوتی او خوار و زار معلومېده. سکون یې نه درلود، پر خپلو ټولو نژدې ملګرو شکمن و. ګومان یې کاوه هر څوك یې چې ورنژدې کېږي غواړي ویې وژني او هرڅه یې لوټي .

له دې کبله یې تر هرڅه وړاندې د خپل تره زوی شاه اشرف زندان ته ولېږه، پر همدې مهال یې خبر ورکړ، چې یو شهزاده (صفي میرزا) له مانۍ څخه تښتېدلی او بختیاري ته یې پناه وړې ده. دې خبر لکه چکوش د هغه ماغزه وکوټل، د بېواکه شوي شاه پر کورنۍ یې برید وکړ، د هغه مېرمنې او ماشومان یې ووژل، والي سلطان حسین د خپلو ماشومانو د چیغو په اورېدلو له کوره ووت او دا وېروونکې صحنه یې ولیده. زارۍ یې وکړې، دوه زامن یې چې لاسونه یې تر شاه تړلي وو له جلاد څخه وتښتېدل او د پلار غېږې ته یې پناه یووړه. محمود ورباندې برید وکړ، شاه حسین خپل لاسونه ورباندې راوګرځول. خو توره د هغه پر لاسونو وربرابره شوه او ټپي یې کړ. محمود د خپل خسر د وینو په لیدو په خود شو او د هغه دوه زامن یې ونه وژل، خو دا دوه وروڼه دومره وېرېدلي وو، چې دوې ورځې وروسته دواړه مړه شول).۳۹(

پر محمود د دې کار اغېزې ډېر درنې پرېوتې. دې کار د هغه د عقل وروستۍ روغتیا هم واخیسته. په خپله یې د خپل بدن غوښې په غاښونو شکولې او په ځان نه پوهېده. د بدن ټپونه یې ناسورېدل، څرنګه چې محمود نور د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واکمنۍ وړ نه و، افغان مشران په ځانګړي توګه امان الله سره سلا شول چې ځایناستی ورته وټاکي. د ۱۷۲۵م کال د اپرېل پر ۲۲مه امان الله خان او یو بل افغان مشر اشرف له زندانه وایست، چې د ۷۰۰_۸۰۰ کسانو په ملګرتیا یې میدان شاه ته ولېږه. میدان ته په رسېدو سره یې پر سلطنتي ماڼۍ برید وکړ، سلطنتي ګارد تر لږ مقاومت وروسته تسلیم او اشرف ماڼۍ ته ونیوله. شاه محمود یې زندان ته ولېږه، درې ورځې وروسته شاه محمود د ناروغۍ یا هم خوارځواکۍ له کبله مړ شو او په دې توګه د شاه اشرف پاچایي اعلان شوه).۴۰(

پر ایران د شاه اشرف واکمني:

شاه اشرف د میر عبدالعزیز هوتك زوی، چې د شاه محمود همزولی و ۲٦ یا ۲۷کلن و چې د ۱۷۲۵م کال د اپرېل پر ۲٦مه پر ایران واکمن شو. د کروسینسکي په وینا هغه په ډېره ځوانۍ کې زړور او تجربه کاره جنګیالی و، چې د واکمنۍ لپاره یې خپله وړتیا زبات کړې وه. محمود هم د خپلې زړورتیا له کبله پر خپلو پوځیانو او ترلاس لاندې خلکو ګران و، خو زړونه یې د مینې پرځای په وېرې او وحشت کې اچولي و. اشرف- سره له دې چې د محمود غوندې په زړورتیا کې مشهور و، د خپلو پوځیانو د پام وړ مشر هم و، څرنګه چې تر محمود ځیرك و، ډېر احتیاط به یې کاوه .

اشرف په پیل کې غوښتل د ایران پاچایي د ایران مات شوي پاچا (سلطان حسین) ته وسپاري، خو پاچا په دې وخت کې له خلکو لیرې و او له دنیایي چارو یې لاس اخیستی و. دا وړاندیز یې ونه مانه، خو هیله یې وکړه چې د کورنۍ پاتې غړو ته یې باید پام وشي، دغه راز یې خپله یوه لور شاه اشرف ته ورکړه .

اشرف دا ومنله او امر یې وکړ چې د میاشتې د پنځوسو تومانو پرځای دې هره اوونۍ د هغه کورنۍ ته پنځوس تومانه معاش ولېږل شي. اشرف یې له یوې لور سره واده هم وکړ. خو تر هرڅه وړاندې یې امر وکړ چې د شاهزادګانو مړي دې په ډېر درناوي او ځانګړو مراسمو سره له کاروان سره یوځای قم ته ولېږدول شي او هورې دې خاورو ته وسپارل شي) .۴۱(

طبعاً دا کار یې د ایرانیانو د رضایت سبب شو. د کروسینسکي په وینا د اصفهان خلکو په ژړا سره جنازې د اصفهان تر وروستیو حدودو بدرګه کړې او �دا ځل یې په خپله ځانونو ته ډاډېینه ورکوله چې کولای شي په خپلواك ډول پر خپلې بدمرغۍ او سلطنتي کورنۍ اوښکې تویې کړي).�۴۲(

کروسینسکي وایي: �اشرف د اصفهان د کلابندۍ پر وخت ډېر نرم چلند درلود او په دې اند و چې باید د شاه سلطان حسین د سولې وړاندیز دې ومنل شي. ان هغه مهال چې پاچا د غلو او خوراکي توکو له کمښت سره مخ و،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهي دربار ته يې څلوېښت زره کيلو غنم ولېږل، کله چې محمود د شاه اشرف له دې کاره خبر شو، د يوه ماموريت په پلمه يې ليرې کړ، کله چې محمود د پاچايۍ پر تخت کښېناست، نو اشرف يې زندان ته ولېږه).�۴۳(

د همدې سرچينې په وينا، د محمود په پرتله اشرف څه ناڅه منځلارى او باانصاف کس و، د نصرالله زرتشتي تر مړينې وروسته د افغان پاڅونکو له تر ټولو غوره مشرانو څخه ګڼل کېده، چې توانېدلى و د ګلناباد په جګړه کې برى ترلاسه کړي. کروسينسکي بل ځاى اشرف (ماهر سياستوال) ګڼلى دى).۴۴(

اشرف طهماسب ميرزا ته هم وړانديز وکړ چې په يوه ځاى کې دې د روغې لپاره سره وګوري، خو د دواړو غاړو د بدبينۍ له کبله دا کتنه ونه شوه. اشرف د خپلې واکمنۍ په پيل کې نه يوازې د روسيې او عثماني ترکيې د لاسوهنو له کبله تر ګواښ لاندې و، بلکې د ايران د دروغجنې واکمنۍ د مدعيانو له خوا هم له ګڼو ستونزو سره مخ و. د دې خطرونو پر وړاندې تر مقابلې مخکې هغې توطيې ته متوجه شو چې د امان الله خان په مشرۍ ورته متوجه وه. د کروسينسکي د دې اختلاف سرچينه دلته وه: �د امان الله خان تمه ډېره شوه، په يوه اوونۍ کې يې له قزلباشانو څخه ۹۰۰۰تومانه واخيستل. اشرف له دې حالته خبر شو او راويې غوښت، هرڅه يې ترې واخيستل).�۴۵(

امان الله خان نه شواى کولاى دا سپکاوى وزغمي، په دې هڅه کې شو، چې د ځينو افغانانو په مرسته اشرف ووژني او خپله واکمن شي. پر دې سربېره امان الله خان له شهزاده طهماسب صفوي سره چې دا مهال په اذربايجان کې و مکاتبه پيل کړه او ويې هڅاوه چې پر اصفهان بريد وکړي. اشرف له دې دسيسې خبر او امان الله يې د هغه له ملګرو سره يوځاى له منځه يووړ. بيا يې شهزاده طهماسب ته، چې له خپل اذربايجاني پوځ سره يوځاى اصفهان ته روان و، ماته ورکړه او مازندران ته يې وشاړه. د هغه سرلښکر سيدالخان ناصر وکړاى شول قزوين ونيسي. بل مشر يې زبردستخان تهران ونيوه او د فتح علي خان قاجار اقدامات يې شنډ کړل .

## د ايران د بهرنيو دښمنانو پر وړاندې د شاه اشرف دفاع:

له طهماسب څخه تر فراغت وروسته، اشرف هغو بهرنيو دښمنانو ته متوجه شو، چې ايران يې تر يرغل لاندې نيوه. دا مهال د ترکيې او روسيې ترمنځ د ۱۷۲۴م کال د جون د ۲۴مې د تړون له مخې ايران وېش، چې روسانو په قفقاز کې د ايران زياتې سيمې د دربند او بادکوبه ښارونو په ګډون ترلاسه کول، چې خپل ځينې سرتېري يې د سمندر له لارې جنوبي ساحل ته پلي کول، چې پر رشت او ځينو نورو سيمو يې منګولې ښخې کړې وې، خو په ۱۷۲۵م کال پطر کبير ومړ، چې ځايناستي يې د په کورنيو چارو کې د اختلاف له کبله ونه کړاى شول، د هغه نقشې پلې کړي).۴٦(

عثماني ترکانو هم د ۱۷۲۴م کال د جون د ۲۴مې نېټې د تړون له مخې د ايران د لوېديځ د نيولو لپاره قفقاز او فارس ته ځو لښکرې ولېږلې، څرنګه چې د ايران سيمه ييز واکمنان کمزوري وو، عثماني ترکانو تفليس، ايروان، تبرېز او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرمانشاه ښارونه ونیول. د دې لښکرو مشر د بغداد والي حسن پاشا و، چې د کرمانشاه تر نیولو وروسته ومړ. زوی یې احمد پاشا د هغه ځایناستی وټاکل شو او دنده ورکړل شوه، چې اصفهان ته لښکرې وباسي او ویې نیسي .

اشرف چې په مذهبي لحاظ یې د ایرانیانو په پرتله ځان ترکانو ته نژدې ګاڼه، لومړی یې هڅه وکړه چې له عثماني دولت سره روغه وکړي، نو د عبدالعزیز په نامه د یوه کس په مشرۍ یې یو استازی ولېږه، نوموړي سفیر هڅه وکړه چې عثماني دولت پر ایران باندې د اشرف حاکمیت په رسمیت وپېژني. خو هغه له کومې لاسته راوړنې پرته اصفهان ته ستون شو، ځکه ترکیې له ډېره وخته د ایران د غربي سیمو تصرف غوښته او نه یې شول کولای چې وخت له لاسه ورکړي او له بلې خوا دا کار د هغو قراردادي موادو خلاف و، چې د روسیې او ترکیې ترمنځ د ایران د وېش په باب و).۴۷(

عثماني ځواکونه چې ۷۰_۸۰ زره کسان او اویا توپونه یې لرل، چې له همدان څخه یې د اصفهان پر لوري حرکت کاوه، مشر یې احمدپاشا اشرف ته توند لیك ولېږه او په هغه کې یې اشرف ته ګواښ کړی و، چې ایران پرېږدي او شاه سلطان حسین ده ته ولېږي او یادونه یې کړې وه چې د ایران پخوانی پاچا به بیا پر اصفهان واکمن کړي .

اشرف په دې پیغام دومره راوپارېد چې امر یې وکړ د مات شوي شاه سر دې له تنه جلا کړل شي، بیا یې له لیك سره یوځای د یوه ریبار په ملګرتیا احمدپاشا ته ولېږه او دا یادونه یې هم وکړه چې ځواب به یې په توره وایي).۴۸(

ډاکټر فلور، د (اشرف بر تختگاه اصفهان) نومي کتاب لیکوال د هالېنډي شاهدانو له قوله لیکي چې احمدپاشا د یوه ترکي او دوو افغان ملایانو په مرسته اشرف ته دغه پیغام ولېږه:

�اشرفه!

ته باید عثماني سلطان ته د تسلیمۍ لپاره په خپله احمدپاشا ته راشې، سلطان به تا ته د یوه هم مذهبه او بېګلربېګي په توګه د ایران او ځینو نورو سیمو یوشمېر ځایونه دروسپاري. ته باید ډېر ژر تسلیم شې، سکه او خطبه باید د عثماني سلطان په نوم وویل شي.�

شاه اشرف هغه ترکي ملا په دې ځواب سره احمد پاشا ته ولېږه:

�که عثماني سلطان له صفوي امپراتور سره کړي، تړونونه نه تجدیدوي، زه د خپلې پاچایۍ یو امتیاز هم نه تسلیموم، ځکه زیاتې سیمې ما خپله ګټلې دي، زه تر خپلې وروستۍ سلګۍ پورې د هغو دفاع کوم).�۴۹(

احمدپاشا د اشرف په پیغام ډېر په غوسه شو او د پرمخیون امر یې وکړ. د همدان په ۸۰ میلۍ کې ترکي ځواکونه د اشرف له ځواکونو سره چې شمېر یې ۱۷۰۰۰ کسانو ته رسېده مخ شول. دواړو ځواکونه په لنډ واټن کې سره مخامخ ودرېدل او د لښکرو وضعه یې مطالعه کړه، اشرف په ترکي لښکرو کې د لارموندلو لپاره ځینې کسان ولېږل، چې لږ تر لږه د جګړې له صف څخه کردان وباسي. په عین وخت کې احمدپاشا خپل ٦۰۰۰سرتېري د شپې په تیاره کې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه برید لپاره د اشرف د لښکر پر لوري ولېږل. خو لارښود دوی د شپې په تیاره کې داسې ځای ته بوتلل، چې تر وروستي کسه پورې د افغانانو د تورې ښکار شول. احمد پاشا په دې خبر ډېر په غوسه او حیران شو، پر همدې مهال څلور افغان دیني پوهان د ترکانو پوځ ته ننوتل او له جګړې څخه یې د لاس اخیستلو تبلیغ پیل کړ، تر ټولو مشر یې احمدپاشا ته وویل چې د خپل پاچا (اشرف) له خوا ورته راغلی او له ترکانو څخه غواړي له خپلو هم مذهبه سنیانو سره دښمني ختمه او په ګډه د شیعه ایرانیانو پر وړاندې جهاد وکړي. افغان پوه په دې حملې سره چې احمد پاشا به د خپلو هم مذهبه کسانو په وژلو سره خواشینی وي، خپله خبره پایته ورسوله. همدا مهال چې احمد پاشا له افغان پوه سره پر خبرو لګیا و، د اذان ږغ اوچت شو، افغان پوهان سم له لاسه د لمانځه لپاره د ترکانو په صف کې ودرېدل. په دې توګه یې له هغوی سره یوځل بیا خپله هم مذهبي وښووله، تر لمانځه وروسته یې یوځل بیا ټینګار وکړ، چې باید له وژنو لاس واخیستل شي او پر خپلو اسونو سپاره او خپل پوځ ته ستانه شول. پر همدې مهال ځینې ترکان ورپسې روان شول .

احمد پاشا چې دا وضعه ولیده، نو چاره یې په بېړني برید کې ولیده، سم له لاسه یې امر وکړ چې پر افغان پوځونو دې برید وشي. خو دا هغه وخت و چې د اشرف تدابیرو کار وکړ. نه یوازې د ترکي پوځ زیاتو کسانو له برید څخه ډډه وکړه، بلکې ۲۰۰۰کردانو د بېګ سلیمان اوغلو تر مشرۍ لاندې له ترکانو بېل او له اشرف سره ملګري شول. احمدپاشا د خپل پوځ پاتې برخه سره منظمه کړه او پر اشرف یې برید وکړ، خو شا ته وتمبول شو. تر کانو دوه ځله بیا بریدونه وکړل، خو دواړه ځله له ماتې سره مخ شول. احمدپاشا پر افغانانو خپل برى ناشونى وليد، پر دې بنسټ یې د شاتګ امر وکړ، پوځیان یې داسې ژر تر شا شول چې په همدان کې هم تم نه شول، بلکې سیده یې ځانونه بغداد ته ورسول، خو ۱۲۰۰۰ مړي یې له توپخانو او نورو جګړو ییزو وسایلو سره یوځای پر ډګر پرېښي وو .

کردانو له دې اله ګولې څخه په استفادې سره د ترکانو د پاتې شویو توکو په لوټنې لاس پورې کړ، افغانانو جګړه ییز وسایل او ټولې توپخانې ونیولې).۵۰(

فرهنګ د دې پېښې مهال د ۱۷۲٦م کال د نومبر ۲۰مه ګڼي او د ترکانو د تلفاتو شمېر یې ۱۷زره تنه قید کړی دی.(۵۱) خو ډاکټر ویلیم فلور د دې جګړې نېټه د ۱۷۲٦م کال د نومبر اتمه او د ترکانو تلفات ۳۰۰۰۰تنه ګڼي، چې ګواکې ځینې جګړه ییز وسایل هم ځنې پاته شوي او د اشرف تلفات یوازې ۱۴کسه ګڼي. بیا زیاتوي چې اشرف د ۱۷۲٦م کال د نومبر پر ۱۷مه په بري سره اصفهان ته ستون شو، خو هالېنډي سوداګريز استازی (اسخارو) له هغو کسانو څخه و، چې د ښار په یو میلۍ کې د اشرف هرکلي ته ورغلی و).۵۲(

تر دې جګړې وروسته چې ترکانو له اشرف سره سولې ته غاړه کښېښوده او د دواړو غاړو ترمنځ یو تړون لاسلیك شو، چې په ترخ کې یې اشرف ومنله چې تر واك لاندې سیمو کې به یې په لومړۍ خطبه کې د سلطان عثماني نوم د اسلام د خلیفه په توګه یادېږي، وروسته دې د اشرف نوم اخیستل کېږي. په مقابل کې سلطان عثماني شاه اشرف

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران د پاچا په توګه په رسمیت وپېژاند او موافقه یې وکړه چې د اشرف په نوم دې سکه ووهل شي. که څه هم اشرف دا کار په هماغه پیل کې کړی او د سرو- سپینو سکې یې ډېرې ارزښتمنې وې او د (اشرفۍ) په نامه یې په افغانستان او ایران کې زیات پېرېدونکي لرل، بله دا چې د ایران لوېدیز ولایتونه لکه کرمان شاهان، همدان، سنندج، خرم اباد او د اذربایجان ځینې برخې چې وړاندې تر کان پرې واکن وو، د ترکانو تر واکمنۍ لاندې پاتې شوې .

تر دې تړون وروسته عثماني دولت رشید افندي په ۱۷۲۸م کال په اګست کې د سفیر په توګه شاه اشرف ته (اصفهان ته) ولېږه. شاه اشرف هم محمد خان بلوڅ چې په بلوڅانو کې یې ډېر نفوذ درلود، د سفیر په توګه استانبول ته ولېږه. عثماني دربار د محمد خان بلوڅ ډېر تود هرکلی وکړ او امر یې وکړ چې د افغان سفیر ټوله لار دې سپینه شي. ترکانو (خان سیواسي) یانې سپین کاري خان وباله).۵۳(

شاه اشرف چې له عثمانیانو بېغمه شو، نو روسانو ته یې پام واړاوه. روسانو مخکې د ستر پطر تر مشرۍ لاندې دربند او بادکوبه ښارونه نیولي وو، په هغه وصیتلیك کې چې د ستر پطر ګنل شوی، راغلي دي: �هند او قسطنطنیې ته نژدې کېدل غوره دي، که څوك داسیمې په لاس کې ولري، د ټولې نړۍ خاوند به وي، نو دې موخې ته د رسېدو لپاره باید دایمي جګړو ته لمن ووهل شي. نه یوازې په ترکیه کې، بلکې په ایران کې هم د تور سمندر پر شا و خوا د کښتۍ جوړونې د کارځایونو جوړونه او د دې سید تدریجي تصرف چې د بالتیك د سیند په شان زموږ د طرحو د اجرا په برخه کې ډېر ضروري دي، دغه راز د فارس تر خلیج پورې نفوذ، د ایران کمزوري کول او د امکان په صورت کې له شرق سره سوداګریز اړیکي غزول. وروسته بیا د هند پر لوري پرمخیون چې د نړۍ د خزانو انبار دی، د هغه تر نیولو وروسته به د انګرېزانو سرو زرو ته اړتیا نه لرو).۵۴(

په دې توګه تودو اوبو ته د رسېدو مفکوره د روسانو په مغزو کې دننه شوه. پطر په ۱۷۲۵م کال ومړ. پاتې کسانو یې دومره وړتیا نه درلوده، چې د هغه پلانونه تر تودو اوبو پورې ځان رسول عملي کړي. خو په قفقاز کې یې خپلې نیول شوې سیمې وساتلې. له بله پلوه شاه اشرف دومره ځواك نه درلود چې روسان د قفقاز له نیول شویو سیمو وباسي. د سیدالخان ناصر تر مشرۍ لاندې یو لښکر یې د روسانو پر وړاندې مبارزې لپاره ولېږه، د افغان او روسي ځواکونو ترمنځ څو وړې جګړې ونښتې، چې سیدالخان ناصر په کې ټپي شو. تر دې وروسته د ۱۷۲۹م کال د فبرورۍ ۳ یا ۲۴مه د سیدالخان ناصر او جنرال لواشف ترمنځ په رشت کې یو تړون لاسلیك شو، چې د دې تړون له کبله شاه اشرف له هغو سیمو صرف نظر وکړ، چې وړاندې طهماسب میرزا صفوي او استازي یې اسمعیل بېګ روسانو ته سپارلې وې. په مقابل کې روسانو شاه اشرف د هغه تر واك لاندې سیمو او ایران د پاچا په توګه وپېژاند. دواړو هوکړه وکړه، چې تجارتي چارو ته به اجازه ورکوي، په اصفهان کې به روسي سوداګر استوګنه کولای شي اوله هغه ځایه به هند ته تلای شي).۵۵(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر صفوي ايران باندې د روسانو او ترکانو د يرغلونو له کبله ايران پر څلورو برخو وویشل شو. لوېديز او شمال لوېديز ولايتونه يې عثماني دولت، شمالي داپې په روسي دولت پورې وتړل شول، غربي خراسان او ځينې نورې شمالي سيمې يې طهماسب ميرزا صفوي ته پاته شوې، چې د خپل پلار تر مړينې وروسته يې ځان د ايران د پاچا په توګه اعلان کړی و او شاه اشرف پر اصفهان، شيراز، قزوين، تهران، کرمان، سيستان او د ايران پر ځنيو نورو لوېديزو برخو واکمن و. کندهار چې د اشرف پلرنی ټاټوبی و، د شاه محمود تر مړينې وروسته د محمود د ورور شاه حسين په لاس کې و، چې د اشرف واك نه پرې چلېده، ځکه شاه حسين ځان خپلواك اعلان کړی و. اخر شاه اشرف له خپل هېواد څخه مرسته ترلاسه نه کړه، اړ شو چې د ايران پر سني مذهبه اجيرو پوځيانو تکيه وکړي، چې دا يو کمزوری بنسټ و.

## د سلطنت د مدعيانو پر وړاندې د شاه اشرف جګړې:

شاه اشرف نه يوازې اړ و چې د روسانو او ترکانو پر وړاندې د ايران د ګټو دفاع وکړي، بلکې بايد هغه پاڅونونه يې هم ځپلای، چې د صفوي دولت د دروغجنو وارثانو او مدعيانو له خوا کېدل .

د سلطنت يو بل مدعي سيد احمد کرماني و، چې ګواکې نيکه يې ميرزا داود د امام رضا د کورنۍ غړی و، چې د شاه سليمان صفوي له لور سره يې واده کړی و او ګواکې پاچايي د ده حق کېده .

نوموړي په پيل کې له شهزاده طهماسب سره همکاري کوله، خو کله چې يې وليدل طهماسب يې خبرې نه اوري او په خپل عيش او نوش اخته دی، اړيکي يې ورسره وشلول او په کرمان کې يې د خپلې خپلواکۍ بيرغ اوچت کړ، ځان يې پاچا وباله. طهماسب هڅه وکړه چې منحل يې کړي، خو بريالی نه شو. اخر شاه اشرف د ۱۷۲۸م کال_ ۱۱۴۰هـ هغه له ماتې سره مخ کړ .

په بلوڅستان کې بيا بل کس سر رااوچت کړ، چې ډېر ژر يې کار مخته لاړ. دا سلطان محمد نومېده، څرنګه چې يې د خره له سورلۍ سره ډېره مينه لرله، په (سلطان محمد خرسوار) باندې ډېر مشهور شوی و.

سلطان محمد خرسوار يوځل سيد احمد کرماني ته ماتې ورکړه او په لوټ و تالان يې هم لاس پورې کړ. خو شاه اشرف دا کس هم له ماتې سره مخ کړ او اړ يې ايست چې هند ته وتښتي).۵۷(

د بختياري په غرنۍ سيمه کې هم يو کس پيدا شو چې لومړی يې ځان معصوم ميرزا ونوماوه بيا يې پر ځان صفي ميرزا نوم کېښېښود، خلکو تصور کاوه چې دا به هماغه صفي ميرزا وي، چې په ۱۷۲۵م کال يې غوښتل د شاه محمود له زندان څخه وتښتي. ډېر ژر يې د هغه بلنه ومنله او د طهماسب تر نوم وروسته يې د هغه نوم په خطبه کې واخيست، خو طهماسب ميرزا يې له اصليت څخه انکار وکړ. خو دی په شوشتر کې يوځل بيا پر خپلو ساده پلويانو برلاسی شو، چې په ۱۱۴۰_۱۷۲۷م کال ووژل شو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۱۴۳هـ (۱۷۲۹م کال- اګست) یو بل مدعي محمد علي رفسنجاني هم ځان صفي میرزا ونوماوه او د شوشتر پر خلکو یې برغ وکړ، خلکو ویل چې د ده سترګې د صفي میرزا سترګو ته ورته دي، حال دا چې هېچا هم د مانۍ په حرم کې د مېشت صفي میرزا سترګې نه وې لیدلې، خلکو یې ملاتړ وکړ، خو د شوشتر واکمن یې له ملګرتیا انکار وکړ، هغه یې تر فشار لاندې ونیوه، تر دې چې نوموړی له هغه ځایه وتښتېد او بین النهرین ته لاړ، ورروسته بیا قسطنطنیې ته ورسېد .

د لاهي جان له خلکو یوه بل تن زینل بن ابراهیم هم په طغیان لاس پورې کړ او ځان یې د شاه سلطان حسین زوی اسمعیل میرزا وباله او مدعي شو چې د شهزادګانو تر مړینې وړاندې له زندان څخه تښتېدلی و. زینل تر یوې جګړې وروسته د طهماسب میرزا له پلویانو سره له روسانو سره د روغې لپاره ګیلان ته لاړ، روسانو هغه د ترکانو تر واك لاندې سیمو ته په تېښتې اړ ایست.

که څه هم په پیل کې یې کار ښه روان و، خو اخر ونیول شو او یا ووژل شو. دوو نورو کسانو هم ځانونه اسمعیل میرزا وبلل، یوه په بختیاري سیمه کې پاڅون وکړ، خو ډېر ژر پوپناه شو، بل تن یې په اصفهان کې د طهماسب میرزا تر جلوس وروسته له درباره سر رااوچت کړ او طهماسب میرزا یې د خپلې دعوې تر اغېزې لاندې راوست، کله چې طهماسب پوه شو چې دی یې د تاج او تخت د لوټلو خیال لري، وېې نیوه او وېې واژه. دا ټولې ادعاوې او پاڅونونه دا څرګندوي چې خلکو پر خپل هېواد د پردیو واکمنې نه غوښتله او په داسې کس پسې وو چې دوی د پردیو یرغلګرو له منګولو وساتي.

اخر داسې یو کس پیدا شو، خو دا کس شهزاده طهماسب صفوي نه و، بلکې یو زړور جنګیالی و، چې د واك غوښتنې په موخه د ۷_۸ کلنو جګړو له بټۍ څخه تېر شوی و. دا کس د شهزاده طهماسب د ځواکونو اصلي قوماندان نادرقلي و. تاریخ کښونکي په دې باور دي چې په خراسان کې د ملك محمود سیستاني په حکومت کې د نادرقلي جګړه ییزې زده کړې د هغه په روښانه راتلونکي کې مهم رول درلود. نادر په پیل کې د ملك محمود سیستاني په چوپړ کې و، څرنګه چې یې په ځان کې یو ډول غرور درلود، د ملك له خدمت څخه یې اوږې تشې کړې او په غلا یې پیل وکړ. د هغه د نیولو لپاره د ملك محمود هڅې ګټورې تمامې نه شوې، د زړورتیا اوازه یې تر شهزاده طهماسب پورې ورسېده، هغه چې له خدایه همداسې یو کس غوښت د نادر د لیدو لپاره له مازندران څخه خراسان ته راغی او په قوچان کې یې ورسره ولیدل، نادر هم په ذهن کې ځینې خیالونه درلودل، نو خپلو موخو ته د رسېدو لپاره یې د شهزاده طهماسب شتون ښه چانس وګاڼه او د صفوي سلطنت د مدافعینو په لیکه کې ودرېد. د طهماسب میرزا ځواکونو د نادرقلي او فتح علي خان قاجار تر مشرۍ لاندې د ملك محمود سیستاني پر وړاندې جګړې ته چې هغه مهال د خراسان شاه ګڼل کېده، ځانونه چمتو کړل، له څو جګړو وروسته یې مشهد ونیو او ملك محمود یې تسلیم کړ، چې ټول خراسان د طهماسب لاسته ورغی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادر په ۱۷۲۹م کال وکړای شول د هرات ابدالیانو ته ماته ورکړي او هرات هم د طهماسب تر واکمنۍ لاندې راولي. نادر چې ابدالي مشران او جنګیالیان په خپل پوځ کې شامل کړل او شاه اشرف ته متوجه شو، د ۱۷۲۹م کال په سپټمبر کې نادر خپل ځواکونه اصفهان ته ولېږل. اشرف چې د نادر برید ته په تمه و، د مقابلې لپاره خراسان ته روان شو.

دواړو د همدې میاشتې پر ۲۹مه نېټه د مشهد- تهران پر لار د دامغان په ختیځ مهماندوست نومې سیمه کې سره مخ شول، نادر د جګړه ییزو اسانتیاوو له مخې تر اشرف بډای و او د هرات د ابدالیانو پر وړاندې یې د جګړو له کبله د افغانانو جنګي چلندونه او تخنیکونه زده وو. د ایراني ځواکونو پر شا و خوا یې خپله توپخانه د نیمې دایرې په بڼه راوګرځوله، که افغانانو له هر لوري برید کاوه، د توپخانو له ډزو سره به مخ کېدل، په دې توګه د افغانانو ټول ډله ییز بریدونه شنډ کړای شول. افغانان د ګڼو تلفاتو په منلو سره شاتګ ته اړ شول .

په دې جګړه کې ۱۲۰۰۰ افغانان مړه شول، حال دا چې د نادر د تلفاتو شمېر ۴۰۰۰تنو ته ورسېده .

بله مهمه جګړه په مورچه خورت نومې سیمه کې وشوه، افغانانو د خپلو تجربو له مخې ټینګه مورچه نیولې وه، خو نادر اصفهان ته د خپل پوځ د یوې برخې په لېږلو سره دوی د مورچو پرېښوولو ته اړ کړل. اشرف چې د اصفهان د دفاع لپاره ډېر نهیلی و، ښار پرېښود او خپل پاته پوځ یې شېراز ته ولېږه. نادر د نومبر پر ۱٦مه اصفهان ته دننه شو، د هغه په امر ټول هغه افغان چې په ښار کې پاته وو، یا پټ شول یا هم په ډله ییزه توګه ووژل شول. د محمود د قبر سپکاوی هم وشو. د ډسمبر پر ۹مه طهماسب میرزا هم له تهران څخه اصفهان ته راغی او د خپل پلار پر تخت یې جلوس وکړ، خو په اصفهان کې د طهماسب له واکمنۍ یوه اوونۍ نه وه تېره، چې د نادر له خوا امر وشو: �د هغه ټولو پوځیانو ته دې له خلکو پیسې راټولې شي، دا پیسې په زوره واخیستل شوې، ځینې کسان د مرګ تر بریده د لرګیو تر ګوزارونو لاندې راغلل، ان ځینې مړه هم شول. د نادر سرتېرو په رښتیا هم خلك لوټل، ان ځینې کسان به یې د غلامانو په توګه پلورل، خلك ډېر ژر متوجه شول، چې د افغانانو تر واکمنۍ لاندې یې غوره ژوند درلود).�۵۷(

نادر د پاچا پر ټینګار سربېره نه غوښتل په اشرف پسې روان شي او دهغه کار ختم کړي. تر دې چې شاه نادر ته د خراسان، کرمان او مازندران تسلیمي لاسلیك کړه او نادر ته یې اجازه ورکړه چې څنګه یې خوښه وي، هغسې مالیه دې وضعه کړي، په دې توګه نادر د طهماسب په پاچایۍ کې ورشریك شو، وروسته نادر حاضر شو، چې په اشرف پسې شېراز ته حرکت وکړي .

اشرف په شېراز کې د یوه غوره پوځ په جوړولو لګیا شو، چې په شېراز کې له مېشتو افغانانو او د عربو له نورو سني مذهبه اوسېدونکو څخه یې جوړ کړ. له ټولو ستونزو سره- سره یې ۲۰ زره کسان د نادر مقابلې ته چمتو کړل. د ډسمبر پر ۲۴مه نادر د شېراز پر لوري روان شو، چې ښار ته نژدې په زرقان نومې سیمه کې له افغان ځواکونو سره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ شو. جګړه ونښته- نادر یوځل بیا پر افغانانو خپله برتري څرګنده کړه، اشرف له ټول مقاومت سره- سره د نادر په لاس ماته وخوړه او شېراز ته پر شا شو.

نادر ښار کلابند کړ، څرنګه چې د اشرف کورنۍ په قزوین کې د دښمن له خوا کلابنده وه، نود سپهسالار سیدالخان ناصر او ملا زعفران په مرسته یې د نادر له پوځ سره خبرې اترې پیل کړې. نادر شرط کښېښود چې په بدل کې به د اشرف کورنۍ ورپرېږدي چې دوی ورتسلیم شي. شاه اشرف د صفوي مشرانو له ډلې دوې مېرمنې د سیدالخان او ملا زعفران په مرسته د خبرو اترو لپاره نادر ته ولېږلې، چې له قزوین څخه یې کورنۍ خلاصه کړي. نادر چې د شېراز کلابندۍ او نورو اوږدو جګړو ته اندېښمن و، نه یې غوښتل پر اشرف ډېر زور واچوي. غوښتل یې اشرف له جګړې پرته تسلیم کړي، خو بل پلو بیا اشرف نه غوښتل دښمن ته ژوندی ورتسلیم شي، یا هم د خپلې کورنۍ ښځینه ورپرېږدي، کله چې یې له قزوین څخه کورنۍ ورسېده، څرنګه چې د شاه محمود، شاه اشرف او پاتې کورنۍ ښځینه غړي ۱۵ تنو ته رسېدې او پر اس د ټولو ورل ناشوني وو، له بلې خوا دا مېرمنې د افغاني دود د دښمنانو په لاس کې وې. نو هغه مېرمنې یې چې نه شوای وړلای، غوښتل ویې وژني، خو زړه یې نه کېده. نو یوه خواجه سرای ته یې وویل چې ۱۳ مېرمنې ووژني. خپله یې درې ځوانې مېرمنې د صفوي کورنۍ له دوو مېرمنو سره راواخیستې او د خپل سرلښکر سیدالخان ناصر او ۲۰۰افغان سپرو جنګیالیو په مرسته د شپې له خوا له ښاره ووت او د توري په زور یې په دښمن کې ځان ته لار پرانیستله. په ډېره بېړه یې ځان ختیځ ته ورساوه. د نادر پوځ ډېر ژر ښار ته دننه شو. هغه افغانان یې اسیران کړل چې په شېراز کې پاتې وو او د تېښتې لار پرې بنده وه. ټول یې اصفهان ته ولېږل، چې د اصفهان د اوسېدونکو پر وړاندې اعدام شي. خو ملا زعفران (د پښتو ادبیاتو شاعر او ادیب) له سیند څخه د تېرېدو پر وخت ځان اوبو ته واچاوه، چې د دښمن له اسارت څخه وژغورل شي).۵۸(

د نادر ځواکونو اشرف تعقیباوه، په پل فساد نومې سیمه کې ملا پیر محمد (مشهور په میاجي) له خپلو ځینو ملګرو سره یوځای څارونکي ونیول او د هغوی پر وړاندې یې مبارزه وکړه. تر دې چې خپل سر یې بایلود. خو شاه اشرف او د هغه ملګرو ته یې دا زمینه برابره کړه، چې د دښمن له منګولو ځانونه وژغوري .

په هر حال، وروسته تر دې چې اشرف د نادر له خوا ماته وخوړه، نور یې ونه شول کړای چې د نادر په وړاندې د مقابلې لپاره پوځ تیار کړي. د ۱۷۳۰م کال په فبرورۍ کې اړ شو چې کندهار ته لاړ شي. وروسته تر دې چې له کرمان او لوت دښتې څخه واوښت، ځان یې د نادر له څارګرو په امن ولید، خو له بده مرغه چې د خپل تره د زوی شاه حسین له خوا تر څارنې لاندې ونیول شو. کله چې په هلمند کې (لکي) او (صفار) سیمو ته ورسېد، خبر شو چې شاه حسین یې د وژلو نیت لري، نو هڅه یې وکړه چې بلوڅستان ته پناه یوسي، خو وخت یې ونه موند او ۱۷۳۰م کال په مارچ کې د شاه حسین هوتك له خوا د ګمارل شوي شخص ابراهیم په ګولۍ ووژل شو. ګواکې شاه حسین د خپل ورور شاه محمود غچ ځنې واخیست.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهنګ، د جهانګشای نادري نومي کتاب د لیکوال میرزا مهدي خان له قوله لیکي چې د اشرف تر وژنې وروسته د ملا زعفران په نوم یوه کس په سنندج کې د شاه حسین له لوري نادر ته یو لیك راوړ، چې په کې غوښتنه شوې وه د شاه محمود کورنۍ پاتې غړي چې په شیراز کې دي، باید کندهار ته ولیږدول شي او د خپلې دوستۍ د زبات لپاره یې د شاه اشرف وژنه یاده کړې وه، ګواکې کله چې د هلمند له غاړې د بلوڅستان پر لوري روان شو، شاه حسین یې د څارنې لپاره په ګرمسیر کې قله لکي ته دننه شو. ابراهیم خان بلوڅ خپل یو ملازم د هغه څارنې ته وګماره. په دې وخت کې شاه اشرف د شورابك د سفلای په زردکوه کې و. ابراهیم نومي کس د ګولۍ په ډز سره وواژه، وروسته شاه حسین هوتك د صفوي شاهي کورنۍ غړي د شاه محمود هوتك د کورنۍ له ۱۴غړو سره چې د نادر افشار په واك کې وو، بدل کړل).۵۹(

څه موده وروسته په خپله شاه حسین هوتك هم د نادر له خوا په کندهار کې ماته وخوړه او مازندران ته په تېښتې اړ او هورې ووژل شو.

## د شاه اشرف شخصیت او ځانګړتیاوې:

پولېنډي کشیش کروسینسکي چې د اصفهان د کلابندۍ او فتحې پر مهال هورې حاضر و او څو ځله یې له شاه محمود او شاه اشرف سره لیدلي دي، د شاه اشرف په باب وایي :

�اشرف له محمود سره له کندهاره راغلی و. جنګیالی او تجربه کاره انسان و، یوه ډله پوځ یې په خبره عمل کاوه. عاقل او د نظر خاوند، دغه راز زړور، مدبر، د خلکو خیرغوښتونکی، متواضع او زړه سواندی و. له دې کبله خپل پوځ ورسره ډېره مینه لرله. په ګلناباد کې د سولې غوښتونکی و. خو د محمود په دماغ کې د پاچایۍ هوس غزونې کولې. کله چې اشرف ورته د سولې وړاندیز وکړ، محمود ترې خپه شو.

کله چې اشرف له دې موضوع خبر شو، خامخا یې په زړه کې وېره پیدا شوه، د اصفهان د کلابندۍ پر وخت چې په شاهي سرای کې خواړه نه وو، اشرف له موضوع څخه په خبرېدو سره شاه ته زر منه خواړه ولېږل او لیك یې هم ورته ولیکه، چې په کې یادونه شوې وه دا خواړه دې شاه خپلو تابع پوځیانو ته ورکړي... کله چې محمود له دې خبرې خبر شو، د دې لپاره چې اشر ف یې د نیت په بدلون پوه نه شي، نو هغه یې څو ورځې وروسته اصفهان ته ولېږه او د هغه د ځیلو لپاره یې مرستندوی لښکر د اصفهان شا و خوا ته ولېږه .

کله چې اصفهان فتحه شو، اشرف یې راوغوښت او هیله یې ترې وکړه چې ایا شاه سلطان حسین ته یې خواړه ولېږل؟ بیا یې زندان ته ولېږه، خو بیا یې هم په بند کې درناوی کاوه، ځکه محمود د اشرف، امان الله خان او افاغنه شیخ (ملا پیر محمد) د تدبیرونو له کبله د دولت مشر شوی و. اشرف د خپلې واکمنۍ پر وخت د نرمۍ، تواضع او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدالت لار خپله کړه، شا و خوا سیمو ته یې خلك ولېږل، لیکونه یې ولیکل، چې تر دې وروسته باید د ایران خلك اباد وي- نه خراب).٦٠(

په ایران کې د شاه اشرف یو له مهمو کارونو څخه د یوه ارزښتمن او مهم کتاب (تذکرة الملوك) پاتېدل دي، چې د هغه په امر د صفوي حکومت د اداري سازمان په باب د هغه د پاچايۍ په دویم کال (١٧٢٦م- کال) لیکل شوی او ظاهراً پر ایران باندې د واکمنو افغانانو لپاره د حکومت او اداره کولو فن څرګندوي. دا کتاب همداسې یو تاریخي ارزښت لري، چې پوهاند مینورسکي یې اړ کړ چې په لمنلیك او اوږدې سریزې سره یې بیا خپور کړي. پوهاند مینورسکي په دې سریزه کې د اروپايي لیکوالو لکه شارډن، کمپفر، سانسون، ډوبرین او نورو له خوا د ارزښتونو د ټاکنې په باب وايي: �د هغوی لیکنې یوازې شرحه او ستاینه ده، حال دا چې تذکرة الملوك د صفوي اداري د دستګاه رښتینې اروا موږ ته راښيي).�٦١(

بله موضوع په اصفهان کې طلايي او د سپینو زرو اشرفۍ ضربول دي، چې اشرف پر اصفهان باندې له واکمنېدو سره دا سکې ووهلې. په افغانستان او ایران کې یې ډېر ارزښت درلود، چې تر اوسه یې خپل شهرت ساتلی دی. پر ځینو سکو دغه بیت لوستلای شو:

به اشرفي اثر نام ان جناب رسید

شرف ز سکۀ اشرف به افتاب رسید

یوې افغان مېرمنې (بي بي زینبو) د شاه اشرف په باب وايي :

که زمری دی، شاه اشرف د جنګ زمری دی

اشرف ته کام رانغی، څکه نادر پر اشرف بری دی

دغه راز هغه دولت چې میرویس نیکه یې بنسټ کېښېښود او د کندهار په هوتکي دولت سره مشهور شو، څه کم دېرش کاله یې دوام وکړ، خو د فیوډالي ځانګړنو له مخې د اکا د زامنو او نظامي مشرانو ترمنځ اختلاف پیدا شو، چې اخر یې دا دولت ړنګ کړ.

## ارزونه او پایله:

د هېواد د تاریخ د دې پړاو پېښو ته په کتنو سره دا پایله اخلو:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ .افغانان جنگیالي او خپلواکۍ غوښتونکي خلك دي، کله چې بهرني يرغلگر پرې ورشي، دوی ډېر ژر د يرغل درد نه زغمي، خو تر پايه نه شي کولای چې د ذلت او ټيټال، بردگۍ او غلامۍ کړۍ په غاړه کې يوسي. اخر راپاڅي او له بهرنيانو څخه د ځان د نه درناوي، سپکاوي او ظلم غچ اخلي.

۲ .د صفوي ظالمې واکمنۍ پرضد د محمود افغان له پاڅون څخه بايد بل عبرت واخلو. هغه دا چې كه څه هم محمود د ايران غوندې ستر هېواد د اداري لپاره ډېر ځوان و او په حکومتدارۍ کې يې يوازې (دوه- درې کاله) تجربه لرله، خو خپلو خلکو ته يې دا ثابته کړه، چې د افغانانو غرني ځوانان که وغواړي کولای شي يو ستر پاڅون او د پرديو پرضد يو غورځنګ راوپاروي او پر دښمن برى ومومي.

۳ .دربيم ټکی چې بايد نغوته (اشاره) ورته وشي، دا دی چې تاريخ ته وا د محمود پر اوږو درونده تاريخي رسالت ايښی، چې د هغه صفوي دولت پرضد پاځي چې غوښتل يې د شيعه مذهب په رسمي کولو سره يې د نورو مذهبونو د پلويانو په وړاندې دښمني راواخيستله او په دې تور يې په سلګونو بېگناه خلك ووژل.

شاه محمود په خپل دې کار سره د زرګونو ايرانيانو او افغانانو له ګرېوانونو څخه د صفوي بېرحمه او بې کفايته شاهانو منګولې د تل لپاره ليرې کړې .

دا هغه رژيم و چې په خپله ۲۲۵ کلنه واکمنۍ کې يې له سره تر پايه وينې وبهولې، بېرحمي، ورور-وژنه، عناد او ريا يې زياته کړه. هغه رژيم چې انسانان به يې ژوندي كبابول، انسانان به يې په دېگ کې اېشول، خېټې يې ورڅيرلې، خسيانول يې او يا يې معيوبول. هغه رژيم چې شاهانو به يې د مرشدۍ او پېشوايۍ دعوه کوله، خو په بېرحمۍ او ورور-وژنه کې دومره تونده وو، چې خپلې مېرمنې او اولادونه به يې وژل.

دغو ټولو فسادونو، نارواوو، ظلم او مذهبي، سياسي او كلتوري ستم ته په پام سره بايد د ايران خلك په ځانګړې توګه مذهبي لړکيو د صفوي دولت پر وړاندې د محمود پاڅون په ښه فال نيولای، ځکه چې د ايران د ملت له وسه دا نه و پوره، چې ايران د صفوي دولت له دې مذهبي استبداد څخه وژغوري. كه څه هم د شاه سلطان حسين د حکومت په ټوله دوره کې به هر ځای پاڅونونه کېدل، خو اصلي ژغورون ستونزمن و. لکه څنګه چې نن هم له شيعه روحانيت څخه د ايراني ملت ژغورنه اسانه كار نه دی او د يوې پېړۍ ربع کېږي چې د ايران روښاندي هڅه کوي په ايران کې اخندي رژيم د وخت غوښتنو ته ځواب ووايي. د وينا ازادۍ، د ښځو او نارينه وو د حقونو برابري، د ملګرو متلونو مدني قوانينو او د بشري حقونو ميثاقونو ته درناوی وکړي، واكمن رژيم داسې نه وي.

له شك پرته زيات ايراني روښاندي د زياتو خپلواکۍ غوښتونکو ځوانانو سره داسې ښېبې ته لار څاري چې له ورکې څخه يو لاس راشي او دوی وژغوري. كه داسې يو لاس پيدا شي او د ايران ملت لپاره كار وكړي، خلك يې بايد مننه وكړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ .مورې دا نه وايو چې له اصفهان څخه واکمنو افغانانو پر کندهار، هرات او جليسن باندې تر صفوي واکمنانو ښه کارونه کړي، خو دا بايد هېر نه کړو چې د اصفهان تر سقوط وروسته کله چې د شاه محمود په امر کوڅې او ښارونه له مړو ډك او ښار ته خوراکي توکي راوړل شول، دغه راز پر اداري کارکوونکو څارنه پيل شوه، چې له خلکو رشوت وانخلي، دې کارونو د اصفهان د خلکو خوښي وپاروله او ويل کېدل چې نوی حکومت تر زاړه- ښه کارونه کوي. خو فاتحو واکمنو لا پر کندهاريانو باندې د صفويانو له خوا شوي ظلمونه نه وو هېر کړي، د دې ترخه وخت په يادولو سره به يې د غچ اخيستنې حس راوپارېد، چې دوی يې زياتي او خشونت ته هڅول، چې د اصفهان د فتحې د لومړيو وختونو هغه تمه يې له منځه يووړله، چې په دې توګه د افغانانو پر وړاندې د ايرانيانو کينه لا پسې زياتېده او دوی هم په مقاومت لاس پورې کاوه، چې اخر يې يرغلګرمات کړل.

بايد هېر نه کړو چې د سني روحانيت تبليغاتو هم پر ايران باندې د واکمنو افغانانو په چلند کې خپله ونډه لرله، ځکه چې سني ديني پوهانو د شاه محمود پلار ميرويس نيکه ته فتوا ورکړې وه:

که يو مسلمان- يو مسيحي پوځي ووژني، يو ثواب يې کړی، خو که څوك يو ايرانی (شيعه) ووژني- دومره ثواب يې کړی چې اجر يې اويا برابره زيات دی�. (سقوط اصفهان، بروايت کروسينسکی، تهران چاپ، ۳۲مخ).

د دې شرعي فتوا له مخې که فاتحو ځواکونو د خلکو مالونه د غنيمت په توګه وړي، وژنې وکړي او غلا يې کړي، په حقيقت کې يې پر خپلو مذهبي لارښوونو عمل کړی، لکه څنګه چې قزلباشو سرتېرو د خپل مرشد اعظم شاه اسمعيل او شيعه روحانيت د فتوا له مخې چې حکم يې ورکړ: �د يوه سني وژل دومره ثواب لري، لکه ۵پوځي کافران دې چې وژلي وي، له سني سره نکاح روا- نه ده، وينه او مال يې حلال دي، واجب ده چې د اميندوارو مېرمنو خېټه يې وڅيرې او نارينه اولادونه يې بايد په نيزه ووژل شي، د سنيانو د مالونو پلورل او رانيول حلال دي، ځکه چې له اسلامي ازادۍ څخه بې برخې دي...� (پس از هزارو چهارصد سال، ۷۲٦مخ).

د سنيانو خېټې يې وڅيرلې او يا يې په تبر دوه نيم کړل، په اېشېدلو اوبو کې يې واچول، يا يې ژوندي پوست کړل...

اجازه راکړئ وپوښتم چې د دې فقهي فتواوو په کوم ځای کې اسلامي عدالت او خدايي قاف په پام کې نيول شوی، کوم سليم عقل او وجدان دا منلای شي چې د يوه مسلمان له خوا د بل وژل او په خېټه کې د ماشوم وژل شرعي امر او ترسره کوونکی به يې جنت ته ځي؟

مورې د روڼاندو انسانانو غوندې ډېره موده کېږي چې د ډيموکراسۍ په منځ (غرب) کې اوسو، دلته هرڅوك که هره عقيده، دين او مذهب ولري د يو بل تر څنګ ژوند کوي. هېڅوك ځان ته دا حق نه ورکوي، چې بل څوك د دين، عقيدې، جنس، ملت يا هم د سترګو د رنګ له مخې سپك کړي. که پر مورې دغسې يوه فتوا صادره شي، چې د ثواب لپاره که هرځای سني يا شيعه وينئ- هغه ووژنئ، چې جنت ته لاړ شئ، ايا دا مذهبي لارښوونه به ومنو؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کوم هېڅکله هم نه، که چېرې رواني ناروغ واوسو، وبه يې منو، ځکه د صفويانو پر مهال په ايران او عثماني ترکيه کې د شيعه مذهب تر رسمي اعلانېدو وروسته دا ډول وژنې وشوې، خو ولې کوم مذهبي يا ديني مخکښ د دې کار مخنيوی ونه کړ؟

حقيقت دا دی چې (د دين دکاندارانو) چې خپل پاينښت يې د مذهبي اختلافونو په تودوالي کې ليده، دغه ډول غيرانساني عمل او دښمنۍ کړې دي .

د اسلامي مذهبونو تاريخ ته په کتو سره جوتېږي، چې د مذهبونو د پيدايښت په بهير کې د هر مذهب مشر هڅه کړې چې يوازې خپل پلويان رښتيني مسلمانان وګڼي او نور کافران.

کله چې پر خپله مخالفه ډله بريالي شوي، هر ډول وحشيانه عمل يې ورباندې کړی او مجازات کړي يې دي، نو د دې وينې تويونې او اختلافونو يو لوی لامل د مشرانو او د اسلامي مذهبونو بېلابېلوالی دی. د وروری، انساندوستۍ او متقابل درناوی وکړي او ووايي: هغه خلك چې پيغمبر يې يو دی، ټول مسلمان او په خپلو کې توپير نه لري، برعکس يې د نورو ډلو پر وړاندې نفاق، کينه او دښمني خپله کړه، چې ساده خلك يې په خپلو کې سره واچول، خو ګټه دوی وکړه.

تر نن ورځې پورې د اختلافونو پر اور تېل ورشيندل کېږي او عقيدوي بېلوالی موجود دی، واکمن روحانيت (شيعه او سني) د خپلو ګټو لپاره له دين څخه يو غټ پلورنځی جوړ کړی، چې په کې جنت ته د تلو لپاره غيرانساني، تروريستي کارونه ښوول کېږي او د بېلابېلو اسلامي ډلو ترمنځ کرکه زياتوي، نه پرېږدي چې پوه او هوښيار خلك د يو بل تر څنګ عزتمن ژوند ولري او دخپل ژوند د لوړوالي او ښه والي لپاره خپله انرژي وکاروي.

ايراني پوه، ډاکټر شفا د خپلو پراخو څېړنو پر بنسټ، چې د دين او مذهب په برخه کې يې لري، په دې اند دی :

شيعه مکتب له هماغه پيله له سنيانو سره چې د حکومتي دستګاه مذهب و، دښمني پيل کړه، خو دا دښمني، ښکنځل، سپکاوی او اهانت د خلفای راشدينو تر درييو خليفه وو هم وغزول شوه، خو سنيانو هېڅکله هم څلورم خليفه (علي بن ابي طالب) ته سپکاوی نه دی کړی. ان د علي کورنۍ ته چې امامت ته به يې قايل نه وو، ښکنځل نه کول. دا ښکنځل د هغو کسانو له خوا چې �پرې يې نه ښوول پيغمبر او دين يې يو وي� په ايران کې د صفوي دولت په راتګ سره ډېر زور واخيست، صفوي واکمنانو د خپلو سياسي موخو د پرمختګ لپاره د دين د دکاندارانو له دغه ډول نفاق څخه ګټه اخيستنې ته اړتيا لرله (نو ځکه يې شيعه د حکومت رسمي مذهب اعلان کړ او پر سنيانو يې د پلي کولو لپاره سرغوڅول، خېټه څيرل او غيرانساني شکنجې پيل کړې).

شاه اسمعيل په دوو شپو ورځو کې ۲۰زره سنيان په تبرېز کې، چې لومړيو دريو خليفه وو ته يې ښکنځل نه وو کړي، په تبر دوه نيم کړل. په مقابل کې د عثماني ترکيې قاضي القضات د شيعه ګانو لپاره احمقانه او زشتې فتواوې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي، چې د سنيانو پر وړاندې د صفويانو تر فتوا کمې نه وې. په ترکيه کې ۴۰ زره شيعه ګان د شيعه توب په ګناه ووژل شول .

نوموړی پوه زياتوي: د �اصول کافي� له ليکلو او خپرولو وروسته تر نن پورې د شيعه ګانو د حديثونو په کتاب کې په زرګونو کوچني او غټ حديثونه ورزيات شوي، چې د سنيانو معتقداتو او مقدساتو ته يې سپکاوی کړی دی. د سينانو پر وړاندې د مبارزو اتل شيخ الاسلام ملا محمد باقر مجلسي، د شاه سلطان حسين صفوي پر مهال، چې په خپل ټول عمر يې د ايران سنيان ځورول په يوازې سر د سنيانو پرضد په زرګونو حديثونه راوايستل. البته دغو دښمنيو او تورونو خپل مقابل غبرګون هم درلود. د عثماني ترکيې روحانيت هم تر شيعه ملايانو ډېرې تونديې فتواوې ورکړې (توضيح المسايل، ۲۵۹_۲٦۰مخونه)

زموږ د سيمې د اسلامي فرهنګ مخکښانو د دې دوه رنګۍ په باب ژورې ليکنې کړې، چې لوستل او اورېدل يې ډېر خوند کوي، د مولانا يو بيت دی:

رويي از خود برون کردم، يکي ديدم دو عالم را

يکي جويم، يکي ګويم، يکي دانم، يکي خوانم

يو بل اديب، طوسي بيا وايي:

مسجد اګر بنام خدا شد دکان شيخ

ويرانه اش کنيد که دارالعباد ګشت

ناصر خسرو بلخي وايي :

ای امت بدبخت، بدين زرق فروشان

جز از خري و جهل، چنين بنده چرائيد؟

خواهم که بدانم که مراين بيخردان را

طاعت ز چه معني و ز بهر چه نمائيد؟

حيکم سنايي د دين د دکاندارانو په باب وايي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وين گروهي كه نورسيدستند

عشوه جاه و زر خريدستند

ماه رويان تيره هوشانند

جاه جويان دين فروشانند

گشته گويا ز بغض يك ديگر

كين فلان ملحد ان فلان كافر

همه از راه صدق بيخبرند

امدي صورتند و ليك خرند

معني ديو چيست؟ بيدادي

توبه بي داديش چرا شادي؟

داده فتوا بخون اهل زمين

از سر جهل و هم از سر كين...

۵ .وروستۍ خبره دا: افغان نسلونه بايد دېته پام وکړي، چې د ميرويس نيکه ځايناستی د دې پرځای چې په هېواد کې ملي واکمني ټينګه کړي، يوازې يې د خپلې ځوانۍ او مذهبي احساساتو او پښتونولۍ له مخې له دقيقې محاسبې پرته د يوه تاريخي او ستر هېواد د اداري ټينګښت لپاره هڅه کړې، چې د افغانانو حاکميت پراخ کړي. حال دا چې د پلازمېنې فتحه يو څه او د يوه هېواد د څو ولايتونو اداره يو څه او د يوه ستر هېواد (لکه ايران) اداره بل څه و، چې په داسې يوه کړکېچن حالت کې د ځينو جنګياليو له توانه د يوه داسې هېواد اداره کول ناشوني وو، له همدې کبله هغو افغانانو چې د ايران د نيولو لپاره يې ملا ترلې وه، له هغې ورځې چې له کندهاره ووتل، د ژوند تر پايه يې يوه ارامه ورځ ونه ليده، خو ټول (د ۲۰زره يرغلګرو او ۳۰زره کورنيو غړو سره چې د شاه محمود په امر له کندهاره اصفهان ته کډه شوي وو) د ايرانيانو- په ځانګړې توګه د نادر افشار په امر په ډله ييزه توګه ووژل شول، چې په ۱۷۳۸م کال نادر افشار د کندهار د هوتکي دولت ټغر پسې راټول کړ او د غليمو هوتکيانو خانان او مشران يې له کندهاره مازندران، بخارا، بلخ او نورو سيمو ته وشړل، يا يې له منځه يووړل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میرویس نیکه له پېر (عصر) څخه د افغانستان د خپلواك دولت تر تاسیس پورې (۱۷۴۷م) چې ۳۰ کاله یې دوام وکړ، د احمدشاه بابا غونډې یو شخصیت راڅرګند شو، هغه وکړای شول د افغان مجربو اشخاصو په همکارۍ د افغانانو واکمني نوره هم تلپاتې او غښتلې کړي، چې تر ننه دوام لري.

سرچينې:


۱.تاریخ سیاح مسیحي: د فقیر محمد خیرخواه لمنلیك او زیاتونې، کابل چاپ، ۱۳٦۳ل کال، ۱۰_۱۲مخونه.

.2لکهارت: انقراض دولت صفوي، ۵۵۵مخ.

.3تاریخ سیاح مسیحي: ۲۸مخ.

.4لکهارت: هماغه اثر، ۱۵۱مخ.

.5محمد خلیل مرعشي: مجمع التواریخ، ۴۴مخ (د لکهارت په حواله، د ۱۳۱مخ لمنلیك).

.6لکهارت: هماغه ځای ۱۵۱مخ.

.7لکهارت: هماغه ځای، ۱۵۰_۱۵۲مخونه.

.8کروسینسکي: هماغه اثر، ٦۳مخ.

.9لکهارت: هماغه اثر، ۱۵۱_۱۵۷مخونه.

.10ایران، کلده وشوش: د مادام ژان ډیولافوا اثر، شوالیه لژیون، دونور، د پاریس د پولیسو اکاډمي، ۱۸۸۷مخ، د اروابناد علمي محمد فره وشي ژباړه، د ډاکټر بهرام فره وشي په زیار، ۱۳۷۱ل کال، د تهران پوهنتون چاپ، ۲۵٦_۲۵۷مخونه.

.11هماغه اثر: ۲۵۷مخ.

.12لکهارت: هماغه اثر، ۱٦۳_۱٦۴مخونه.

.13قدرت الله حداد: کیوان (مردم) ۸۱مه ګڼه، درییم مخ، د تاریخ منظم ناصري په حواله.


*جُلفا، په اصل کې (جُل پا) دی، چې موخه یې مذهبي لړکي دي، لکه ارمنیان، یهودیان او زرتشتیان چې اړ وو په خپلو پښو کې یوه ټوټه (ټوکر) وځړوي، مسلمانان یې وپېژني او لاس ورنه کړي. دا فاشیستي عمل پر ایران باندې د واکمن اخند ذهن او روحانیت محصول و.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



14.لکهارت: هماغه اثر، ۱۵٦مخ، د تاریخ سیاح مسیحي سره دې پرتله شي، ۴۰مخ.

15.سقوط اصفهان بروایت کروسینسکي: ۵۱مخ.

16.تاریخ سیاح مسیحي: ۳۹مخ، لکهارت: هماغه اثر، ۱۸۱مخ.

17.تاریخ سیاح مسیحي: ۴۲مخ، لکهارت: ۱۹۳مخ.

18.سقوط اصفهان بروایت کروسینسکي: ۵۹مخ.

19.هماغه اثر: ٦۰مخ.

20.جي، پي، تیت، سیستان: لومړی ټوك، د ډاکټر سید احمد موسوي ژباړه، تهران چاپ، ۱۳۷۴ل کال، تر ۱۵۴مخ وروسته. تاریخ سیاح مسیحي: ۴۲مخ.

21.لکهارت: هماغه اثر، ۱۸۷_۱۹۵مخونه.

22.ډاکټر شفا: پس از هزار و چهارصد سال، دویم ټوك، ۷٦۰مخ.

23.لکهارت: هماغه اثر، ۱۸۷_۱۹۵مخونه.

24.لکهارت: ۱۹۸_۱۹۹مخونه.

25.شفا: هماغه اثر، رستم التواریخ: د محمد هاشم اصف لیکنه، تهران چاپ، ۱۳۴۸مخ.

26.سقوط اصفهان بروایت کروسینسکي: ٦۱مخ.

27.لکهارت: ۲۰۰_۲۰۱مخونه، تاریخ سیاح مسیحي: ۴۹_۵۰مخونه.

28.فرهنگ: افغانستان در پنج قرن اخیر، لومړی ټوك، ۹۴مخ، لکهارت: مخکېنی اثر، ۲۱۹مخ، تاریخ سیاح مسیحي: ٦۳مخ، سقوط اصفهان بروایت کروسینسکي: ۷٦_۷۷مخونه.

29.تاریخ سیاح مسیحي: کابل چاپ، ۱۲_۱۳مخونه، سقوط اصفهان بروایت کروسینسکي: ۴٦مخ.

30.لکهارت: هماغه اثر، ۲۲۱مخ، تاریخ سیاح مسیحي: ٦۳مخ، سقوط اصفهان بروایت کروسینسکي: ٦۳مخ.

31.تاریخ سیاح مسیحي: ۵۱مخ، لکهارت: ۲۳۲مخ.

32.لکهارت: ۲۳۳مخ، تاریخ سیاح مسیحي:۵۱مخ، سقوط اصفهان بروایت کروسینسکي: ٦۷مخ. (کروسینسکي د ځینو وژل شویو کسانو شمېر سلګونو زره لیکلی دی).

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



33.سقوط اصفهان بروايت كروسينسكي: ٦٨مخ.

34.لكهارت: ۲۳۴مخ، كروسينسكي: ۵۳مخ.

35.تاريخ سياح مسيحي: ۵۷مخ.

36.گوربت مجله: پنځم کال، څلورمه گڼه، پنځم مخ، د زبردستخان ليکنه د ښاغلي حداد په قلم.

37.سقوط اصفهان بروايت كروسينسكي: ۷۲مخ.

38.لكهارت: هماغه ځای، ۲۳۹_۲۴۰مخونه، تاريخ سياح مسيحي: ٦٠_٦١مخونه.

39.لكهارت: ۳۱۷مخ، تاريخ سياح مسيحي: ٦۴مخ، سقوط اصفهان بروايت كروسينسكي، ۷۵مخ.

40.هماغه سرچينې: هماغه ځای.

41.سقوط اصفهان بروايت كروسينسكي: ۸۰مخ، فرهنگ: هماغه اثر، ۹۵مخ.

42.تاريخ سياح مسيحي: ٦٦مخ، سقوط اصفهان بروايت كروسينسكي: ۸۲مخ.

43.سقوط اصفهان بروايت كروسينسكي: ۸۰مخ.

44.هماغه اثر: ۷۷مخ.

45.هماغه اثر:۷۹مخ.

46.فرهنگ: هماغه اثر، ۹۵_۹٦مخونه. لكهارت: ۳۲٦_۳۲۸مخونه.

47.د لا زياتو معلوماتو لپاره دې د روسيې او ترکيې ترمنځ د ايران د وېش تړون وکتل شي، کتاب: انقراض سلسله صفويه: اوولسم څپرکی، ۲٦۹مخ.

48.لكهارت:۳۳۲مخ.

49.ډاکټر فلور، اشرف افغان بر تختگاه اصفهان: ډاکټر ابوالقاسم سري ژباړه، تهران، ۱۳٦۷ل کال، ۱۸_۱۹مخونه.

50.لكهارت: هماغه ځای، ۳۳۳_۳۳۴مخونه.

51.فرهنگ: هماغه اثر، ۹٦مخ.

52.اشرف افغان بر تختگاه اصفهان: ۱۹مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.53لکهارت: هماغه ځای، ۳۳٦مخ. د خان محمد بلوڅ په باب باید ووایو چې نوموړی د بلوڅ قوم یو مخور شخصیت و، کله چې نادر افشار اصفهان ونیوه او اشرف افغان هم ماتې وخوړه، نو افغانستان ته ستون شوی و. نوموړی چې کله له ترکیې څخه راستون شواو ویې لیدل چې پاڼه اوښتې ده، بلوڅستان ته روان شو. په ۱۷۳۴م کال د خلیج له یوه عرب شیخ احمد مدني سره یوځای یې د نادر پرضد پاڅون وکړ. په څو جګړو کې یې د نادر ځواکونه شا ته وتمبول، خو اخر په یوه جګړه کې نادر ماتې ورکړه او زندان ته یې واچاوه.

محمد خان بلوڅ د نادر په لاس بند د ځان لپاره یو سپکاوی ګاڼه، له دې کبله یې ځان په خنجر له منځه یووړ. لیکوال (سیستاني) د بلوڅ قوم د دې مېړني شخص او د نادر پرضد ګڼې لیکنې کړي، چې د ملګرو قومونو په مجله کې (کابل کې) په ۱۳٦۵ل کال چاپ شوي، مینه وال یې لوستلای شي.

.54رقابت روس و انگلیس در ایران و افغانستان: داکټر پیو- کارتولونزیو، د ډاکټر عباس اذرین ژباړه، ۲۲_۲۳مخونه، تهران، ۱۳۵۹.

.55فرهنگ: ۹۷مخ، د لکهارت له کتاب (انقراض سلسله صفویه) سره دې پرتله شي، ۳۴۰_۳۴۱مخونه.

.56لکهارت: ۳۴۴_۳۴۵مخونه.

.57لکهارت: ۳۷۲_۳۷۳_۳۸۳مخونه.

.58غبار: لومړی ټوك، ۳۳۵مخ.

.59فرهنگ: لومړی ټوك، ۱۰۰_۱۰۱مخونه.

.60کروسینسکي: هماغه ځای، ٦۳مخ.

لکهارت: انقراض سلسله صفویه، ۵٦۸مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## د هند بابري واکمنۍ پرضد د کابل رود په سرچینو کې د پښتنو پاڅون (۱۵۵۷_۱۶۳۷م کال)

پیل:

د هند د گورگاني دولت بنسټ ایښودونکي بابر، په ۱۵۰۱م کال له ماورالنهر څخه افغانستان ته راغی او په۱۵۰۵م کال یې د کابل تر نیولو وروسته په ۱۵۰٦م کال د گورگاني شهزادگانو د مرستې لپاره هرات ته لاړ، چې له هغوی څخه د ماورالنهر د ازبکانو (چې مشر یې محمد خان شیباني و) د گواښ پر وړاندې استفاده وکړي، خو ژمی راغی او محمد خان پر هرات برید ونه کړ .

بابر، چې له کابل څخه ناوړه خبرونه وررسېدلي وو- کابل ته ستون شو او په ۱۵۰۷م کال د کابل تر کرارولو وروسته پر غزني ورغی او د غلجیانو د پسونو په غلا کولو سره یې د ځان پر وړاندې د خلکو کرکه راوپاروله. تر دې وروسته کابل ته ستون شو- په ۱۵۰۸م کال بابر د ختیځ پر لوري لښکرې وایستې او ننگرهار یې له کابل سره یوکړ. تر دې وروسته یې د بدخشان نیولو ته ملا وتړله او دا ولایت یې له (زبیر راعي) څخه ونیو، چې د ایران د صفوي دولت په مرسته د محمد خان شیباني په وژل کېدو سره یې د ماورالنهر نیولو ته زړه ښه کړ، چې سمرقند او بخارا یې ونیول (۱۵۱۱م کال) په ۱۵۱۲م کال ازبکان یو شول او پر بابر یې برید وکړ، چې صفوي پوځونه یې دړې وړې او سمرقند او بخارا مسترد کړل. بابر بیا افغانستان ته راغی او په ۱۵۱۸م کال وتوانېد چې پوځ جوړ کړي او د هند د نیولو لپاره له سند څخه تېر شي او پنجاب ونیسي او بېرته راستون شي. په ۱۵۲۰م کال بابر خپل زوی همایون بدخشان ته ولېږه او خپله یې پر کندهار یرغل وروړ، چې له شاه بېگ ارغوني څخه یې ونیو او خپل بل زوی میرزا کامران ته یې وسپاره او خپله کابل ته لاړ. دا مهال د هندوستان د لوري دولت مخ پر ځوړ روان شو او د کورني نفاق لمبې بلې شوې، چې د سلطان ابراهیم لودي اکا علاوالدین عالم خان د خپل وراره پرضد د بابر دربار (کابل) ته لاړ او د پنجاب واکمن والي دولت خان لودي یې د هندوستان نیولو او د ډیلي سلطنت ړنگولو ته وهڅاوه. بابر د دې لپاره چې پر هند د لښکرکښۍ پر مهال تر شا ډاډمن وي، نو د یوسفزیو د یوه خان منصور خان له لور سره یې واده وکړ، چې د لنډ وخت لپاره ډاډمن شو).۱ (

همدا و چې بابر په ۱۵۲۳م کال پر پنجاب لښکرې وایستې او په دې ترڅ کې د لاهور مدافع پښتانه وځپل او دا ښار یې ونیو، بیا یې میرزا عبدالعزیز ته وسپاره او خپله ستون شو، په سیالکوټ کې یې واکمن عالم خان د ډیلي د پاچا اکا و.چې له پردیو سره د معاملې پر ځای یې د دولت خان لودي له زوی غازیخان سره یې ډیلي ته سرتېري ولېږل، چې له سلطان ابراهیم څخه یې یې ماتې وخوړه او بېرته سیالکوټ ته ستون شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه کاله وروسته بابر له ۲۱زره سپاره پوځ سره یوځای کابل، بدخشان او کندهار ته درانه گوزارونه ورکړل، وروسته ډیلي ته لاړ. ابراهیم لودي د پاني پت په جگړه کې له خپلو زړورو مدافعیونو سره ووژل شو، چې شاهي خطبه د ظهیرالدین محمدبابر په نوم ولوستل شوه.(۱۵۲۵م)

تر دې وروسته بابر د کابل پاچا او د هندوستان شهنشاه شو. د غزني او زابل حکومت یې خواجه کلان بېگ او د کابل او بدخشان حکومت یې شهزاده همایون او کندهار یې شهزاده کامران، وروسته یې د هغه په وکالت میرزا عسکري ته وسپارل شو.

بابر په ۱۵۲۹م کال په هندوستان کې له دې نړۍ سترگې پټې کړې او د هغه له خپل وصیت سره سم یې جنازه کابل ته راوړل شوه، چې په بابر بڼ (باغ بابر) کې ښخ دی، قبر یې په ۱۵۴٦م کال جوړ شو. کله چې بابر اگره ونیوله او د لودي دولت خزانې یې خپلې کړې، د کابل هر اوسېدونکي ته یې یوه اندازه پیسې د بخشش په توگه ورکړې).۲(

په افغانستان کې د هند بابري دولت د ایران او ماوراالنهر په نسبت پراخ بنسټ درلود، په افغانستان کې کابل، بلخ، بدخشان او کندهار د دوی په لاس کې وو. که څه هم دا تشکیلات دایمي نه وو، ځکه بلخ ډېر ژر د ازبکانو لاسته ورغی، وروسته بدخشان هم خپله خپلواکي اعلان کړه او کندهارهم په صفوي دولت پورې وتړل شو، یوازې کابل تر ۱۸مې پېړۍ د بابري دولت په لاس کې و .

هر ولایت یو والي (صوبه دار) درلود چې د هغه له خوا به اداره کېده. ملکي او نظامي چارې به یې په لاس کې وې، چې تر ۱۲کروړ دام پورې معاش به یې درلود. د دې والي تر لاس لاندې به دغو کسانو کار کاوه: کومکي (لنډمهالی مرستیال یا افسر) قلعه دار- تعینات (تلپاتی پوځي افسر) پوځدار (د لوی نظامي افسر مرستیال) کوټوال (قلعه دار) تهاڼه دار (پوله ساتونکی) کله- کله به یو ولایت په غوڅ ډول د یوه مشر یا شهزاده په واک کې و، چې هغه ته به یې (تیولدار- جاگیردار) وایه، یانې (هغه فیوډال چې کرنیزې ځمکې یې په واک کې وې او د سیمې مشر گڼل کېده) پېښه لیکونکی (د استخباراتو مامور او د پېښو خوندي کوونکی) هرکاره (پټ جاسوس یا څارگر) د دولتي مامورینو منصوبه به د �زرو- هزاري� په حساب ډلبندي شوې وه، چې په همدې حساب به معاش ورکول کېده، چې دا منصوبه له �ده باشي� څخه پیل او په �ده هزاري� باندې پایته رسېده او ٦۴ نورې رتبې یې هم لرلې، یوه لس زریز مامور به ۷۰۰ اسونه، ۲۰۰فیلان، ۲۰۰ باروړونکي حیوانات او ۳۲۰ اربه لرله، چې د میاشتې ٦۰۰۰۰ روپۍ معاش به یې و. د شاه جهان پر مهال د کابل ولایت معاش او لگښت په کال کې ۱۲۰ ملیون دام، یانې د کابلستان د عایداتو درې په څلورمه برخه وه).۳(

ارواښاد علامه حبیبي د عبدالحمید لاهوري له قوله لیکي: �د شاه جهان په پېر کې د جهانگیر زوی د بابر تر واک لاندې سیمو له ۲۲ ولایتونو څخه څلور ولایتونه یانې کابل، کندهار، بلخ او بدخشان په افغانستان کې وو، چې له کابل څخه به ١٦کروړه دام (هر ۵دام له دوو انو سره مساوي و) عایدات لاسته ورتلل).۴(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بابري هند پاچایانو د ایران د صفوي پاچایانو پر خلاف په افغانستان کې تر خپل واك لاندې سیمو کې د ځینو تفریحي ځایونو په رغونې لاس پورې کړ. لکه په کابل کې باغ بابر، شهرارا، د جلوخانې باغ، چهارباغ، اورته باغ، صورت باغ، مهتاب باغ، اهوخانه باغ، په جلال اباد کې نمله باغ، په پروان کې استالف باغ، په کندهار کې جهان ارا او چهارباغ، د کندهار په سرپوزه کې د چهلزینې مانۍ او په کابل کې د بالاحصار بیارغونه، دغه راز د شوربازار او د بابر باغ د مرمرین جومات جوړونه، د شاه جهان له جوړونې څخه وو او کندهار ښار چې نادر افشار په ۱۷۳۸م کال وران کړ، د شاه جهان له خوا په اته لکه روپیو جوړ شو او په کابل کې علیمردان خان باغ او د چهارچتې باغ، چې علیمردان خان جوړ کړي وو او ډېرې ښکلې نقاشۍ یې لرلې).۵(

## د غورځنګ ټولنپوهنه:

که څه هم په افغانستان کې د فیوډالي اړیکو عناصرو تر اسلام وړاندې هم غښتلتیا موندلې او په ۱۷مه او ۱۸مو پېړیو کې اوج ته رسېدلې، خو د افغانستان د پښتنو په ټولنه کې چې دوی له لرغونو زمانو د لوېدیز هندوکش په کلیو او غرنیو سیمو کې لکه غور، زابلستان او د سلیمان او سپین غره شا خوا کې سره پاشلي وو، د فیوډالیزم وده نامتوازنه او ډېره ورو وه.

له بلې خوا دوی په لسګونو قبیلو وېشل شوي وو، لکه: ابدالي (دراني) غلجي، ترین، برېڅ، ناصر، وردګ(٦)، مومند، اپرېدي، شینواري، ورکزي، یوسفزي، اتمانخېل، بنګښ، خټك(۷)، ځاځي، توري، عیسی خېل، وزیر، مروت، خوستیان، دولت خېل، ګنده پور، میان خېل، ګګیان، بابړ او نور...(۸) چې تر نورو سیمو ډېر وروسته د فیوډالیزم پړاو ته دننه شوي دي.

د سلیمان غره په غرنیو سیمو کې تر ډېرې مودې پورې فیوډالي لرغوني اړیکي او د �جرګې� دود روان و، چې په ټولیز ډول د ژوند نظام د �جرګو� په زور اداره کېده. �جرګې� په بنسټیزه توګه یو �قومي سازمان� دی او �د پلار سالارۍ� په دورې پورې اړه لري، چې په پرمختیایي (مخ په وده ټولنو) کې د قومي شخړو د اوارۍ لپاره (له مرکزي دولت پرته) جوړېږي.

زموږ د هېواد په ځینو قبایلو کې اوس هم جرګې یو مهم رول لري، دوی پخوا ساده او لومړنی حالت درلود، چې د قومي �سپین ږیرو� د مشورې بڼه یې لرله، وروسته په یوه اشرافي او د قبیلې په فیوډالي شورا بدله شوه. ان تر اتلسمې پېړۍ وروسته (د میرویس نیکه پېر) د افغانستان دولتونو پر مهمو مسایلو د دې جرګو جوړونه بیا پیل کړه).۹(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روايتونو له مخې د مغول تر ړنګېدو وروسته، په ځانګړې توګه د تېمور تر مړينې وروسته د شاهرخ حکومت له هماغه پېر څخه چې د ښاري ژوند لپاره زمينه برابره شوه، د سليمان غره د شا و خوا ابداليانو، وزيرو، غلجيانو او نورو کوچيانو کډوالي پيل شوه، چې دوی به په کليو کې مېشتېدل او په نويو سيمو کې به يې د کرنې له کبله اقتصاد ته وده ورکوله. تر ټولو مهمې کډوالۍ له څوارلسمې ميلادي پېړۍ څخه پيلېږي، چې غلجيانو، ابداليانو، وزيرو، اپرېديو، خټکو، مومندو، شينوارو، ورکزيو، کاکړانو او نورو قبايلو پيل کړې).١٠(

ابداليانو (درانيانو) د ارغنداب، ارغسان، هلمند او هرات په شنو سيمو کې واړول، دغه راز غلجيان په ترنك، زابل او اسکان کې مېشت شول، دې قبايلو په اتلسمه پېړۍ کې دومره ځواك پيدا کړ، چې پراخ ملي او فيوډالي دولتونه جوړ کړي .

په پنځلسمه ميلادي پېړۍ کې لوديان او په لسګونو نور قبايل هند ته ورسېدل، چې له يوسفزيو او غورياخېلو سره يوځای له خيبره واوښتل او د پېښور شمالي سيمو ته لاړل، چې تر سوات او بنير پورې يې په شنو درو کې واړول).١١(

مروت قبيلې بنو سيمه ونيوله، وروسته بنګښو، خټکو، اتمانخېلو، داودزيو او نورو قبايلو د سند سيند راسته سواحل د خپلې استوګنې لپاره غوره کړل).١٢(

دغو کډوالو د نويو سيمو په نيولو سره ځينې پخواني ځايي خلك يا وشړل، يا يې هم تر خپل تابعيت لاندې راوستل، چې کروندګري به يې ورباندې کوله، کله- کله به يې د بېلابېلو قبايلو ترمنځ د ځينو سيمو پر نيولو کومه ستونزه رامنځته شوه، د دې موضوع په تړاو به د دوی ترمنځ ځينې نورې ستونزې هم رامنځته شوې، چې د يوه ټولنيز واحد په توګه به يې د قبيلې موقعيت کمزوری کاوه. يوسفزيو به دا وړ ستونزې د مشهور وېشونکي (شيخ ملي) په مرسته حلولې، ظاهراً کله چې د شپاړسمې ميلادي پېړۍ په پيل کې يوسفزيو او ملاتړو يې پر دلازاکانو يرغل وروړ، دا ډول وېش د يوه روحاني مشر (شيخ ملي) له خوا ترسره شو، چې د دې قبيلې د مشر ملك احمد له خوا په سيمه کې تطبيق شو).١٣(

د شيخ ملي د وېش سيمه ټولې هغه ځمکې وې چې د کابل رود له سرچينو رانيولې د اباسين (سند) تر لوېديځ پورې دوام مومي، په شمال کې يې سوات، بنير او پنجګوره راځي، ياد شوي قبايل مخکې په کې مېشت وو .

د دې وېشليك له مخې د يوسفزيو قبيلې هر يوه غړي او متحدينو لکه مندرو، اتمانخېلو، ګدون او نورو ته يوه- يوه ټوټه ځمکه ترلاسه کړه، چې ساداتو او نورو ملګرو روحانيونو ته يې هم ځمکې ورکړې. هغه ځمکې چې روحانيانو ته ورکړل شوې (سيري) نومېدې او داسې جوړه شوې وه چې د ستونزو د اوارۍ لپاره د هرو دوو ټوټو ترمنځ يوه ټوټه ځمکه (سيري) راتله .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وېش له ټولیز مالکیت څخه د شخصي مالکیت پر لوري د نومورو مشرانو د انتقال لومړنی ګام و، چې تر دې وروسته ډېر ستر مشران او فیوډالان رامنځته شول.

په هغو سیمو کې چې فردي مالکیت وده وکړه، نو تر هرو څو کلونو وروسته د وېش اصول بدل شوي، چې یوازې په لیرېو پرتو سیمو او درو کې چې طبیعي اقتصاد یې درلود، پر خپل پخواني حالت پاتې شول.)۱۴(

پوهاند حبیبي د وېش د دې سیستم (د شیخ ملي دفتر) په باب په زړه پوري معلومات راکوي او وایي: شیخ ادم مشهور په شیخ ملي بن یوسف د بني پشتون له عشیرې، چې د پېشوایۍ مقام یې درلود او �دوتر شیخ ملي� نومی کتاب یې په پښتو په (۸۲۰هــ - ۱۴۱۷م کال) ولیکه، چې د یوسفزیو ټولنیز قوانین بیانوي .

هغه د ځمکې، استوګنځي او څرځایونو د وېش په برخه کې د عدالت له مخې ځینې قوانین وضعه کړل، چې له مخې یې زراعتي اوبلنې ځمکې د کورنیو د نفوس له مخې وېشل کېدې، چې تر لسو کلونو وروسته به د کورنیو غړو د شومره والي او د ځمکې د نوعیت له مخې دا وېش نوی کېده. د دې وېش له مخې د یوسفزیو ټولې اړوندې ځمکې په شپږو ډولونو وېشل کېدې:

۱ .یوسفزي.

۲ .محمدزي.

۳ .ګګیاني.

۴ .خلیل.

۵ مومند.

د ځمکو دا هره برخه به پر دفتر، برخه او پټې وېشل کېده، چې په کرنیزه ځمکه کې د هرچا برخې ته به یې �وند� او په څرځایونو کې رسېدلې برخې ته به یې (ورشو) ویله، چې د �هیسك� یانې پچې په مرسته به تر عام نظر لاندې �جرګه� دایرېده، تر وېش وروسته به یوه برخه ځمکه د سیرې په نامه ساتل کېده او حاصلات به یې ټولګټو کارونو ته ورکول کېدل، لکه ډول وهل، مطربي، نایي توب او پخلی، چې دېته یې د هوجرې مصارف ویل، دا مېلمستون به په کلي کې و، د کلیو او نورو سیمو د وېش لپاره هم د شیخ ملي په دفتر کې همدا ترتیب په پام کې نیول شوی و، چې هر کلی به په نورو سیمو وېشل کېده او (چم) به یې ورته وایه، هر چم به ډېر سرایونه لرل، چې (کندر) به یې ورته وایه، هر کندر به څو کوټې لرلې او د غولې په نامه به یې حویلي لرله، هر چم به یو جومات، یوه هوجره او د سیل لپاره یو برج درلود. چې تر دوو کلونو پورې به د یوې کورنۍ په واك کې و.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه کس ته رسېدلې ځمکه به یې (بگري وند) نوموهل، چې په لسو کلونو کې رسېدلې برخې ته به یې (موتي) ویله. د وېش تر سیستم وروسته چې شیخ ملي کوم کار وکړ، هغه د زراعتي سیستم او ټولنیز سمون و، چې نورو افغان قبایلو هم دا سیستم پلی کړ. په دې توگه ډېرې ځمکې سمسورې شوې، چې (بانډه) به یې ورته ویل).۱۵(

د تاریخ ریاست سوات نومي کتاب لیکوال محمد اصف خان وایي: �له څوارلسمې پېړۍ څخه تر ۱۹۲۴م کاله پورې د سوات په اړوندو سیمو کې (دوتر وېش) یانې د شیخ ملي دفتر عملي کېده، چې د ځمکو د وېش په برخه کې معیاري سیستم و، په دې مانا چې په ځینو ځایونو کې به په تر پنځو په ځینو کې تر ۷ او په ځینو کې به تر لسو کلونو وروسته نوی کېده).۱٦.(

له شك پرته د ځمکو د وېش دا سیستم په ټولو پښتون مېشتو سیمو کې په لږ توپیر سره موجود و.

اکاډمیسین عبدالشکور رشاد د خپلې یوې گټورې لیکنې په ترڅ کې د کندهار د شورابك د برېڅ قبیلې د وېش پر سیستم یې لیکلې وایي :

د وېش سیستم: د شوراوك د تولید وسایل مالداري او کرنه ده. په مالدارۍ کې د پسونو، وزو او اوښانو گلې راځي چې د خلکو شخصیت ملکیت دی، دغه راز ځمکه بیا د قبیلې عمومي ملکیت دی، چې تر یوې ټاکلې مودې لپاره د کروندگر په واك کې وي، د وخت تر پوره کېدو وروسته بیا په قبیلې پورې اړه پیدا کوي .

په یوسفزیو، باجوړ، شیگل او شینوارو کې هم د وېش دا سیستم دود و. چې په ځینو قبایلو کې اوس هم شته. د کندهار د شوراوك قبیله برېڅ یوازېنۍ قبیله ده چې تر اوسه پورې یې د وېش دا سیستم ساتلی دی .

په شوراوك کې د ځمکې د وېش لپاره دا پنځه ارونه په پام کې نیول کېږي:

۱ .نیکه گنۍ.

۲ .پلرگنۍ.

۳ .کهول.

۴ .کورنۍ.

۵ .کور.

د نیکه گنۍ برخه تر نورو دا ډېره او د (کور) برخه کمه وي. هر کال د قبیلوي واحد یوه اندازه ځمکه د قرعې یا پچې له مخې ټاکل کېږي، د هر واحد نارینه (حاضر او غایب) په کې ونډه لري. که د یوه خېل تله درنه وي، نو ټولو غړو ته یې (زی) وایي، چې بل وارث یې د تصرف حق نه لري. په شوراوك کې د ځمکې د وېش سیستم درې ډوله دی :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ .د �خوله وېش� سیستم: د برېخو په زکوزیو او هندوزیو کې د �خوله وېش� سیستم دود دی او هر کال د قبیلې پر ژوندیو نارینه وو ځمکه وېشل کېږي .

ان که دا نارینه یوه ورځ مخکې هم پیدا شوي وي.خو ښځې په دې وېش کې د ونډې حق نه لري .

۲ .د ملاتړ دود: په بدلزیو کې د ملاتړو وېش په نامه یو بل سیستم دود دی، یانې کله چې ماشوم ۱۲کلن شي، د توري یا ټوپك د اوچتولو توان پیدا کړي، نو باید چې د خپلې قبیلې د ګټو د دفاع لپاره ملا وتړي. د برېخو په بدلزیو کې نارینه وو ته تر ۱۲کلنۍ وراندې حق نه ورکوي، چې ښځې هم ترې بې برخې دي .

۳ .د اس دود: پخوا به له پردیو یرغلګرو څخه د قبیلې د ساتنې لپاره پنځوس اسونه بېل ساتل کېدل، که د قبیلې هر کس به یو اس ساته نو په ځمکو کې به حق ورکول کېده، که به ده خپل اس خرڅلاوه، نو د اس برخه به نوي خاوند ته ورکول کېده، چې دا دود اوس نه شته).۱۷(

یو شوروي ختیځپوه (ال، پ، ګوردون) په �مناسبات زراعتي در سرحد شمال مغرب هند� نومي کتاب کې لیکي: د قبیلې د اشتراکي ملکیت له کبله د ټولنیز جوړښت ورانول او د فیوډالي اړیکو وده ده، د ۱۴_۱۹مې میلادي پېړۍ په بهیر کې یې ادامه ومونده. په ځینو نورو پښتون مېشتو سیمو (ختکو، د پېښورو ځینو نورو قبیلو کې) دا بدلون ګړندی او په ټولیز ډول د ۱۸مې پېړۍ په پای کې پایته رسېدلی و، په ځینو نورو قبایلو: بنوځیانو، یوسفزیو، مومندو، ورکزیو او د دامان په ځینو نورو سیمو کې یې لږه وده وکړه، چې د ۱۹مې پېړۍ تر نیمایي پورې یې ادامه ومونده).�۱۸(

په دې توګه په ټولو قبایلو کې ټولنیزه وده متوازنه وه، څرنګه چې په ۱۵مه میلادي پېړۍ کې (لودي) قبیلې دا توان درلود، چې تر اوسني افغانستان دباندې په هند کې یو دولت جوړ کړي، چې تر ۱٦مې پېړۍ (۱۴۵۰_۱۵۲٦م= ۸۵۵_۹٦۱هـ) او وروسته په ۱۵۴۵م کال سوري دولت د شېرشاه سوري تر مشرۍ لاندې په هند کې دولت جوړ کړ).۱۹(

تر دې مهاله پورې په پښتون مېشتو ازادو قبایلو کې فیوډالي اړیکو لار پرانیستلې وه، چې په ځینو قبایلو کې (قبیلوي او قومي جرګه) د خانانو د لاس اله شوه، چې وروسته غلجیانو او ابدالیانو د هېواد په جنوب لوېدیځه کې دا دود په پراخ جوړښت کې وکاراوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غورځنګ ټولنيز او سياسي شرايط:

په پښتنو کې د (فيوډاليزم) ګډوډ بهير توند قومي اختلافونه رامنځته کړل، په ځانګړې توګه چې د هند ګورګاني امپراتورۍ د قبيلوي خانانو د پړسولو او په تمه کولو له لارې دغه تضادونه زياتول او له بلې خوا فيوډالي خوی هم دا تقاضا کوله چې په قبيلې پورې اړونده ځمکه بايد د رئيس په شخصي ملکيت کې وشمېرل شي .

وړاندې په پښتنو، په ځانګړې توګه سوات کې چې په يوسفزيو پورې يې اړه درلوده د �وېش� سيستم د شيخ ملي له دفتر سره سم ترسره کېده، چې له مخې يې په ځينو قبايلو کې تر هرو پنځو کلونو وروسته او ځينو کې ۷ يا هم ۱۲ کاله وروسته بايد له سره نوی کېدای).۲۰(

خو د قبيلې خانان چې ښې ځمکې يې په واک کې وې، په دې سيستم خوښ نه وو، غوښتل يې دا ځمکې د تل لپاره د دوی شي، حال دا چې د قبيلې خلکو د دې سيستم پلوي کوله).۲۱(

لکه څنګه چې وړاندې ورته اشاره وشوه، ګورګاني شاهانو دغو اختلافاتو ته لمن وهله، طبعاً د ټولنې بېوسه خلکو غوښتل يوه چاره پيدا کړي، په همدې تړاو د خلکو له خوا د فيوډالانو پرضد د ۱٦مې پېړۍ په منځ کې يوه قوه رامنځته شوه، چې مشر يې بايزيد روښان و، چې د مذهب، پيرۍ او مرشدۍ تر سيوري لاندې يې د فيوډالي استبداد پرضد مبارزه پيل کړه .

څېړونکو څرګنده کړې چې روښاني غورځنګ په هند کې د لودي او سوري دولتونو تر ړنګېدو وروسته د افغانانو د خپلواکۍ غوښتنې مهم غورځنګ و. ځکه بايزيد روښان شخصاً د يوې قبيلې مشر و، چې دې ستر ارمان ته د رسېدو لپاره يې له تصوف او عرفان څخه د يوې درنې وسلې په توګه کار واخيست او د پرديو يرغلګرو (د هند د ګورګانيانو پر ضد يې خلك مبارزې ته راوبلل).۲۲(

په منځنيو پېړيو کې به د واکمن استبداد پرضد مخالفت د عرفان او مذهب په جامه کې څرګندېده.(۲۳) پر دې بنسټ روښاني غورځنګ د جوړښت له مخې عرفاني او تصوفي، خو د مضمون او محتوا له مخې د خپلواکۍغوښتنې غورځنګ و.(۲۴) چې د کابل رود په سرچينو کې يې مېشت خلك د استبدادي ځواکونو او واکمن فيوډالي سيستم پرضد مبارزې ته هڅول او د هندوکش په جنوب کې (له غزني تر پېښوره يې) نيمه پېړۍ نه ستړې کېدونکې مبارزه وکړه).۲۵(

ځينې شوروي څېړونکي چې د مارکسيزم او لنينزم د نظريو تر اغېز لاندې راغلي، د روښاني غورځنګ په باب يې ويلي چې له يوې خوا يې ملي ماهيت درلود، له بلې خوا يو بشپړ طبقاتي غورځنګ و، چې د مخالفينو پر وړاندې به يې په جګړه کې له مخالفو خانانو شتمني اخيستله، بيا به يې په غورځنګ کې پر ګډونوالو وېشله. په دې توګه يې عمده ملکيتونه له منځه وړل او کوچني کرنيز ملکيتونه يې زياتول).۲٦(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال دا چې د مذهبي جګړو یوه عمده ځانګړنه د جهاد اعلان او د مجاهدینو ترمنځ د غنیمتونو وېش دی، چې له طبقاتي سوچ سره هېڅ تړاو نه لري .

خو اخر د هند بابري دولت د وسلو او پیسو په زور له روحانیونو او فیوډالانو سره د یووالي په سیوري کې دا غورځنګ وځاپه، چې تر هرڅه وړاندې یې ملا درویزه ننګرهاري (چې د مخزن الاسلام او تذکرة الابرار والاشرار) کتابونو لیکوال او پیر بابا (سید علي ترمذي) په دې مبارزه کې لوی لاس درلود، چې پراخه تبلیغاتي ونډه یې وه او د غورځنګ پر مشر یې د کفر او الحاد ټاپه ولګوله، بایزید روښان ته به یې (پیر تاریك) وایه).۲۷(

روښاني غورځنګ د ګڼو خلکو هرکلی ترلاسه کړ، چې د هند بابري دولت به یې هم په وړاندې خپل غبرګون او مبارزې تېزولې، د شپاړسمې میلادي پېړۍ له پیله- کله چې بابر پر کابل واکمن شو، په ۹۱۳هـ=۱۷۰۵م کال له قوي پوځ سره یې یوځای د زابلستان پر غلجیانو ودانګل، چې د خلکو تر وژنې او د مړو له سرونو د کله منار تر جوړونې وروسته یې د هغوی رمې او نور څاروي (سل زره پسونه) ولوټل).۲۸(

بل کال ۹۱۴= ۱۵۰۸م کال اپرېدیان (د غبار په وینا مومندو) چې د بابر واکمنې یې د خپلو ګټو په زیان ګڼله او له خیبر درې څخه یې حق العبور اخیستل خپل حق ګاڼه، له بابر سره ونښتل، چې ډېرې جګړې یې وکړې).۲۹(

په ۹۲۵هـ ۱۵۱۹م کال یوسفزیو هم د اپرېدیو غوندې د بابر په وړاندې ورته چلند خپل کړ، چې څو زره غړي یې مړه او یرغمل ونیول شول).۳۰(

د اخوند درویزه په وینا د ګورګیانو د وژنو له کبله یوسفزیان له خپلو سیمو بېځایه شول، چې له ډېرې لوږې او فقر سره مخ شول، ان جې غریب خلك مړه هم شول او ښخول یې د چا په وس نه وو پوره. لنډه دا چې د ظلم له کبله زوی له مور، پلار له ماشوم او ښځه له مېړه څخه بېل شول).۳۱(

## د پیر روښان په مشرۍ د غورځنګ پیل:

وروسته تر دې چې په هند کې بابري دولت جوړ شو، د شپاړسمې میلادي پېړۍ په منځ کې بایزید انصاري (مشهور په بایزید روښان) د وزیرستان د کانیګرام سیمې اوسېدونکی د شیخ عبدالله انصاري زوی، د سراج الدین انصاري له اخلافو څخه و، چې په ۹۳۲هـ کال د پنجاب په جالندهر کې یې د بابري دولت پرضد د غورځنګ په جوړونې پیل وکړ.

ده د ځوانۍ له پیله په سیل او ګرځندویۍ، د نفس په تزکیه لاس پورې کړ، چې تر کندهار، هند، ماورالنهر او سمرقند پورې یې سفرونه وکړل، له پوهانو او د نظر له خاوندانو سره یې ولیدل، عربي او نور دودیز علوم یې زده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل، په ادب، فلسفه او تصوف کې یې مطالعې وکړې، چې د اسونو د تجارت لار یې هم خپله کړه، له سمرقند څخه به یې ښه اسونه رانیول او هند ته به یې وړل. ده دا سفرونه له ۱۵کلنۍ څخه (۹۴۷هـ-۱۵۴۰م څخه پیل کړل، چې تر ۹۶۰هـ۱۵۵۲م کال پورې یې دوام وکړ) دغو سفرونو ورڅخه جهاندیده، متفکر او عاقل انسان جوړ کړ .

بایزید روښان یو متفکر او د تصوف د ځانګړې لار خاوند و، چې ډېر مذهبي کتابونه یې هم لیکلي، لکه: خیرالبیان، صراط التوحید، فخرالطالبین، مقصود المومنین، مکتوبات روشاني او نور... چې په پښتو، دري او عربي ژبو دي).۳۲(

هغه کندهار ته د یوه سفر په ترڅ کې ولیدل چې د هندي دولت والي بیرم خان ساتندویانو یوه ښځه له وېښتو ونیوله او د هغې وېښته یې په ژرندې پورې وتړل، بیا یې وڅرخول. دی دومره اغېزمن شو، چې تر مرګه یې دا خاطره په ذهن کې پاته وه).۳۳(

د داسې یوې دردوونکې پېښې په لیدو سره دا شریف احساس هر غیور انسان دردوي، اخر یې د روښاني غورځنګ جوړېدو ته لار پرانیستله. تذکرة الانصار په دې باب لیکي: مغول مشرانو پر افغانانو ډېر ظلمونه وکړل، تر دې چې یوه ورځ یې د یوه شخص ښځه ونیوله، د سر وېښتان یې د ژرندې په پله پورې وتړل، کله چې ژرنده چالان او پل یې وڅرخېد، نو د ښځې چیغې او نارې پورته شوې)...۳۴(

د همدې سفر په ترڅ کې بایزید روښان بیرم خان ته ورغی او د خپل تجارتي کاروان د ځینو ملګرو د ورکاوي په باب یې ورته شکایت وکړ، خو چا یې په خبرو سر ونه ګرځاوه. ده هم له سوداګرۍ لاس واخیست، کله چې یې په افغانستان کې د ګورګیانو ظلمونه او تېري ولیدل، نو په دې تکل کې شو چې خلك د پردیو له واکمنۍ څخه وژغوري. څرنګه چې دی د قبیلې مشر نه و، نو د تصوف له لارې یې د دین په جامه کې هڅه وکړه خلك د مغول او سیمه ییزې واکمنۍ او استبدادي دستګاه په وړاندې راوپاروي .

نو تر پنځه کلن ریاضت وروسته یې د صراط التوحید په لیکلو لاس پورې کړ، وروسته تر دې چې یې ډېر پلویان پیدا کړل، نو ټول یې د تبلیغ لپاره د هند دربار ته (سید علي ترمذي- مشهور په پیر بابا او د هغه شاګرد اخوند درویزه ننګرهاري، دغه راز غزني او کندهار ته) ولېږل).۳۵(

دی ځکه د پیر بابا او اخوند درویزه له توند مذهبي غبرګون سره مخ شو، چې د ډیلي واکمنو هم ورسره مخالفت وکړ. (تر ۱۵۵۷م کال وروسته) پیر روښان چې د دې غبرګون اټکل کړی و، لومړني تشکیلات یې پیل کړل، خپل ځینې پلویان یې په وسلو سمبال کړل او د قوم اړو خلکو ته یې یوه خزانه برابره کړه. څرنګه چې هغه د مذهب او تصوف په جامه کې دا کارونه کول، نو خلکو یې ډېر هرکلی کاوه، د یوسفزیو قبیلې هم خپل کلنی خراج او عشر د بایزید خزانې ته ورکړل).۳۶(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اخوند درويزه په وينا، بايزيد ادعا لرله چې لښکر به جوړوي، چې هند فتحه کړي، هر څوك چې اس لري، د ډيلي پر اکبر پاچا دې ورشي او له هغه دې خزانه ولوټي، ځکه چې دا هرڅه زموږ دي).۳۷(

بايزيد په دې تصميم او احساساتو سره د هند د بابري دولت پرضد جهاد اعلان کړ، چې ډېر ژر يې ځان تر پېښوره ورساوه. د کابل بابري واکمن ميرزا محمد حکيم (د همايون زوی او د بابر لمسي) وکړای شول بايزيد اسير کړي، خو بايزيد له قاضي خان (د کابل قاضي القضات) سره د خبرو په مرسته ټول تورونه رد او پر خپلو مخالفينو بريالی شو، چې خوشې کړای شو او له کابله جلال اباد ته لاړ. له هغه ځايه (تيراه) ته لاړ، چې له څو زره کسيز پلي او سپاره پوځ سره مل يې پر جلال باد بريد وکړ(۹۷۹هـ ۷۲_۱۵۷۱م کال)).۳۸(

بايزيد چې د خپلو تبليغاتو په مرسته يې خلك د بابريانو د واکمنۍ پرضد هڅول، پوهېده چې پر جلال اباد يې بريد نه شي کولای د هندوستان واکمنه امپراتوري ړنګه کړي، خو غوښتل يې عملاً خلکو ته د خپلواکۍ لپاره مبارزه وښيي، ان که پر دې لار قربان هم شي. همداسې هم وشول، د کابل والي محسن خان د هند د ګورګاني دولت په امر د روښاني غورځنګ د ځپلو لپاره پاڅېد او د شينوارو د توراغه په جګړه کې يې بايزيد ته سخته ماتې ورکړه. روښاني ځواکونه دړې وړې شول، په خپله بايزيد روښان دنګو غرونو ته وخوت، خو په همدغو کې ناروغ او د اشنغر په کالاپاني کې ومړ. ۹۸۰هـ ۱۵۷۲م کال).۳۹(

## د غورځنګ ادامه:

د هند ګورګاني حکومت فکر کاوه چې د بايزيد روښان له مړينې سره به خلك هم غلي شي، خو داسې ونه شول، د خلکو پاڅون لا پسې زورور شو او ډېر ژر ۲۵زره پلي او ۵زره سپاره د بايزيد روښان د زامنو: شيخ عمر، نورالدين او خيرالدين پر شا و خوا راټول شول، چې د هند د بابريانو پر ضد جګړې ته تيار او پر پېښور يې بريد وکړ او د هغه ځای واکمن (حامد خان بخاري) يې وواژه).۴۰(

د هند بابري ځواك له خوا (جلال الدين اکبر) د دې پاڅون د ځپلو لپاره مامور شو، چې مومند، غورياخېل، يوسفزي، اپرېدي او ورکزي په دې دوه کلنه جګړه کې د مبارزينو په ليکه کې درېدلي وو، وروسته د هند ځواکونه د کورمان سنګ او زين خان کوکه په مشرۍ د مشرانو په ښارنې او ځپلو پسې ووتل، چې د اپرېديو او ورکزيو ځينې کسان يې يرغمل ونيول، خو د بايزيد روښان زامن ګوتو ته ورنغلل).۴۱(

د هند دولت په هر چل او نيرنګ چې و، د بايزيد مشر زوی او ځايناستی شيخ عمر سره اړيکي وغزول، چې حمزه خان الکوزی (يوسفزی) او ملا درويزه ننګرهاری د توري او قلم په ډګر کې د روښانيانو پرضد پاڅېدلي وو. روښانيان په يو دوو جګړو کې پر دښمن بريال شول، خو په درېيمه کې حمزه خان الکوزی بريالی شو، چې شيخ عمر، خيرالدين

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نورالدين د لازكانو په لاس (۹۸۹هـ ۱۵۸۱م كال) ووژل شول او د بايزيد روښان كشر زوی جلال الدين چې ۱۴كلن و، ونيول شو، چې اكبر پاچا ته ولېږل شو، خو هغوی وباښه او څه موده وروسته بېرته د خپل پلار مريدانو ته ستون شو، چې د ګورګيانو پرضد يې يوځل بيا مبارزه پيل كړه).۴۲(

په ۱۰۰۷هـ ۱۵۹۸م كال جلال الدين او نورو مبارزينو پر غزني بريد وكړ، چې د يوڅه مودې لپاره يې دا ولايت په لاس كې و، خو په ۱۰۰۹هـ ۱٦۰۰م كال په يوه تونده جګړه كې چې د غزني ولايت د هندي ځواكونو په وړاندې وشوه، جلال الدين ټپي بيا مړ شو).۴۳(

د جلال الدين تر مړينې وروسته د شيخ عمر زوی احداد د خپل اكا پرځای مشر شو، چې د مبارزانو مشري يې كوله. په ۱۰۲۰هـ - ۱٦۱۱م كال احداد پر كابل بريد وكړ، چې له هندي ځواكونو او جهانګير سره ونښت. د كابل په كوڅو كې تونده جګړه روانه وه، چې د دواړو غاړو تر تلفاتو وروسته احداد لوګر ته تر شا شو).۴۴.(

په ۱۰۲۴هـ ۱٦۱۵م كال د لوګر په څرخ ولسوالۍ كې د بابري ځواك له يرغل سره مخ شو، چې درې زره تنه مړي يې ترې پاته شول او كندهار ته لاړ. تر څه مودې وروسته بېرته راستون شو).۴۵.(

په ۱۰۲۹هـ ق- ۱٦۱۹م كال د كندهار په سنګ پوزه كې يې د بابري مغول په وړاندې سخته جګړه وكړه، چې بابري ځواكونو ته يې ماته وركړه او د هغوی ۵۰۰۰ اسونه يې د غنيمت په توګه خپل كړل).۴٦(

په ۱۰۳۵هـ- ۱٦۲۵م كال د احداد ځواكونه د (لواغر) په غرونو كې د هند د بابري ځواك تر يرغل لاندې راغلل، چې احداد په كې ووژل شو .

د احداد لور چې نه يې غوښتل د دښمن په لاس ورشي، ځان يې د كلا له برج څخه لاندې غورځار كړ او مړه شوه. د احداد مېرمنې (علايي) د جلال الدين لور چې يوه پوهه او د ښو اخلاقو لرونكې مېرمن وه، د روښاني غورځنګ د پرمخيون په برخه كې يې له خپل خاوند سره ډېره مرسته كوله، د خاوند تر مړينې وروسته له خپل زوی عبدالقادر سره تېراه ته لاړه).۴۷(

په ۱۰۳۷هـ- ۱٦۲۷م كال عبدالقادر د پښتنو د بېلابېلو مبارزو قبايلو په مشرۍ پېښور كلابند كړ، خو د مومندو، داودزيو، ګګيانو، يوسفزيو، سوريانو او خټكو ترمنځ د اختلاف له كبله ډېر ژر كلابندي د يوسفزيو او ګګيانو له خوا ماته شوه او د هند بابري ځواكونو پر افغان مبارزينو برى ترلاسه كړ، چې پېښور د شاه جهان لاسته ولوېد).۴۸.(

په ۱۰۴۳هــ- ۱٦۳۳م كال عبدالقادر او مور يې (علايي) د شاه جهان د واكمن سعيد خان له خوا ونيول شول، چې د هند دربار ته ولېږل شول، دوه كاله وروسته ۱۰۴۵هـ- ۱٦۳۵م كال عبدالقادر ظاهراً د زهرو د خوړلو له كبله ومړ).۴۹(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جلال الدين زوی کريمداد چې د دې کورنۍ وروستی سړی و، دی د بنګښ قبيلې په مشرۍ د ورکزيو او اپرېديو د هغو خانانو پرضد راپاڅېد چې د هندي دولت په خدمت لګيا وو، خو په ۱۰۴۷هـ- ۱۶۳۷م کال بنګښ قبيله د شاه جهان د پوځ له خوا ماتې وخوړه، چې کريمداد په خپله اسير او بيا ووژل شو.

دغه راز د جلال الدين زوی الهداد چې د خپل نيکه په ټولو غونډو کې به يې ګډون کاوه او ملي ډلې يې رهبري کولې، هم ونيول شو، چې هند ته ولېږل شو).۵۰(

په دې توګه د روښانيانو تر مشرۍ لاندې د خلکو ٦۰کلنې مبارزې د ۳۰ کلونو لپاره غلې وې. په ١٦٦٦م کال دوه تنه مبارزين اخند چالاك خټك او باكوخان يوسفزي د مبارزينو په مشرۍ د خپلواکۍ جنډه هسکه کړه او د اورنګزېب د ځواکونو پر وړاندې يې توندې جګړې وکړې، خو دا غورځنګ هم وځپل شو).۵۱(

دغه راز بل پاڅون د ايمل خان په مشرۍ وشو، چې د خوشال خان خټك په مرسته يې د هند د ګورګاني دولت پرضد د مبارزې لار ونيوله، چې دواړو ډېرې مېړانې وکړې او په کابل کې پر بابري والي او محمد امين په ۱۰۷۷هـ ١٦٦٨م کال يې يرغل وروړ، خو وروسته وځپل شو).۵۲(

## خوشالخان خټك او د پښتنو غورځنګ:

په پښتنو کې خوشالخان خټك (١٦١۳- ١٦۹١م کال) د شعر او ادب- هم د توري او قلم په ډګر کې جنګيالی سړی او ستر مشر و، چې ډېره زړورتيا او مېړانه يې لرله. د خټك قوم مشر او د اورنګزېب د پاچايۍ پرضد مخکښ مشر و.

خوشالخان په ۱۰۵۰هـ- ١٦۴١م کال د خپل پلار شهباز خان تر مړينې وروسته د خټکو مشر شو او تر ١۰٦۹هـ- ١٦٦۰م کال يې د هند له دولت سره همکاري کوله او د هند د ګورګاني دولت په ګټه يې په جګړو کې ونډه اخيستله، خو په ١۰۷۳هـ- ١٦٦۳م کال د اورنګزېب د واکمنۍ پر مهال له ګورګاني هند سره د خوشالخان خټك اړيکي خراب شول).۵۳(

فرهنګ ليکي: د شاه جهان زوی اورنګزېب يو متعصب انسان و، چې غوښتل يې د شريعت احکام لکه څنګه چې خپله خوښه وي په خپل هېواد کې پلي کړي. په دې ترڅ کې نوموړي ناشرعي ماليات او محصولات او د لارې محصول لغوه اعلان کړل، څرنګه چې خوشال خټك محصول اخيستل، د پېښور واکمن دی ونيو او د پاچا په امر يې دوه کاله د راجپوتانه په رنتپور زندان کې بندي کړي .

که څه هم تر ازادۍ وروسته خوشالخان خټك بيا هم د دربار له خوا د باور وړ شخص و، خو ده دا سپکاوی هېر نه کړ، چې له مغول دولت سره يې د مخالفت يوازينی لامل همدا و .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهنگ زیاتوي: په ۱٦۷۰م کال په کونړ کې ځینو دولتي سپاهیانو د ساپي قبیلې پر یوې نجلۍ برید وکړ، چې ساپیانو دا سپاهیان ونیول او ویې وژل. په دې توګه یې د دولت پرضد پاڅون وکړ، د دولت ځینې ځواکونه د دوی د ځپلو لپاره کونړ ته روان شول، چې ایمل خان مومند او وروسته خوشالخان هم له سپاهیانو سره ملګري شول، چې د ساپیانو پاڅون ډېر غښتلی شو، د جګړې په ترڅ کې خوشالخان خټک د اپرېدیو په مرسته د نوښار پر کلا برید وکړ، چې ډېر غنیمت لاسته ورغلل).۵۴(

تر دې وروسته خوشالخان خټک د هند مغول واکمنۍ پرضد له نورو پښتنو مبارزینو سره مل شو، چې قلم او توره یې راوکښل، هېوادني او حماسي شعرونه یې ولیکل:

لا تر اوسه یې ماغزه په کرار نه دي

چا چې ما سره وهلی سر په ګټ دی

هغه مهال چې خوشالخان په زندان یا په جګړو کې و، تل یې د پښتنو د ملي یووالي، ویښتیا او مبارزو لپاره د هند د زورواک دولت پرضد شعرونه لیکلي دي، چې د ژوند تر پایه د تورې او قلم په ډګر کې کرار کښېنناست.

هغه هر تېولنیز او شخصي بهیر ته د شعر په ژبه ځواب ویلی او د ژوند او وخت ټول واقعیتونه یې د شعر په هنداره کې منعکس کړي دي.

داسې ښکاري لکه دی چې له کندهاره تر اټکه د پښتنو د ملي او پراخ دولت غوښتونکی وي. خو د ده هڅې ځکه ناکامې شوې، چې په پښتنو کې یوه واحده اتحادیه نه وه، چې د هند د مغولي واکمنۍ پرضد مبارزه وکړي، په دوی کې د خانانو رقابتونه او بې اتفاقي ډېره وه، ځکه دی له شکایت او ګیلو ډکه ډک دی، ان چې له خپلو زامنو هم سر ټکوي .

له بده مرغه د خوشالخان خټک زامنو لکه بهرام هم د هند ګورګاني دولت په دسیسو وغولېد او د خپل پلار او قوم پرضد راپاڅېد. اشرف خان د خوشالخان خټک بل زوی د هند دربار ته لاړ او هورې ومړ).۵۵(

د افغان په ننګ مې وتړله توره

ننګیالی د زماني خوشال خټک یم

احتیاج د زمانې هسې بلا ده

و دلاك ته پاچا کښېنوي سر تور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر حال، خوشالخان د پښتنو ستر مبارز او نامتو شاعر دی، چې د ۷۸ کلنۍ په عمر د ۱۱۰۰_۴_۲۸هـ ۱٦۹۱م کال کې په خپل هېواد، د ختکو په غرونو کې ومړ. وروستۍ وینا یې دا وه: �ما په داسې ځای کې ښخ کړئ، چې د دښمن د اسونو د پښو دوړې مې پر قبر خپرې نه شي).�٥٦(

په دې توګه د خلکو د خپلواکۍ غوښتنې مبارزې چې د افغانستان په شرق کې د هند د بابري دولت پرضد د ۱٦مې پېړۍ له لومړیو پیل شوې، د ۱۷مې میلادي پېړۍ تر پایه روانې وې، که څه هم په شرق کې اوږدمهالې مبارزې له ماتې سره مخ شوې، خو د افغانستان په لوېدیځ (کندهار او هرات کې) دا مبارزې د ۱۸مې میلادي پېړۍ په پیل کې د افغانستان په شرق کې افغانانو ماته جبران کړه .

د ژباړې نېټه:

د زمري لسمه، کندهار،

د سورغر اوونيزې دفتر

۱۳۸۴ل کال.

سرچينې:


.1پوهاند حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان ، ۱۹۷مخ، تاريخ رياست سوات: ۴٦مخ .

.2غبار: افغانستان در مسير تاريخ، لومړی ټوك، ۲۹۴ او ۲۹۵مخونه، حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان ، ۱۹۹مخ .

.3غبار: ۲۰٦مخ، حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان ، ۲۰۷ او ۲۰۹مخونه .

.4حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان ۲۰۸مخ .

.5حبيبي: هماغه اثر، ۲۱۰مخ .

.6دا قومونه په ټوليز ډول په زابل، کندهار، هلمند، فراه او د کابل په غرب کې ژوند کوي .

.7پښتانه تاريخ کښونکي دا قبايل (بردراني) ګڼي. (قاضي عطا الله: لومړی ټوك، ۱۵ او ۲۰مخونه) .

.8دا قومونه دامانيان هم ګڼل کېږي (پورتنی اثر: ۱۵ او ۲۰مخونه).

.9غبار: افغانستان در مسير تاريخ، تر ۳۱۰مخ وروسته .

.10حبيبي: ظهير الدين محمد بابر، د ۱۳۵۱ل کال چاپ، ۱۲٦_۱۲۷مخونه، د (افغانستان در مسير تاريخ) ۳۱۰مخ سره دې پرتله شي .


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.11توريالی پښتون: پښتو ټولنه د ۱۳۵۰ل کال چاپ، ۱۷۴مخ، د غبار له پورتني اثر له ۳۱۰مخ سره دې پرتله شي .

.12تاريخ مرصع و حيات افغاني: حبيبي .

.13توريالی پښتون: مقاله: محيط اجتماعي، اقتصادي و سياسی خوشحال خان، ۱۷۵مخ .

.14توريالی پښتون: پورتنۍ ليکنه، ۱۷۵مخ، حبيبي: ظهير الدين محمد بابر ، ۱۲۹مخ .

.15حبيبي: ظهيرالدين محمد بابر ، ۱۲۸_۱۳۰مخونه .

.16محمد آصف خان: تاريخ رياست سوات، د ۱۹۵۸م کال چاپ- پېښور، ۳۱۲، ۴۲ او ۴۳مخونه .

.17شيخ بستان بړېځ: د اطلاعاتو او کلتور وزارت چاپ، مقاله: بړېځي او ښوراوك، د پوهاند عبدالشکور رشاد ليکنه، ۲۴ او ۲٦مخونه (پښتو متن) .

.18توريالی پښتون: ۱۷٦مخ .

.19غبار: افغانستان در مسير تاريخ، ۳۱۱مخ .

.20حبيبي: تاريخ مختصر افغانستان ، لومړی ټوك، ۱۳۴۹ل کال چاپ- کابل، ۵۰مخ، اسلانوف: د روښانيانو ملي نهضت، د محمد اکبر معتمد ژباړه، د پښتوټولنې چاپ، ۱۳۵۳ل کال، الف مخ، د محمد صديق روهي په قلم.

.21پورتنۍ سرچينه .

.22تاريخ رياست سوات: ۴۲-۴۴مخونه، پېښور چاپ، (پښتو متن ۱۷۲۱- د روښان ياد، ۲۰۹مخ) .

.23تاريخ ايران: د کشاورز ژباړه، تر ۱۲٦مخ وروسته .

.24د روښان ياد، د محمد صديق روهي ليکنه، د روښانيانو نهضت، لومړی مخ .

.25د روښان ياد: د ښاغلي محمد غوث شهامت ليکنه، ۳۱۳مخ دغه راز دې په همدې اثر کې د ښاغلي عطايي ليکنه هم وکتل شي، ۲۲۷مخ .

.26هماغه اثر: ۲۰۸مخ .

.27غبار: افغانستان در مسير تاريخ، ۳۱۱-۳۱۲مخونه، د روښان ياد، ۳۱۱مخ سره دې پرتله شي، دغه راز دې د روښانيانو ملي نهضت، شپږم مخ او تاريخ رياست سوات (پښتو متن) تر۵۰۷مخ وروسته متن سره وکتل شي .

.28حبيبي: د خيرالبيان سريزه، د بايزيد روښان ليکنه، د ۱۳۵۳ل کال چاپ، شپږم مخ، د افغانستان در مسير تاريخ، ۳۱۲مخ، با برنامه يا تزوك بابري، از عبدالرحيم خان خانان بن بيرم خان، د ۱۳۰۸ ق کال، سره دې پرتله شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.29افغانستان در مسیر تاریخ، ۳۱۲مخ، له (د روښان یاد) نومي کتاب له ۲۰۷مخ سره دې پرتله شي .

.30پورتنۍ سرچینه .

.31اخند دروېزه، مخز الاسلام، پېښور چاپ، ۱۹۶۹م کال، د سریزې دېرشم مخ .

.32اسلانوف: د روښانیانو ملي نهضت، پنځم مخ، دغه راز دې د روښاني یاد نومې لیکنې سره پرتله شي، لیکوال: پوهاند حبیبي او مولینا خادم، د خیرالبیان سریزه، اووم مخ، د پوهاند حبیبي په قلم .

.33د خیرالبیان سریزه: ۷مخ، غبار: ۳۱۳مخ .

.34تاریخ مختصر افغانستان : ۲۲۰مخ.

.35د روښان یاد: د قیام الدین خادم، ابراهیم عطایي، پوهاند حبیبي او نورو لیکنې .

.36افغانستان در مسیر تاریخ: ۳۱۳مخ، تاریخ ریاست سوات: ۳۷۴۹مخ، مخزن الاسلام: ۳۱۳مخ .

.37پورتنۍ سرچینه.

.38د روښان یاد: د پوهاند حبیبي مقاله، ۲۷۴مخ، افغانستان در مسیر تاریخ: ۳۱۳-۳۱۴مخونه .

.39د روښان یاد: د پوهاند حبیبي مقاله، ۳۴۱-۳۴۲مخونه، د خیرالبیان سریزه، پوهاند حبیبي، لسم مخ .

.40اسلانوف: د روښانیانو ملي نهضت، اتم مخ، غبار: ۳۱۳مخ .

.41افغانستان در مسیر تاریخ: ۳۱۳مخ .

.42پورتنۍ اثر: اسلانوف: پورتنۍ اثر، ۸-۹مخونه .

.43د روښان یاد: ۸۲، ۲۱۰او ۳۱۳مخونه او اسلانوف: ۹مخ، غبار: ۳۱۴مخ .

.44تاریخ مختصر افغانستان : ۵۹مخ، اسلانوف: نهم مخ .

.45غبار: افغانستان در مسیر تاریخ، ۳۱۴مخ .

.46تاریخ مختصر افغانستان : ۱۹۲مخ، اسلانوف: لسم مخ .

.47هماغه اثر: دغه راز د روښان یاد: ۸۵-۸۶مخونه، تاریخ مختصر افغانستان : ۵۹-۶۰مخونه .

.48غبار: هماغه اثر، ۳۱۴مخ، د روښان یاد: ۸۷مخ، اسلانوف: لسم مخ .

.49غبار: ۳۱۴مخ، اسلانوف: ۱۱مخ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



.50پوهاند حبيبي: هماغه اثر، ۲۳۰مخ، اسلانوف: ۱۱مخ، غبار: ۳۱۴مخ.

.51غبار: ۳۱۳-۳۱۴مخونه .

.52هماغه اثر، هماغه ځای .

.53خوشحاليات: راټولوونکی ختڼك عقاب، د ۱۹۷۵م کال چاپ- پېښور۳-۵مخونه، د اسلانوف له روښانيانو ملي نهضت نومي اثر له ۲۹مخ سره دې پرتله شي .

.54فرهنگ: افغانستان در پنج قرن اخير، لومړی ټوك ٦٧مخ .

.55غبار: ۳۱۴مخ، اسلانوف: ۳۰ مخ .

.56معصومه عصمتي: خوشحال ختڼك کيست؟ د ۱۳۳۴ل کال چاپ، ۲۸۰۳۴مخونه، غبار: ۳۱۵مخ.

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**